# بنګړیواله

Ketabton.com

وړمه سبا عامر

(c) ketabton.com: The Digital Library



)۱(

درنامخې ته قلم اوګې شمېرسپين کاغذونه پراته وه ــ خودځو کاغذپاڼوسپين مخونه قلم په خپل تور رنګ تورکړي وو ــ درنا خواته دميزدپاسه ټيليفون ايښی و، رنا اوس په کوټه کې يوازې ناسته وه هغه خوشحاله مالومېده نن يي دزړه غوټه ورته خلاصه ښکارېده ــ

تورشوي کاغذونه يې راواخيستل اويو وار بيا يې له نظره تېرکړل ، ځان سره موسکۍ شوه ، په سپين تندي باندې راپروت خورپېکی يې په لاس باندې شاته واړاوه ــ هغې اوس په ځيرسره تورشوو پاڼوته کتل اوموسيدله ــ

بې بي نن په کورکې نه وه، دنژدې ګاونډي کره تللې وه ــ هغې ته ځلا ورپه زړه شوه ، له لنډ سوچ نه وروسته يې دځلا دټيليفون شمېره ډايل کړه خو کمپيوټر ځواب ورکړ ــ داعمل يې څو وارې تکرارکړ خوکمپيوټر په يوشان ځوابونه ورکول ، دلته ارمان ورغی چې کاشکې دځلا کوردلته نژدې وای ورغلې به وه اوداخپل ليکلی نوی نظم به يې ورته اورولی و ــ

ناڅاپه په ديواله باندې يې دبريښنا په ځوړند شوي عکس سترګې ولګېدې او بل سوچ ورسره پيداشو ــ راځه بريښناته به ټيليفون وکړم اودانوی نظم به ورته واورم ــ

دبريښنا شمېره يې زړه نازړه ډايل کړه ، زنګ لاړ خو زريې ټيليفون بندکړ، له خپل هوډ نه واوښته ، ورپه زړه شو چې بريښنابه يې تل په نظمونوباندې مسخرې کولې ، ورپورې به يې خندل ــ رنا لنډه شېبه سوچ کې لاړه دښوونځي ملګرې ښوونکې ورمه يې ورپه زړه شوه ــ وږمه اوزرمينه دواړه ورسره ښوونځي کې ښوونکې وې اوله رناسره دهمکارۍ نه وروسته ډېرې ښې ملګرې هم وې ــ زرمينې کې لويه ستونزه داوه چې هغه دري ژبې وه اوبل لوی مشکل يې داوچې له شاعرۍ اوليکوالۍ سره يې له سره جوړه نه وه ، خودوږمې بيا د شعرونواوکيسوسره لګيده ، پخپله شاعره اوليکواله نه وه خوډېرېې خوښيدل چې له دې ډلې خلکوسره ناسته پاسته ولري ، اوپه خپل کورکې يې يوه وړه الماری درلوده اوپه هغه کې يې دډېروليکوالواوشاعرانومجموعې راغونډې کړې وې ــ وږمه په رنګ دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلې نه وه توره سکڼه رنګ يې و، له ونې نه هم ډېره لنډه وه ــ ننوتلې سترګې يې وې ګردۍ غونډه پوزه يې وه خوسپين غاښونه اوشونډې يې لږ څه ښکلې وې ــ کله به چې په خنداشوه نوښکلې اودپام وړخندايې درلوه ــ په وړمې کې لوی صفت داوچې څوک به يې له ځانه نه خفه کول اوکله به چې رڼا ورته غوسه شوه نوپه خندا خندابه يې تېر وله اوتل به يې درڼا شعرونه په غورسره اورېدل ــ اورڼا به يې په واه واه خوشحاله کوله ــ رڼا هم دنوروښوونکوپه مخ کې خپل شعروړمې ته نه اوراوه ، په ښوونځي کې دتفريح په ساعت کې به دښوونځي په انګړکې ديوې ونې دسيوري لاندې سره کښيناستل اوشعربه يې سره واورېده ــ اودواړوبه ورڅخه خوندواخېست ــ

اوس چې دجولای مياشت وه اودپېښور ټول ښوونځي رخصت وو، اوله بلې خوا وړمې هم په کورکې ټيليفون نه درلود ــ رڼا مجبوره وه چې خپل نظم درخصتۍ ترپايه پورې وساتي اويا به کومې ورځ پاڼې يامجلې ته يې ورکړي ترڅو ډېر لوستونکي په يو وار درڼا نوی نظم ولولي ــ

دوړمې لرېتوب اودځلا نه موجوديت نوردرڼا لپاره دزغم وړنه و، ځان يې ډېريوازې احساس کړ، زړه يې راډک شو

اوښه يې وڅڅل ، سوړاوسيلی يې وويست ، اوښکې يې پاکې کړې ، له کوټې راووته دباندې يې وليدل چې توره بنګړيواله خونه ښکاري نن هغه هم درڼاله بدقسمتۍنه خدای خبرپه کوم کورکې ورکه وه ــ رڼاته تربرېښنا توره بنګړيواله ګرانه وه، تل به له رڼا سره لوبېدله - هغې هم کله کله درڼا کيسوته دوړمې په شان غوږ نيوه ، خوتوپيريې داو چې وړمې به په ځيرسره غوږنيولی و اودرڼاپه نظمونواوکيسوبه يې کره کتنه کوله خو توري بنګړيوالې ته به رڼا دخوراک يوڅه ورکړل نوبيابه هغه په خوراک لګيا وه اوترڅنګ به يې درڼا نظمونوته هم داسې ښکارېده چې پام يې دی ــ

رڼا خپل ليکلي نظم ته وکتل ، په سوچ کې لاړه، لنډه شېبه وروسته له ځايه پاڅېده اوتشناب ته لاړه ، مخ ته يې اوبه واچولې ، خپل ويښتان يې منظم کړل اوخپل سينګارميز مخې ته ودرېده اوخپل نظم يې په لوړ اوازولوست اوبيايې دخپل نظم کره کتنه وکړه - وروسته يې قناعت حاصل شوچې ښه نظم يې ليکلی اوکه دکوم ورځ پاڼې اويا مجلې مسول مديرورته تيلفون وکړي نودچاپ لپاره به يې ورکړي ــ

(c) ketabton.com: The Digital Library



..................................

)۲(

بي بي تلويزيون ته ناسته وه ، په تلويزيون کې داردوسرويس خبري چينل کې دعراق دجګړوپه هکله راپورتاژخپرېده . بي بي چې دومره په اردونه پوهېده وارپه واربه يې له رڼا نه پوښتنې کولې . اورڼا به هم ورته خبرژباړه - بي بي توبې ويستې دچايو پياله يې مخې ته ايښې وه له يوې خوانه پرې خولې راماتې وې له بلې خوانه يې تودې تودې چاى څښلې . له هغې سره تل دامفکوره مله وه چې ګرمي په ګرمي باندې لرې کيږي ، نودايي عادت وچې په ګرمی کې به يې دسړواوبوپه ځاى تودې چاى ډېرې استعمالولې - دعراق راپوتاژ خلاص شو دکراچۍ په ښارکې ځوورځې مخکې يوځان وژونکی بريدشوی و، چې په دې اړه بله تبصره خپره شوه اوس بيا دتلويزيون په پرده کې مړي اودحملې ځاى راښکاره شو، بي بي بيا خپلې توبې تکرارولې رڼا موسکۍ شوه نوريې زړه راتنګ شو وې ويل : بي بي نن خودې په توبوخوله خلاصه کړې الله دې خېرکړي...

-زويه نه وينې قيامت دی قيامت هرچېرې همدامسلمانان دي چې درګرده وژل کېږي-

رڼا چينل بدل کړ اودسندروچينل يي راواړوه په خندايي ورغبرګه کړه : . نوواخله له دوزخ نه به ووځو جنت ته به لاړشو نن خوله سهاره دبي بي خوله په وی وی خلاصه شوې وه اوله کومه ځايه چې دګاونډيانوله کوره راغلې وه همداپه يوه خوله په وی وی وه - دشېرينودلورکوژدنې حيرانه کړې وه دصفيې جوړو اودهلک عکسونو چې له جرمني نه يي راليږلي و بي بي خواره کۍ يې سربداله کړې وه په ګيله يي مخ رڼا ته ورواړوه : توبه خدايه زما خوهم دوې لونې دي چې په ليدوېې څوک نه مړيږي دخلکوځنګه ښه قسمتونه دي دشيرنيۍ لورصفيه ګۍ خووالله که يي دبوسو دبوجۍ په بيه يي هم واخلمه داسې هلک ته يي ورکړې چې په ديدن يي څوک نه مړيږي رڼا ته دبي بي داخبره نوې وه ژرېې له بي بي نه وپوښتل : څه صفيه يي ورکړې چاته ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



-والله ! زه يي كورته ورغلمه نوموريې سمديستي يې جوړې راواخيستې اوتلويزيون ته يي دهلک فلم واچوه زه خوپوشومه چې خپله لوريې وختي ورکړې ده خوله مونږ نه يي خبره پټه کړې وه اوس يي ښکاره کړه دې کم بختې داپکر يي کاوه چې دلور ريبارانې به يې  مونږ له لارې راګرځوو.

دبي بي په دې خبرې ړنا ته خندی ورغی دبي بي دتسلۍ لپاره يي وويل : ځه ځه هرڅوک خپل قسمت خوري بريښنا به ترما ښه قسمت ولري اوزه به ترهغې ته ولې خپل زړه خورې کراره کېنه رڼا ته دصفيې دکوژدنې او دشاوو دعکسونودلېدلوتلوسه په زړه کې ورپېداشوه نودبي بي نه يي دهغوی کره دتلواجازه وغوښتله خوبي بي ورته دتګ اجازه ورنه کړه:

-سبا به وايي چې دجاسوسۍ لپاره راغله ، پلټنې يې کولې چې کوم مجردليورلري اوکه نه دځان غم پسې اخيستې وه کراره دې په ځای کينه په بلايي وهې . بنګړيواله راغله اودبي بي په زنګانه يي خپل سرموښه هغې له ځانه وشړله اوپه غوسه يي رڼا ته وويل : يوخوله پېشوبازۍ نه لاس نه اخلې ټوله ورځ ته يي اودابنګړيواله-

-نوڅه وکړم جمال مساپراوبريښنا مساپره خپل اوخپلوان لرې دصفيې دوی کره موته نه پرېږدې ښوونځی مې رخصت اوس دې زړه دی چې دبنګړيوالې په ځای پرتا لاس راکش کړمه اوتاونازومه بي بي ته درڼا په دې خبره اوحاضرځوابۍ خندی ورغی خپل سريي وشوراوه ا ووې ويل:

ـــتوبه توبه  ! خدای دې ځوانيمرګه که ! دبي بي خدای خبرچې په زړه کې څه ورتېرشول ځان سره يې شکر وويست شکرده چې ته خوراسره يي کله خپه کله خوشحاله-

(c) ketabton.com: The Digital Library



)۳(

رڼا بیا قلم اوکاغذ راخیستي و ، چې یوڅه ولیکي - داځل یې نظم نه لیکه ، زړه یي وچې کومه لنډه کیسه ولیکي - درڼا عادت وچې کله به یې څه لیکل ، غوښتل یي چې یوازې اوسي اونه یي غوښتل چې دلیکلوپه وخت کې دې بي بي ورسره خبرې وکړي اویادهغې پوښتنې ته ځواب ورکړي - بي بي یې هم په دې عادت باندې پوهېده - رڼا چې به کله هم کاغذاوقلم راواخیسته نوبي بي به هیڅکله ددې په کارباندې غرض نه کاوه اوپرېښودله به یي چې په ارامواعصابوباندې خپله لیکنه وکړي - په دې جریان کې به دکورتیلیفون ته هم بي بي ځواب ورکاوه .ړنا په لیکنې باندې مصروفه وه چې په تیلیفون باندې زنګ راغی ، بي بي غوږی پورته کړه:

هلو ـ ـ ـ

-درڼا جانې کوردی ؟

-هو ، ته څوک خبرې کوې ؟

-زه شریف مېړنی له ابادۍ رادیونه ، رڼا جانه شته ؟

بي بي د تیلیفون غوږۍ لاس کې ونیوله اورڼا ته یې اشاره وکړه - رڼا ورغله بي بي ورو ، ورته په غوږ کې وویل - شریف مېړنیـ ـ ـ

-هلوـ ـ ـ

-بلې رڼا جانې تاسویاست ؟

-مهرباني وکړئ !

-رڼا جانې ستاسونمبروګړپال صیب راکړی و، کېدای شي درادیودکارپه اړه یې تاسوته څه ویلي وي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



-بلې هو ! تاسوڅه وخت له کابل نه راغلي یاست ؟

-زه خوپه کابل کې نه یم ، دلته لیلیه کې ژوندکوم اوله همدې ځای نه مې راپورونه لېږمه - هو ! رښتیا وګړپال صیب ستاسوپه اړه راته ویلي و ، چې تاسوپه پښتو ، دري اوانګلیسي ښې خبرې کولی شئ ، زمونږ په رادیوکې یوې سیمه ایزې خبریالې ته ضرورت دی-

ــوالله څه ووایم ، دري اوپښتومې ښه دي خوپه انګلیسي کې ګوزاره کومه ، ماته وګړپال صیب ویلي و ، خوزه به سوچ پرې وکړم-

ــسمه ده ، زما نمبرخودرغی ، ځان سره یې ثبت کړئ بیا به ماته تیلیفون وکړئ -

رڼا ورسره خدای په امانې وکړه ، کله چې رڼا غوږۍ کېښوده ، نوبي بي سمدلاسه ورڅخه وپوښتل:

- دامېږنی ، لاپسې څوک دی ؟

-هېڅ .. هسې دابادۍ رادیوخبریال دی ، پرون وګړپال صیب راته تیلیفون کړی و، چې په دې رادیوکې کومې سیمه ایزې خبریالې ته ضرورت شته ، راته یې وویل که ته پکې کارکوې ، نوستادکورنمبربه ورته ورکړمه ، زه یې په دې زېرې ډېره خوشحاله شومه اوورسره مې ومنله - رڼا نوره له معلمۍ نه ستومانه شوې وه ، څېله یې دژورنالیزم له مسلک سره ډېره مینه درلوده اوډېروخت یې له بیلا بیلو مجلوسره ، کارهم کړی و- بي بي ته هم معلومه وه چې په رادیوګانوکې ترمعلمۍ اومجلونه معاشونه ښه وي - اکثرې رادیوګانې په ډالروکې ښه ښه معاشونه لري ، نوپه موسکه خوله یې رڼا ته ورغبرګه کړه:

-ښه . ښه ده ، پس له دې که خدای کول ډالرې به اخلې ، دبریښنا او جمال له سیروم نه به خلاص شو، چې په یوډالربانديې مولس وارې رتیې ، خو دځینومجلوغوندې نه وي چې کیسه به دې چاپ کړه اوبیا به یې پېسې نه درکولې ، ښه ځواب یې درته پېداکړی و، چې داخوپښتوته خدمت دی-

رڼا نوره دبي بي له ببولالوڅخه سترې شوې وه ځواب کې یې وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ښه ده مونږ خو پښتوته هم خدمت کووخوځيني خواران داخدمت هم نشي کولای-

بي بي ترموزته لاس وړاندې کړاو زياته يي کړه:

-راوړه ، چای ، ځانته ناسته يې چای خورې ، يوازې دې همداپېغورونه زده دي اوبس .....بلا وهلې يې نورې ليکوالې وګوره چې کوموځايونوته رسيدلي دي ، دستکولونه يې له ډالرو ډک دي ، دتا يوهمدې خبرې ته پام دی چې ماته مخ راواړوې اوځوابونه راکړې - ښه درته وايمه بيا به دې څوک وغولوي ، لکه دهغې بلې راديوپشان-

ړنا پوهېده چې بي بي بيا دګاونډي کره تللې اودصفيې موربه يې غوږونه ورډک کړي وي اويابه يې جمال که بريښنا په خوب ليدلي وي ، چې دادرديې له ـ ـ ـ نه ، ونه باسي کله به په کراره شي، نوڅه ماغزه به ورسره وخوري اوخبره به پسې اوږده کړي-

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



)٤(

رڼا دمیرڼي له تیلیفون نه خوشحاله وه اولاس په دعاوه چې خدای دې یې په دې رادیوکې کاروکړي هغې انګېرله چې له بلې خوانه رادیوددې فرهنګي کارونولپاره هم مناسب ځای دی او دې کولای شول چې درادیودکارونوترڅنګ خپل فرهنګي چارې هم په ښه توګه پرمخ بوځي یوځل یې په زړه کې ورتېرشول چې راځه نن خپله ملګرې زرمینه هم په دې خوشحالۍ کې راشریکه کړم اوتیلیفون به ورته وکړم خو زړه یې ، بې صبره شو تیلیفون یې راواخیست اودزرمینې دکوردنمبر په دایلولوکې شوه - دزرمینې دکورنمبریې دایل کړ، زنګ ولاړ مخکې له دې چې دریم زنګ لاړ شي ناڅاپه رڼا تیلیفون بندکړ - خدای خبرزړه ته یې څه وروګرځېدل هغه تېره رادیویې ورپه زړه شوه چې په هغې رادیوکې یې هم یوڅه کاربشپړشوی و، خوپوک لیکوال تره کي او شوخ شاعر هدایت هدایت یې پېښې وروهلې اوهمداسې یي کارنیمګړی پاتې شو- هدایت هدایت چې تردولسمه یې زد کړې کړې وې اویونیم ګوډومات کتابونه یې په خیراتي پېسو چاپ شوي و، اودهمدې کتابونوله امله یې په دې رادیوکې یونیم ځای ګی نیولی و ، شاعري یې هم چندان دپام وړنه وه خودیارانې په جوړولوکې ښه پوره تکړه و ، دنجونوپه لوبولوکې یې پوره لوی لاس درلود،دښاردهرې ځوانې نجلۍ سره به دده دتیلیفون نمبرموجودو که څه هم واده یې دمینې په اساس ترسره شوی و خوداچې پس له واده نه ولې خپلې مېرمنې ته وفادارنه وپاتې په دې باندې تراوسه څوک نپوهېدل- دهدایت هدایت یوبل خراب عادت داوچې کله به یې څوک لاس ته ورنغلل بیابه یې لاس په ډنډورو ، پورې کړ بې ځایه خبرې اوتورې سپورې به یي په خوارونجونواوښکلومېرمنوپسې کولې ، دهدایت هدایت ددې لارې ښه انډیوال پوک لیکوال تره کی صیب و، که څه هم تره کی ترهدایت هدایت په عمرکې مشر و خوتل په دې لاروچاروکې د هدایت هدایت صلاح کار وزیر پاتې شوی و ، اودهغه په سلااو مشور به یې یوکارترسره کاوه - کله کله خوداسې به هم وشو چې دوی دواړوبه یوځای په یوې نجلۍپسې منډې وهلې چې کله به یوه وارترمخه کړ بیا به یې خپل پاتې شونۍ بل ته ورکاوه ترڅوهغه پرې شخوند ووهي - تره کی به تل دهدایت هدایت په پاتې شونوشخوند واهه اووروسته به یې ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروشانې یاده کړه او هغه هم هله چې ښه پوره بلانوشي به یي کړې وه - اوپه ځانونو به نه پوهېدل نوهدایت ته به یې وویل:

-هلکه پرون دې پاتې شونې راته داسې ترسترگوکېده لکه دسرو شرابو یو جام-

هدایت به په خنداکې وویل:

-ځه ! غرق شې ، ټول عمر بېغمه ناست یې او ټوله خواري پر ما وي ،خبر نه یې چې د پښتو په وطن کې دا ډول شراب څومره په گرانه لاس ته را ځي -

رڼا هدایت هدایت له ډېرپخوانه پېژانده - دخپلې شاعرۍ د لومړیوکلونونه ، له هاغه وخته چې رڼا لاپه اوم ټولگي کې وه اودشاعرۍ لومړي کلونه یې و - رڼا په ځوانۍ کې ښه وه ، بده ځواني یې نه درلوده - هدایت هدایت هم ورپسې ډېرې منډې وهلې وې خورڼا ورته نیوی نه و ورکړی - همداوجه وه چې هدایت به کله رڼا ولیدله نوپه زړه به یې اوربل شو اوپه ببولالوبه یې لاس پورې کړ ،اوزړگی به یې ښه تش کړ ،اوس نوددوی دډلې بل لاروی پلټونکی هم په دې ابادۍ رادیوکې نیغ ناست و- پلټونکی یې لکه ازغی نېغ نېغ ترسترگو کېده رڼا ځان سره وویل : لویه خدایه ! داد مرداري نالۍ چینجیان هرچېرې خواره واره دي زه به کله دلته مقرره شمه که دامردار پلټونکی راخبرشو ، داوارې به مې هم کشتۍ په اوبوکې لاهوشي - دی هم دتره کي اوهدایت ملگری دی په یوه جام کې یې سره څښلي - مېړنی به مې کارمخ ته کړي اوپلټونکی به پکې ډکي رامات کړي بیا دتېرواري پشان به زرمینه اووړمه به مبارکۍ راکوي خوزه لامقرره نه یمه همداوجه شوه چې زرمینې ته یي له ټیلیفون کولونه ډډه وکړه-

دماښام له ډوډۍ خوړلواودماسخوتن له مانځه نه وروسته دپخواني عادت له مخې په خوب ځای کې کله چې بي بي خپل سر په توردستمال باندې تاړه رڼا ته یې وویل:

-وه نجلۍ ! پام کوه دنیا ډېره ظالمه ده ، څوک دې دوکه نه کړي ، په کومه بلا وانه وړې ، بیا به دې ورور اوخورته څه وایمه هغوی به راته وایي چې دومره وړې خوهم نه وې پاتې چې نجلۍ دې په کارمجبوره کړه-

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا چې دتلویزیون ریموټ کنترول یې په لاس کې نیولی واوخپل دخوښې فلم یې لټه ، موسکۍ شوه ورغبرګه یې کړه:

-نه بي بي ! دومره بې علقه هم نه یمه دچا ګمان دې راباندې کړی اونه مې څوک غولولی شي - ماته وګړپال صیب وویل اوبل داچې وګړپال هم بې ځایه چاته تلیفون نه کوي ته بې ځایه زړه خورې-

بي بي چې په خپل خوب ځای کې اوږده غزېدلې وه اوځان سره یې ایتونه تېرول درڼا په ځواب کې یې وویل:

-خوښه دې زه دې څه کوم اخرزه دې هم موریم که مې راوړې نه یې ترخپل اولاده راته کمه نه ښکارې په تاخومې بدنه دي پېرزو-

رڼا دلومړي ځل لپاره دبي بي له خولې نه په داسې مهربانه اندازکې داسې خوږې خوږې جملې واورېدې منډه یې ورواخیسته اوڅنګ ته یې ورغله ، بي بي یې په غېږه کې راټینګه کړه اوپه دواړه خوایې ښکل کړه بیایې ورغبرګه کړه:

-ماته هم دخپلې مورپشان ښکارې - ماهم ترخپلې مورکمه نه یې ګڼلې ، زه خوستاپه غېږه کې رالویه شوې یمه داچې کله کله خبرې درګرځومه په دې معنی نه ده چې احترام دې نه لرمه داخوزما نازدی زه پوهیږمه چې پرتابده نه لګیږي -رڼا په ماشوم توب کې خپله مورله لاسه ورکړې وه اوبي بي یې دویمه موروه درڼا پلاردرڼا مورسره دمینې په اساس واده کړی و - بي بي دوه لوڼې اویوزوی درلودل چې درڼا له مورسره یې واده وکړ بیا بي بي له همغې ورځې نه قسم وکړ چې بیا به ترمرګه پورې دخپل مېړه سره په یوبالښت سرکې نږدې اوهمداسې یې هم وکړل درڼا له پیداکېدونه لاشپږمیاشتې تېرې نه وې چې په هیوادکې دکورنۍ جګړې له امله یوتوغندی درڼا دپلارپه کور ولګېده چې په پایله کې یې درڼا موراودرڼا مېرنۍ خورخپل ژوندله لاسه ورکړ اورڼا بي بي ته راپاتې شوه - دوه کاله مخکې درڼا پلار هم دزړه دناروغۍ له لاسه ومړ-

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا پلارپه ډېره مينه رالويه کړه اوبي بي يې هم په تربيت کې کمی ونه کړ ، خوله رڼا سره يې لړ لړ رخه وه هغه په دې چې رڼا تل پلار تربريښنا اوجماله ځانته نږدې کوله اونازوله به يې - نوهمداوجه وه چې رڼا سره به دبي بي په زړه کې رخه راپيداکېده-

...........................................

ځم څپر کی

شريف ميړني تراوسه درې ځلې له رڼا سره په تيليفون خبرې کړې وې اودرڼا غږ خدای شته چې په ميړني باندې ښه لګېدلی و . ميړنی داوه ويشتوکالوځلمی و اوسږ کال يې دماستری ددورې وروستۍ کال و ميړني په ژورناليزم کې ماستري اخيستله - دماستری‌د دورې وروستۍ ازموينې ته يې لنډې شپې اوورځې پاتې وې اوده هم ورته تراوسه داسې پوره اماده ګي نه وه نيولې - ميړنی دخپل موراوپلارېوازنی زوی و، تراوسه يې واده نه وکړی ، مورې يې هيله درلوده چې دماستری له اخيستو وروسته به خپل زوی ته کوژده او واده کوي - داسې واده به ورته کوي چې په ټول ولايت کې يې نوم پاتې شي . ميړنی په ختڼه اڅکزی و خولوی شوی دکنړ په خاورې باندې و- اصله کيسه خوداوه چې دميړني موردزوی له برخې نه خدای بې برخې کړې وه ، دوه لوڼې يې وې چې مېړه يې دماموريت په وجې دکندهارولايت دبولدک سرحدي سيمې ته بدل شو اوکډه په شا ، بولدک ته ولاړ- په کنړ کې يې ښه ځمکه اوکلاه درلوده ، يوازې يوشی يې چې په ژوندکې کم و هغه دزوی نه درلودل و - له بلې خواه نه ښځه پرې ډېره ګرانه وه - ددې ترڅنګ دتربورانو دپېغورونودخلاصون لپاره هم يوڅه کول پکارو، بولدک کې يې يوکال تېر وچې دقسمت ستوری يې راوخوت اوخدای داتوره شپه پرې رڼا کړه - يوه ورځ يونژدې ملګري يې ميړنی ورته راوړ اودډېروپېسوپه بدل کې يې پرې خرڅ کړ - ميړنی چې دځلوروشپوماشوم و، دميړني په راتګ سره دپلارژونديې نورله ناهيلو اوغمونو څخه خلاص وشمېرل شو- نودښځې په مشورې سره سم کډه په شا بېرته کنړ ته راستون شو اوپه خپل کلي کې يې اوازه ګډه کړه چې خدای پاک ښه برغنډی زوی ورکړی - په کلي کې يې ديګونه بارکړل ، خيراتونه يې وکړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوخپلوپردیوته يې ښه په مړه ګېډه ډوډۍ ورکړه -دانقلاب په لومړي کال باندې دکورنۍ جګړې له امله چې میړنی لاددرېو کالوماشوم و، چې له خپلې کورنۍ سره پېښورته رامهاجر شو - میړنی نورهم ځوقدمه له اځکزو اوبولدک نه رالرې شو- په پېښورکې دمیړني مورته خدای بله لورهم ورپېرزوکړه -

میړني خپلې زده کړې په پېښورکې په پاکستاني مکتبونوکې پای ته ورسولې اوخپلې لوړې زدکړې یې هم دپېښور په ینورسټۍ کې دادي ترسره کوولې - په دولسم ټولګي کې و، چې پلاریې ېېرته کنړ ته لاړ اودمیړني لپاره نوره هم سخته شو ه - یوه پښه یې په کنړکې وه اوبله پښه یې په پېښورکې - کنړکې لاکال پوره نشو چې پلاریې دیوې سختې مريضی له امله مړشو اومخکې له مرګ نه یې میړني ته داخبره روښانه کړې وه چې دی یې رضایي زوی دی - دمیړني موراوپلارورته معلوم نه دي ، خود هغه انډیوال نوم ورته معلوم دی ، چې دی یې پرې خرڅ کړی و، اوله میړني سره یې داوعده هم کړې وه چې ددولسم ټولګي له ازموینې وروسته به ورسره یو، واربولدک ته ځي اوله خپل هغه ملګري سره به ګوري - په هغه کال باندې ازموینه بل شانته ازموینه وه، داسې شپې اوورځې پرې راغلې چې دمیړني په ژوندباندې یې لوی اغیزوکړ - میړنی کله دومره په بخت بیدارو ، چې خپله ورکه کورنۍ بېرته ترلاسه کړي ، کله چې له ازموینې نه راستون شو ، دپلاردفاتحې په ګیلم کښېناست اوپلاریې هرڅه په خپل زړه کې دخاورې زړه ته کښته کړل -

بیاچې میړني هرڅه کوښښ وکړ ترڅودمورخوله خلاصه کړي اوحال ځانته معلوم کړي خومور یې ورته وچ قسم وکړ چې دابېولالې درواغ دي ، پلاردې په دې وروستیوکې خپل عقل له لاسه ورکړی و، اودیوه کاله نه راپه دې خوایې اوتې بوتې ویلې –

میړنی هماغسې کنړی پاتې شو ، بولدک نودخدای بولدک و اوداځکزوقوم هم دخدای لوی قوم و اوس نومیړني ته دخپل ځای اوټاټوبي پېداکول اسانه کارنه برېښېده - دزوکړې کال یې هم خدای بخښلي پلاریې غلط لیکلی و، دې خبرې اوس دمیړني دځوانۍ شپې او ورځې خرابې کړې وې - تراوسه یې دزړه غوټه چاته نه وه خلاصه کړې هرماښام به یې له ډوډۍ خوړلوڅخه وروسته ټوله شپه یې دخپل مورپلار اودوستانوپه اړوند سوچونه کول - له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې نه وروسته له مورسره يې نه لګېده اوکلي ته هم لږ لږ ته ، کوراوکلی ورته پردي پردي ښکارېده ، دې خبرې به تل زوراوه ، ورپه زړه به شوچې کله ماشوم و اوپه کوڅه کې چې به يې دکلي له نوروماشومانوسره لوبېده اوکله کله به يې چې دکوم ماشوم سره جنګ شو او څوک به چې دده له لاسه کورته په شکايت راغلل نومور، اوپلاربه يې څومره وډباوه اوکه دوړې خورليلا چې ډېره ورانه وه څوک په شکايت راتلل نوموربه يې دخپلې لورننګه کوله اوهمداراز په اخترونوکې به ده ته ترخويندو کمې اختريزې موراوپلاريې ورکولې اولږه توجه به يې ورته کاوه - اوس دسينما دپردې پشان دکورنۍ هر عکس العمل يې دده مخې ته په ذهن کې تاوېده راتاوېده اوتل به يې شپه په ژړا رونه کوله ، زړه يې غوښتل چې دزړه خبره دچاسره شريکه کړي ،

اودزړه غوټه خلاصه کړي خوداسې څوک يې نه موندل چې دده زړه پرې اوبو وځښي ،

---------------------------

شپېږم ځپر کی

ددوشنبې ورځ داګست دمياشتې پنځه ويشتمه وه - هوا اوس هم لاګرمه وه ، خلک دګرمۍ نه په کوټونوتلي و ، اوچتې پکې هم ښې مظبوطې چلېدې - دپېښورپه کوڅوکې دهرې ونې د سيوري لاندې دوه درې سپي ګنګس ګنګس پراته به ول ، تابه سوچ کاوه چې په دوی کې نوره دمه نشته ، دګرمۍ دزرورې جټکي دخلاصون لپاره لاډېرې ورځې پاتې وې -

رڼا دغرمې ډوډۍ خوړلې وه اودډاکټر مجاوراحمد زيارناول ((مينه دزړه په وينه ))يې کوت ، بي بي هم نوی دماپښين لمونځ خلاص کړی و، هغې رڼا ته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــزويه زه به لږه وېده شمه ، که تلويزيون دي کوت بيايې غږ ډېر مه لوړوه چې ماښام مې دګرمۍ دلاسه ترسهاره سره سترګي نه دي ورغلي ، که بريښنا اويا جمال تيليفون راوکړ نوبه مې راويښه کړې - جمال اوبريښنا دواړه په استرليا کې و ، جمال واده کړی و، دخپلې دمامالورسره چې هغه له خپلې کورنۍ سره استرليا کې اوسېده – او ، له کوژدې وروسته يې جمال هم ورغوښتی و ، اوس يې يوه لورهم درلوده اوبريښنا تراوسه پېغله وه جمال اوبريښنا يوځای نه اوسېدل ، په بيلا بيلوښارونوکې سره اوسېدل - رڼا خپلې مورته ښه کړه اوبېرته يې خپل سوچ راټول کړ اودکتاب په لوستلوبوخته شوه - ساعت دماپښين يوه نيمه بجه وه ، دبي بي سترګې سمې سره نه وې ورغلې چې په تيليفون باندې زنګ راغی ، رڼا سوچ وکړچې يابه جمال وي اويا بريښنا ، بي بي ژرپه خپل ځای کې نېغه کښېناسته ، رڼا هلوکړ، له هغې خوانه ميړنی و ، درڼا له سترمشې نه بي بي پوه شوه چې دجمال اوبريښنا تيليفون نه

دی بيرته يې سرکېښود - ميړني رڼا ته وويل :

ــرڼا جانې ! که نن وخت لرې نويوځل به راشي چې له نژدې نه درپوهـ په اړه وږغيږو، څنګه خوښه موده ؟

-ولې نه ! زه به درشم ، دادزړه انديښنه به مې هم خلاصه شي خوزه به تاسوڅنګه وپېژنم ؟

درڼا په دې خبرې ميړنی ته خنداورغله اويوه مستانه خندايې وکړه اوبيا خپل دجامو نښه اودخپلې څېرې په اړه يې معمولي رڼا واچوله اوهمدارنګه يې درڼا نه هم نښې ترلاسه کړې ، وروسته يې سره دپېښور ديوه مشهور اومدرنه رستورانت مخې ته دليدو وعده کېښوده خوميړنی ډېر هوښيارهلک و، اورڼا نه يې وغوښتل چې شل دقيقې وروسته بايد په ټاکل شوي ځای کې حاضره وي . ميړني ويل چې داشل دقيقې ديوه ښه ميک اپ لپاره ډېر کم وخت دی اورڼا نه شي کولی چې په پوره سينګارراشي - په ساده ارايش سره به يې وګوري چې څنګه ده - دميړني دوه مقصده و ، يويې دراديولپاره راپورتره لټوله ، اوله بلې خوانه ځان لپاره يې دکوژدنې لپاره جنۍ هم خوښه ووله - رڼا ورسره خدای پاماني وکړه ، بي بي ته يې وويل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـــزه به لاړه شم  اودمیرڼي سره به وګورم  ، هغه راته وویل چې څوورځې یې ازموینوته پاتي دي اوبیا وزګارنه دی چې زما غږ بیا ثبت کړي ،  له بلې خوا نه به زما اندیښنه هم خلاصه شي ، که وشو،  ښه ترښه  ، که نه نو،  خپله معلمي خوبه په کراره زړه باندې کومه -

-تا، خوښه وویل خو، ګوره جنۍ پام ډېر کوه ، خلک ډېر چالاکه دي،  له بلې خوانه پردی وطن دی ، ورورډې هم مساپردی خبرې دې ورسره زرزر خلاصې کړه اوترماښامه به مخکې کورته راځې چې جمال تیلفون  ونه کړې بیا به وایې چې جنۍ چېرته ده ؟

رڼا خپله یوه معمولي جوړه واچوله نن یې زړه هسې خوشحاله خوشحاله کېده ،  هغه مطمینه وه چې له دې ازموینې نه  به په پوره ډول بریالۍ راوځي ، خوکه خبره پلټونکي ته ونه رسیږي -  له کوره دوتوپه حال کې یې دبي بي دواړه لاسونه ښکل کړل اوبیایې قران شریف هم ښکل کړ،  داپارتمان ددروازې په خوله کې یې ایت کرسي وویله اوپه خپل ځان یې چف کړه -  درڼا تروتګ وروسته بي بي پنځوس کلدارې دنذرپه توګه په قران شریف کې کېښودې ترڅورڼا کامیابه شي اوپه خوشحالۍ کورته راشي -رڼا په زړه کې دعاګانې کوولې اوخدای خبردکوم پیر په نوم یې یو دیګ حلوا نذر په غاړه واخیست خوپه یودیګ حلواباندې یې دزړه تسلا نه کېده نو ددې مشکل دحل لپاره یې دخدای په رضا څوثوابي روژې په غاړه ونیولې  - کله چې روژوته یې غاړه کېښوده نو هغه تم ځای راورسېده چې ددې مقصدو ، نوله موټرنه راکښته شوه  - ښه شوه چې تم ځای زر راورسېده که نه نو څومره نورنذرونه به یې په غاړه نیولي و ، میرڼی ښه سینګارکړی په خپل ځای ولاړ و،  څرنګه چې هواډېره توده وه نومیرڼي دخپلې تندې دماتولو لپاره ، یوګیلاس پیپسي هم اخیستې وه اوګیلاس په لاس کې درڼا انتظارېې  ویست  -رڼا له تیکسي نه کوزه شوه اودرستورانت مخې ته ولاړوسرېیوکې یې  دمیرڼي دنښو مطابق دځوان په لټه کې شوه ،  دسترګوپه رپ کې یې په میرڼي نظر ولګېده ، مخامخ ورغله سلام یې وکړ :

ـــتاسو!  میرڼي ؟

-تاسو!  رڼا ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



-هوسلام څنګه یاست ؟

دمیړني خوله نوره له خوشحالۍ، نه راټولېده - درنا حسن اومدرن توب دهغه له سوچ نه وچته خبره وه - میړني چې درنا سوراوسپین مخ ته کتل اودهغې دخبروانداز ته یې پام کاوه نوځان سره یې ویل چې یاره داخوبه کومه کفاره نه وي داسې حسن خوپه افغانانوکې نشته - میړنی چې دومره کاله یې ځان دنجلۍ پشان ساتلی و، اودپوهنتون ډېرو نجونو ځانونه پرې سترې کړي وو، نن یې دسترګو په رپ کې ځان وبایله . اوس رنا ته مخامخ درستورانت په چوکۍ ناست و، صرف اوصرف یې درنا خبرو اودهغې په لاسونوباندې خبرو ته توجه وه ، او کتل یې چې دانازکې ښکلې نرۍ نرۍ ګوتې څنګه په هنرمندۍ په هواکې خوځېږي اوڅه وخت به وي چې یوځلې یې په خپلوګوتوکې راټینګې کړي ، اوپه مازې تاوولوسره ، درنا له خولې نه دنازه ډکې چیغې واوري- بیایې سوچ کاوه کاشکي مې لکه منه غوندې نیمه خوړلې وای اونیمه مې جیب ته اچولې وای - درنا ترسترګوهم میړنی ځلېده، راځلېده - دمیړني خوله ، اوپه ښایسته خولې باندې موسکا درنا وارپارخطاکړی و، غوښتل یې چې دبنګړیوالې غوندې چې کله کله پردې راټوپ کوي اوپه خپلونوکانو درنا ګوتې لړ څه خوږوي ، هماغسې دې دا هم پرمیړني یووار ټوپ کړی ، اوخپل دواړه لاسونه دمیړني ترغاړې امیل کړي - نورنودمیړني نه دصبرکاسه ماته شوه، رنا ته یې وویل :

-څومره ښایسته یې دکپارلوري !

رنا نوره هغه مغروره نجلۍ نه وه پاتې هرڅه یې بایللي ښکارېدل میړني ته یې ورغبرګه کړه :

--ځانته دې شاله پام شوی نه دی ؟

درنا له دې ځواب سره میړنی په زړه کې خفه غوندې شو، سوچ یېوکړ : نه چې جنۍ مې په دې خبره خفه کړې نه وي ، زه خوتراوسه دومره ورسره ازادهم نه یمه ، ځان ته غوسه و، چې ولې یې رنا ته دومره نژدې خبره وکړه - بیا یې ځان سره فیصله وکړه راځه چې ورنه بخښنه و غواړمه - خوله دې کارنه تېر شو- یوډول غرورېې مخې ته ودرېده ، زړه کې یې وویل څه هرڅه چې وشول باد اباد ..... رنا هم خپله پریکړه کړې وه - له یوې لوري خوپه خپله نازولې نجلۍ وه اودنخرونه ډکه خو اوس دمیړني دزړه راښکون لپاره یې یوپاونخرې اونازونه نورهم له ځان سره مل کړل -

(c) ketabton.com: The Digital Library



میړنی که څه هم په پېښورکې رالوی شوی و خوساده پښتون کلیوال هلک و، درنا هره نخره اونازبه یې نېغه دتېرې چړې پشان په زړه ورننوت - اوس له هغودواړونه راپور اوراپوتري هېره وه، له خواږه مجلس اودسړوبوتلوله څښلونه وروسته دواړه له رستورانت نه راووتل - میړني نه غوښتل چې رنا دې داسې زرورڅخه جلاشي ددې لپاره چې لږنوره هم ورسره پاتې شي نوله رنا نه یې په ډېر ادب سره وغوښتل چې ترصدربازاره پورې ورسره لاړه شي - هلته یې دیوکتابتون نوم ورته واخیست چې کاریې ورکې درلود- رنا هم پرته له کومې نخرې نه دمیړني ست ومانه اودواړه په تیکسي کې سره څنگ په څنگ کېناستل - درنا اومیړني په منځ کې دیوې لېشتې ځای فاصله وه - که دمیړني په زړه وای نودسترگود رپ سره به یې دا واټن لرې کړې وای ، خوارمان یې کاوه چې داواټن به کله اوڅنگه ختمیږي -

میړني دکتابتون نه داردوژبې دیو ښه شاعروصي شاه یوه شعري مجموعه واخیسته اودواړه دصدرجاني کون رستورانت ته لاړل اوس دواړه مخامخ یوبل ته سره ناست ول - میړني کتاب رنا ته ډالۍ کړ- ټوله ورځ یې تېره کړه، ماښام وچې دیوبل نه سره جلا شول - میړني خوغوښتل چې رنا دې ورسره دماښام ډوډۍ هم په کوم هوټل کې وخوري خونن یې اوله ورځ وه جنې یې دومره نه تنگوله که نو بیا هرڅه گډوډېدل - دبیا لیدوپه هیله میړني رنا له کورسره نژدې تم ځای کې له تیکسي نه کوزه کړه - رنا په ځان نپوهېده چې په هواروانه ده اوکه په ځمکه - اوس ددې دواړوتوپیر ورته گران و په خوشحالۍ سره کورته راغله بي بي چې لیدل ، جنۍ ډېره خوشحاله بریښي نوځان سره یې سوچ کاوه نه چې خدای یې سوال زرمنلی اورنا لاړه په ډالروکې مقرره شوه - په ورین تندي درنا خواته راغله وې ویل :

ـــڅنگه شو کاردې زویه ! که خدای کول خوشحاله ښکارې ؟

درنا اوس پام شو چې داخودرادیو، سرخوړلې لپاره تللې وه، داڅه لوبه پرې وشوه - هغه دخلکوخبره چې وایي ( مالېږلې وې غلا ته ، خوته لاړې مشغولاته ) دې خوپه ټوله ورځ کې له میړني سره درادیویوه خبره هم ونه کړه اوس ابۍ مېرې ته څه ځواب ووایي ، خوځان یې له لاسه ورنه کړ ورغبرگه یې کړه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ومې ليده انشاالله که خدای کول نوداکاربه مې وشي -

-ولې تراوسه نه دی شوی؟ داټوله ورځ دې تېره کړه اواوس وايې چې وبه شي.....

-ګوره بي بي ! ته فکر کوې چې هرکار د اوړو زغاله ده چې په تناره به يې وو هي اوپاستی به ترې راوباسې ، هرڅه يو وخت غواړي نن مې درادیو ، دیوه راپورپه اړه خبره ورسره وکړه هغه راته وويل چې سباته به راشې چې په مني ديسک باندې کاردرته وښايم اوبيا به چېرې لاړه شي يوراپوربه جوړ کړې چې راديوته يې وليږمه -

رڼا په ښې هنرمندۍ سره بي بي وغولوله اوځان يې له لوی شر نه خلاص کړ-

..................................................ږ

اوم څپر کی

داګست شپږ ويشتمه وه - دميړني سره دپرون دملاقات نه وروسته رڼا ته ژوند بدل بدل ښکارېده يوازېتوب ، خپګان ، زړه تنګوالی اوهرڅه ورڅخه لري تللي و- ټوله شپه يې دميړني په سوچونوکې روڼه کړې وه - له تورې بنګړيوالې سره لوبېدلو هم خوندورکاوه - هغه به راغله اوددې په پښوبه يې غاړه اومخ موښل - رڼا له بي بي نه په پټه بنګړيوالې ته له يخچال نه غوښه راواخيسته اوهغې ته يې واچوله، ترڅوخپلې کولمې پرې غوړې کړې - اوس رڼا نه، له پلټونکي نه وېرېده اونه دهدايت هدايت اوتره کي نه ، هغه پوره غونډه مونډه په ميړني باندې مينه شوې وه- له ماښام نه راپه دې خوا په دې سوچ کې وه چې په کومونخرو اونازونو ميړنی له پښونه واچوي- اوشريف (ميړنی ) په شريف (ليونی ) باندې بدل کړي - دسهارترنهوبجوپورې يې انتظارووېست ترڅوميړنی ورته تيليفون وکړي خوله بده چانسه وايې که له نيکه چانسه خوهغه تيليفون ونه کړ - وروسته درڼا حوصله تمامه شوه په دې سوچ کې شوه نه چې ميړنی لاړ، ليونی شو- نه چې ورنه هېره شوم که څنګه ؟ رڼا مخکې له دې چې ميړنی ليونی کړي خپله ليونۍ شوې وه - نه په غرورپسې ګرځېده اونه يې خپل نوم اوځواني ته پام و - دتيليفون غوږۍ يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راواخيسته اوميړني ته يې تيليفون وکړ- درنا لپاره داموقعه ښه مناسبه وه چې بي بي په کورکې نه وه - بازارته په ترکارۍ پسې تللې وه نورنا کولی شول چې دزړه له اخلاصه نه دميړني سره مجلس وکړي- موبايل ته يې زنگ ولاړ-

څرنگه چې دپوهنتون درخصتۍ مياشت وه اوپه دې مياشتوکې به ډېر دليليې هلکان په رخصتۍ خپلوکورونو اوکليوته تللي و ، اوځني هلکان بيا دخپلوکارونولپاره په ليليې کې پاتې وو، چې په دې قطارکې ميړنی هم حسابيده - ولې چې هغه اوس اوس په ابادۍ راديوکې مقررشوی و، نوپه دې شپو کې دميړني په شول ټول هلکان ترناوخته پورې وېښ پاتې کېدل او بيا به سهار ناوخته له خوبه پاڅېدل - ميړنی هم تراوسه له خوبه نه وپاڅېدلی - هغه په موبايل باندې نمبرته وکتل نمبريې وپيژانده له خوشحالۍ نه دخپل دليلې په چپرکت باندې په ټوپونوشو-

-هلو.....

-سلام ميړنيه!

-سلام رنا جانې ! څنگه يې ؟ پرون ماښام خوپه خيرسره کورته ورسېدې غوښتل مې چې ماښام دې پوښتنه وکړمه خو......

-مننه په خېرورسېدمه ته څنگه يې ؟

_مننه ښه يمه خپل حال وايه-

-ماويل چې مزاحمت ونه کړمه ؟

-نه نه، داڅه وايې رنا زه خوټول.........

له ډېرخوږ مجلس نه وروسته ميړني زړه نازړه له رنا نه غوښتنه وکړه ترڅوورسره وگوري اودراديوپه اړه سره وغږيږي رنا خوهمدغه ساعت يې له خدايه غوښت نوله نخرې نه يې کاروا خيست اودپرونۍ ورځې له گرمۍ نه يې سروټکاوه خونن ميړني ورسره وعده وکړه چې نن به سره دپېښور په کانتينټال کې سره وگوري اوهلته به ډېرې شېبې په ارامه له يوبل سره وگوري ولې چې هغه ځای مناسب اوسوړ و-

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا هم داموقعه له لاسه نه ورکوله مخکې له دې چې بي بي راشي له کوره ووته اوبي بي ته يې يوه وړه پرزه دتيليفون دميزله پاسه کېښوده - نن يې په پرزه کې ليکلي وچې دښوونځي ديوضروري کارلپاره دوړمې دوی کره لاړه- دوړمې کوريې په دې ليکلی وچې هغوی له يوې خوا تيليفون نه درلوده اوله بلې خوانه يې کوربي بي ته نه ومعلوم - اوس رڼا ته داسې ښکاېده که خدای کوول نښه يې ويشتلې ده- په بېغمه زړه له کوره ووتله - دبي بي لپاره يې په دې پلمه وکړه نه چې بيابه يې سباته نه پرېږدې په دې خوشحالۍ چې نن به ټوله ورځ له ميرني سره دباندې په چکر وهلوتېره کړي-

په خپل ټاکلي وخت دکانتينتال مخې ته ورسېده خوميرنی تررڼا مخکې راغلی و، هغه نه غوښتل چې رڼا دې انتظارکې وساتي - هغوی دواړه يوبل ته مخامخ دکانتينټال په ساړه صالون کې ناست ول - رڼا نن له ځانه سره خپله مخصوصه دوسيه وړې وه په دې دوسيه کې رڼا خپلې هغه کيسې اوشعرونه چې په بيلابيلومجلوکې خپاره شوي وو راټول کړي وو ، نوخپله دوسيه يې خلاصه کړې وه اودهرې کيسې په اړه دميرني سره غږيدله - اوميرني هم خپله دشعرنو وړه کتابچه له خپل خبريالۍ بيک نه راوويسته اوخپل يويوغزل يې لوست اورڼا په مينه مينه ورته غوږ نيولی و خوميرني ته اوس درڼا ليکنې دومره دارزښت وړنه ښکارېدې – کاشکې چې يې درڼا يوه يوه کيسه له نظره تېرولای- خدای که يې يوځل هم دخدای درضالپاره هم يوه کرښه ويلي وي هسې يې سرښوراوه -رڼا دتېر ماښام کيسه ورته تېره کړه اوغوښتنه يې ترې وکړه چې پرون خومې مور وغولوله خوهغه داسې دهوښياري لورده کومه دې خوا اخوا ښځه نه ده- د دواړو دنياوو علم ورسره دی، نن به زما غږ ثبت کړې که نه نوهسې مېره ابی ده بيابه مې په کورکې نه پرېږدي-

-خيردی زه هم همداغواړمه چې ماته هم پلمه جوړه شي او بې ښې اوبدې به راشې-

--ښه ! داسې دخلکولونې درته ارزانې ښکاره شوې ؟

ميرني له خپل بيک نه مني ډيسک راوويست اودميزدپاسه يې کېښود، موسکی شو بيايې زياته کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ګرانې ! ګوره زه خویوسیمه ایزخبریال یم- دامني ډیسک زما ټوله استدیو ده- اودلته زمونږ رادیوکوم دفترهم نه لري اوس دایولوی صالون دی- که دې زه اوازثبت کړمه نودخلکوشورهم پکې راځي اودا نری نری موزیک هم چې دلته په صالون کې غږیږي - نوداسې ځای به وټاکو چې خاموشي وي - زه خپل رپوټونه خوخپلې لیلیې کې ثبته ووم - رڼا ته دبي بي دپوښتنواندیښنه په زړه کې وه نوو رته یې وویل:

-ګوره زه پوهیږم دنن خبره سباته اوږدوې که داکارونشو بیا به........

د رڼا سپین لاس چې دمیز له پاسه یې ایښی و اوپه بل لاس یې خپله زنه تکیه کړې وه میړني خپل لاس اوږد کړ اودرڼا په لاس یې کېښود اودهغې لاس ته یې فشارورکړ - رڼا له شرم نه خپلې سترګې ښکته کړې اوتکه سره شوه- دادکرنټ یوه جټکه وه چې دلومړي ځل لپاره رڼا ته ورسېده اومیړني په عاشقانه انداز سره ورته وویل :

-ته سوچ مه کوه الله دې خیرکړي هرڅه به وشي ته مه خفه کیږه-

اوس میړني غوښتل چې رڼا ته په پوره صداقت سره اعتراف وکړي چې په هغې مین دی اوغواړي یې چې دتل لپاره خپله کړي -اوس میړني نه غوښتل چې رڼا دې په رادیوکې خبریاله شي- دهغه دزړه غوښتنه خوداوه چې پس له دې رڼا دهغه دزړه خبریالي دې په غاړه واخلي چې هم خرما ده اوهم ثواب-

رڼا دپلټونکي په اړه ورته وویل اوټوله کیسه یې ورته وکړه اوهمداراز دهدایت هدایت اوتره کي په اړه چې ددې پښه یې څنګه په هغې بلې راډیوکې ووهله - اوس نومیړني ته خدای هسې ورکړې وه چې په کومه بانه باندې یې درڼا دمقررۍ نه انکاروکړي- درڼا په دې خبرو اوس هغه په زړه کې ګوړې ماتولې اوځان سره یې ویل بس الله مهربانه باچادی زما خوخبریاله نه وه پکار زما مرستیاله پکاروه دژوند مرستیاله - میړني له هوښیارۍ نه کارواخیست اودرڼا په خبرویې ځان هیڅ پوی نه کړاو وې ویل :

-ګوره رڼا پلټونکی به خپل کارکوي ته درادیو ضرورت یې اورادیوبه تاارومرو نیسي - خودسبالپاره به یورپوت جورکړې -موضوع به زه درکړمه په پېښورکې دښځینوو خپرونو روان حالت باندې به یوراپور جوړکړې اوزه به په

(c) ketabton.com: The Digital Library



يومناسب ځای کې درته ثبت کړمه - رڼا هم ورسره ومنله - رڼا خوشحاله شوه چې دکارسرخوراووت - پـه رڼا ډېروځوانانوزړه بايللی و اوډېرويې دخپلولوخوبونه ليدل - خودلته بيا دميړني طالع پرځای وې چې رڼا يې له پښواچولې وه- ترميړني رڼادميړني ډېره غوښتونکې وه- دميړني درقيبانوله ډلې يوهم

(نانی ) و نانی هم هغه ځوان شاعرو چې دطالبانو په دوره کې يې ښه پرمختګ وکړ اوله طالبانوسره به تل ګرځېده طالبان دې هم خدای لري نانی به يې ښه نازاوه - دنازولي ناني روزګاردطالبانو له سقوط څخه وروسته بيا خراب شو اوپېښورته راغی -خوتېرعمريې رڼاته ښه معلوم واوس يې ځان رڼا ته مخکې مخکې کاوه غوښتل يې چې رڼا خپله کړي رڼا کله غوښتل دداسې شاعرسره دې واده وکړي چې ټوله ځواني کې يې دطالبانوخدمت ګزاري کړې وې که څه هم په ځوانۍ ښه وبدنه و- رڼا خبره په ناني راواړوله اوښه يې پرې وخندل ميړني رڼا ته وويل:

-ګوره! که کومه ورځ دې نانی تاله ماسره په کوم محفل کې ووينې نوغريب به سم اورواخلي- دکوپارلورې ! دکوپارلورې اوياداسمان بچيه داهغه اصطلاح ګانې وې چې ميړني به خپلو خوړو اونازولوانېوالانوته استعمالولې-

مازيګر راروان و اودوی دواړه خپه خپه ول اوس دواړونه غوښتل چې له يوبل نه سره بيل شي خوپه کورکې بي بي لکه ناسته وه اوچمچه مارغوندې يې سرښوراوه چې جنۍ نن څنګه په خپل سر دوړمې کره تللې ده له يوبل نه يې خدای پاماني واخيسته خوپه دې هيله چې سبابه بياګوري له يوبل سره- اوس رڼا دکورپه لارې دبي بي دغولولپاره زړه کې پلانونه جوړل چې په کومه پلمه ځان ورڅخه خلاص کړي.

------------------------------

اتم څپرکی

درڼا له لېدلو وروسته دميړني نه خوب اوکرار نورتللی و- نه يې په بولدک پسې سوچونه کول اونه يې دکنړ اوکنړيانوغم ورسره و - شپه اوورځ يې درڼا سوچونه ورسره مله شوي وو- دورځې خوبه يې رڼا ولېدله اوياخو به يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تیلیفون کې ورسره خبرې وکړې خوشوګیرویې بلکل کارورخراب کړی و- اوس داغم ورسره و چې څنګه میړنی شي اوږنا ترلاسه کړي هغه ته معلومه وه چې داجونکۍ په کومه طریقه دهلکانو زړونه ترلاسه کوي چې ښه یې دزړه په غم اخته کړي نوبیا وروسته په خپله کراره دخیر په غونډۍ کیني اوخپل سیلونه کوي- تېر مازیګر و چې خپلې لیلېې ته راورسېده اودرنا لپاره یې هم اندېښنه وه چې بي بي ورته غوسه شوي نه وي - جنۍ خودتګ په وخت کې ډېره وارخطا ښکارېده ، که څه هم رڼا ته یې دخدای په اماني په وخت کې ویلي وو چې ورسېده نوخامخا به ورته تیلیفون کوي ترڅودده زړه راټول شي-

مېړنی په لیلیه کې درڼا دتیلیفون دراتلوپه انتظارکې په خپل چپرکټ کې اوږدغزېدلی و، درڼا یوه یوه نخره به یې ترسترګوشوه یو،واربه یې په ټول بدن باندې یخني راننوته، په همدې خیال پلونوکې وو چې په موبایل باندې زنګ راغی - دخیالونولړۍ یې دزنګ په راتلو سره وشلېده، په دې خوشحالۍ کې چې بیا به درڼا غږ واوري په ډېره مینه یې وویل:

-هلو

-هلو مېړنی یې ؟

-بلې مهرباني وکړی تاسو ....... ؟

ــبلې ! زه لاوری له رادیونه خبرې کوم څنګه خېریت خوبه وي ، دادوه ورځې دومره سترې پېښې په پېښورکې وشوې خوتاسویې راپورنه دی راکړی ؟

-پېښې؟؟ ؟ لاروی صیب ولا زه خوخبرنه یمه....

-ولې تاسوپه پېښورنه یاست څه ؟

-نه داسې نه ده خومورمې......

-ولې مور خو به دې د را ډېو مخالفه نه وي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



-نه والله مخالفه يې خو نه ده ، مريضه ده........

درادیودمشر لاروي تیلیفون مېړنی هک پک په ځای کېناوه- مېړني بله لاره نه درلوده مجبورشوچې په یوه ترپ کې يې خپله مور دغواپه لغته په تشي باندې ووهله اوپه پنځودقيقو کې يې دهغې تشی يې ورته له منځه یووړ، بیایې ژرپېښبورته راورسوله ، دکمپلکس دروغتون دډاکترانوله مشورې وروسته یې دادی اسلام اباد روغتون کې يې بستري کړه او له لاروي نه يې دپنځوورځونوره ر خصتي هم ترلاسه کړه - که يې داسې نه وای کړې نومشر څه خبرو چې خبریال يې په دې دوه ورځوکې دنويوگلونو په تماشې سرشوی چې نه له ځانه خبردی اونه له جهانه - میړني که لاروي ته داپلمه نه وای کړې نوخبره تللې وه ډنډوره شوې به وه-

ترڅودمیړني سوچ په ځای کېده اودلاروي دتیلیفون وېره يې له زړه نه وته دماښام بانگونه شوي وو- دخپل دغم دغلطولولپاره يې له پلاره ورته پاتې زوړ ټیپ چې عمريې کابو سلوکالویا سلولسوته رسېده اوایله په مټکي يې فيته غږوله دليلا سیاموی غم یارنه داری دسندرې فیته يې ورواچوله- داټیپ دومره قران وهلی و، ترڅوچې دوه یادرې سوکه به يې په تندي ونه خوړل غږېده به نه - پس له دوه سوکانوټیپ په غږېداشو - میړني دليلا سياموی دسندرې په اورېدو نورهم دخپلې ليلا په سوچ کې شو اودرڼا خبره يې دچړې پشان په زړه ورننوته اوراوته چې ویل يې:

-الله دې نن خير راپېښوي هسې بلا په کورکې نه وه چې زه راووتمه اوس به دچمچه مارپشان لکه ناسته وي اوژبه به راته چیچي - نوريې نوطاقت نه راته راديوخويې په بلاووهله غم يې پنځه ورځې نورهم له سره لرې کړ خودرڼا غم خوبې چېرې لرې کاوه دپتنگ پشان چې څومره سوځېده هومره خوشحالېده - زړه نازړه يې دخپل موبايل نه درڼا دکورنمبر ډايل کړ- زنگونه ولاړل خوچاغوږۍ نه پورته کوله، زړه کې يې راتېرشول نه چې بي بي زما سیاموی جانه له ويښتانو نه وي نيولي - سبا يې چېرې گنجې راونه لېږي موبايل يې بند شو زړه يې نورهم وارخطاشو بيا يې نمبر ډايل کړ ، دوه درې زنگه لاړل او ، اوازراغی:

-الو الو

-الوالو خدای دې ورک که ولې خبرې نه کوې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په داسې حال کې چې غږ یې دلاروي صیب ترغږ هم تاثیرناکه واودمیرني پښې ناڅاپه په ریږدېداشوې څنګه چې ساه یې شاته شاته کېده خوډېر یې ځان ته جرت ورکړ:

-مورې سلام...

-والیکم سلام زویه څوک یې ؟

-مورې میرني یمه تاسوڅنګه یئ ؟

-خیریوسې، ته څنګه یې موردې ښه ده وروڼه خویندې پلاردې........

میرنی په خبره ورسېدو چې لیلاجانه یې دمور سره دومره دده په اړه نه ده غږېدلې، نوزړه ته یې دمه ورغله غاړه یې تازه کړه:

-شکر ښه دي هغوی په کلي کې دي...

-وئ ! زویه نوته مساپریې الله دې دماله زوی سره وساته-

-رڼا جانه شته ؟

-اوه زویه خدای دې ورکه کي ټوله ورځ یې بلاوهلې دملګرې کره تېره کړې، زه نه وم کنه نو رادیوته مې درلېږله اوس دیګی کوي -زه به یې راوغواړمه-

-هلوسلام میرنی صیب څنګه یې ؟

-ښه ټوله ورځ دې له وړمې کره تېره کړه زه به درسره ګورمه-

رڼا په کړس کړس وخندل-

-څه وکړمه ډېره راباندې ګرانه ده څه نشم وېلی....

(c) ketabton.com: The Digital Library



میړنی هم درنا همدې ځواب ته منتظر و ، په تیلیفون کې یې  درنا احوال واخیست اودلاروي دتیلیفون په اړه یې هم ورته وویل اوټوله کیسه یې ورته تېره کړه چې خپله موریې درنا له سره جارکړې اوپنځه ورځې نورې هم درنا لپاره رخصت اخیستی دی-  دواړو ښه دیوبل سره وخندل،  نورنوپه موبایل کې کارت خلاص شو، مخکې له دې چې له رنا سره خدای په اماني وکړي تیلیفون بندشو،  خودخدای په امانۍ په پلمه رنا ورته زنګ وواهه  -  میړني رنا نه پوښتنه وکړه چې دبي بي غږ نن بل شانې و نه چې ناروغه ده هغې وخندل نه ناروغه نه ده دادوه ورځې کیږي چې ژامه یې دګرمۍ له وجې شوربدلې اوخپل جوړه کړې ژامه نه اچوي  په دې چې نوره بي بي پرې شکي نشي نوتیلیفون یې سره بندکړ-  رنا ټوله شپه ویښه تېره کړه - ګرمي یې پلمه کړه یوه سوژه یې په ذهن کې راتاوه شوه پاڅېده اولنډه کیسه یې ولیکله ، سهاردسبانارۍ نه وروسته دخپل زوړ کوچني ټیپ په لټه کې شوه چې کله کله به یې کومې مجلې ته فیچر جوړاوه،  نوخپل ټیپ نه به یې کاراخیسته-  ټیپ یې دجاموپه الماری کې دجامولاندې شوی و،  ښه شېبه ورپسې سرګردانه شوه ، وروسته یې راپیداکړ-  اول یې چک کړ چې کارکوي که نه،  وروسته چې مطمینه شوه نوخپله ډایري یې راواخیسته  _  ټیلیفون ته کېناسته ، دهغومجلو اوورځ پاڼودفترونوته یې تیلیفونونه وکړل کوم چې دافغانستان دښځولپاره خپرونې کوي-  ډېرې خبرې یې دخپل راپورلپاره راواخیستې بي بي لیدل چې جنۍ غریبه په خپل کارلګیا ده نوزړه یې پرې وسوځېده لاړه پخلنځي ته دغرمې لپاره یې خپله تیاری ونیوه - رنا خپل سکریپټ ولیکه،  څوځو واري یې ولیکه ترڅویوېې خوښ شو اوبیا یې په لوړاوازپه کوټه کې چې قدم مرش یې هم کاوه و لوسته، دغرمې دډوډۍ په وخت یې بي بي ته وویل:

-ښه به نه وي چې یوځل میړني ته زنګ ووهمه اوداخپل سکریپټ ورته ولولمه بیابه یې ثبت کړمه-

-او ښه وایې،  بیا به درته ووایي چې کوم ځای یې خراب دی هغه به سم کړي...

-خراب خونه دی دادمیړني غوندې خبریالان چې دي زه لس دانې دخپل دستکول په کونج کې ګرځومه هسې مې طالع خرابې دي-

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ښه ښه لویه سپ، دومره توده یې مه خوره ، لږه گوزاره کوه، په هرچا دبي بي گمان مه کوه خلک دې څه پروالري هرڅه یې چې درته ویلې هغه منه چې مقرره شې ، په خپله ملامته یې ژبه دې خرابه ده بږ بږ غږېږې، بیا ژاړې چې خلک مې پښه وهي-

رڼا په میړني په دې پروانه ساتله اوځان یې مستغني ښکاره کاوه چې بي بي پرې پویه نشي کنه نو بیا دیوه ټیلیفون کاردی چې جمال ته به یې وکړي - ترډوډۍ وروسته یې په ډاډه زړه چې دبي بي محترمې نه یې اجازه هم اخیستې وه میړني ته ټیلیفون وکړ ، میړني په ټیلیفون کې په گیلو رڼا ته خوله خلاصه کړې وه اودټولې شپې دبېقرارۍ کیسه یې ورته کوله دخپل لیونتوب حال یې هم ورته وویلو خودرڼا بي بي ته پام شو چې دجای نماز په سر ناسته ده خپله دعایې اوږده کړې او ټول پام یې ددې خبروته دی - زریې خبره واړوله او وې ویل:

-بي بي مې هم همدااوس په جای نمازناسته ده اوماته دعاگانې کوي چې کامیابه شمه-

دانویوشفرو چې میړني ته یې ورساوه چې دریم گړی موجوددی ، پام کوه- وروسته یې سکریپټ ورته ولوست میړني هم ورته دسکریپټ تعریف وکړاو ورته یې وویل چې سم دی- ثبت یې کړه اوقسمونه یې ورواچول چې نن ورځ خوبې په ډغره ووهله څلوروځې درخصتۍورته پاتې دي سبابه ضرورله ده سره گوري دسهارنهه بجې یې دهماغه لومړي ورځې رستورانت مخې ته سره وعده کېښوده -له تیلیفون له بندولو وروسته بي بي له رڼا نه وپوښتل:

-زویه دا میړنی واده لري اوکه یې نه لري ؟

-زه څه پوهیږم ترش پرش هلک دی سړي سره سمې خبرې هم نه کوي-

-ولې له ما سره خوبیگا په تیلیفون کې داسې غریب نرم لگیا و-

-ته یې څه کوې نه چې کومه لوردې ورکوې چې داسې یې پوښتنه کوې چندان شی خونه دی-

-نه هسې مې زړه کې اندېښنه راپیداشوه- زما لورانې خوزما په خوله پورې خاندي کله زما خوښې ته گوري هرڅه چې یې زړه وغواړي هغه کوي-

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ښه نوستاپه خوله وکو دابا پشان به سړی راته وګورې-

-ولې په ابا دې څه شوي و، والله که یې دپښو خاورې یې پېداشي-

-ولې تاته څه بیوفانه و، بله یې دربانديې ونه کړه-

-ښه یې وکړل قسمت به یې و-

درنا عادت و کله کله به یې بي بي ځوروله وروسته به یې بیا راپخلا کړه اوس هم څنګ ته یې ورغله غېږ ه کې یې راټینګه کړه اوښکل یې کړه او ورته یې وویل راځه چې اوس دخپلې مقررۍ په خوشحالۍ کې چې ګونډې مقرره شمه دناران پارک ته په چکر لاړشو-

دبي بي هم زړه تنګ شوی و، دوی به اکثر مازیګر دپېښور پارکونوته په چکر تلل اوهلته به بي بي اکثر دنورو افغان کډوالوکورنیوسره چې په سیل به پارک ته راغلي وو مجلس اوخبرې کولې-

.________________________________

نهم څپرکی

رنا په خپل رپوټ باندې ډېر ه خواري کړې وه - ان دومره چې له ناني به یې تش په سلام هم ښه نه راته په دې چې هغه ډېر وخت دطالبانو غوړمال پاتې شوی و، هرڅوک چې به دطالبانو طرفدارو اویا به یې د هغوی غوړه مالي کوله نو درنا به ورسره ورانه وه ولې چې طالبان دښځو په وړاندې سخت دریځه خلک وو- نن یې دخپل رپوټ لپاره څوځلې ناني ته ټیلیفون کړی و اودښځودادارو دټیلیفونونمبرې یې ترې را اخیستې وې ، خونانۍ نن په زړه کې سره اوشنه باغونه کرل او سوچ یې کاوه چې جنۍ راغله نوره رامه شوه- ناني ته ځان نن ډېر مهم ښکاره شو، له رنا نه یې پوښتلي ووچې په دې نمبرباندې څه کوي رنا ورته په ځواب کې ویلي وو ( داهغه ډول دی چې

غږ به یې وروسته واورې ) رنا خپلې مقررۍ ته سره اوشنه خوبونه لېدل - دپلټونکي وېره یې هم له زړه نه وتلې وه که څه هم پلټونکی دهدایت هدایت غونډې شله سړۍ نه و ، ترهغه یوڅه هوښیاراوپه خبره پوی سړۍ و، کله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې لیدل چې رڼادانځر ګل پشان ده نو ځان یې له بې ځایه کړاونه خلاص کړ اوړنا ته به یې په خوله څه نه ویل اونه به یې دهدایت هدایت غوندې په ببولالوعادت وو - خوپه زړه کې یې ژوره کینه تراوسه هم له رڼاسره پاتې وه -

داګست اته ویشتمه وه دمېړني ازمویني ته دری ورځې پاتې وې دپوهنتون هلکانو ټولو دخپلوازموینولپاره پوره پوره تیاری نیولی و ، اودپوهنتون په هرګوټ کې به دبوټودسیورولاندې محصلین ناست ول اوخپل سبقونه به یې ویل خومیړنی سرې سترګې پاچا ګرځېده ، نه دازموینې خیال ورسره و، نه دکلي کنړ اوکورنۍ غم اونه درادیو دخبریالۍ غم - غم ټول درڼا و چې له دنیا نه یې ویستلی و- دمیړني دکوټې انډیوال مجاهد شاه چې په کلاس کې یې هم وریوځای و، نوی دې دوو رځوکې له کلي نه راغلی و، هغه دسوات ددیر دسیمې نه و، اوس مجاهد ته میړنی بدل بدل ښکارېده، هغه به تل له مینې میړني ته ماما غږ کاوه - یوه شپه خویې څه ونه ویل دویمه شپه یې چې دماما بیقراري ولېده نوپه سړي شک برشو - غلي یې له مېړني نه وپوښتل:

-ماماجي څه چل شوی دی هن ...... دادوه ورځې چې زه راغلی یم په موبایل دې چې زنګونه راځي یا ما له کوټې نه بهر اوباسې اویاخپله بهرځې- پارچې راروانې دي پارچې، فاینل ایر دی چې فیل نشې-

-څه مړه که خدای کول ګورې به یې چې بنډل بنډل پارچې به تورم ،

-دخان زرین غوندې نشي چې پور فیسر ته به یې ویل معلم صیب ماته یې په پښتو واړوه کنه نو زه لاړمه دخدای په امان-

-پنحه واړه ګوتې یوشان نه دي-

میړنی چې ائېنې ته مخامخ ولاړو خپل ویښتان یې سم کړل اوخپل بیک یې په اوږه کړ اودومره یې ورته وویل:

-مړه زه څمه چې ماني دې راته سترګې په لاره ده-

ددې خبرې په اوربدومجاهد له ځایه پاڅېده اوپه کوټه کې یې څرخونه وخوړل، تاو راتاوشو-

-زنده باد، زنده باد ، ماما داسې وایه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



-اوکنه داخوبه منې یار ....

رڼا اومیړنی دواړه ارمی استیدیوم ته لاړل اوهلته دورځې له خوابه اکثر دخلکوبېروبارکم و نودرڼا په اند هغه ځای دهغې دراپورلپاره مناسب ځای و- میړني کله په دې وړوخبرو خپله رڼاخپه کوله ، وې لیدل چې جنۍ ډېره بیقراره ده نوخپل میني ډیسک یې له بیکه راوویست ، هغه په دې پوهیده چې دموټروشور هم پکې راځي خوځه یې ونه ویل ، په دې چې هغه کله داراپور رادیوته لیږه - میړني دهغې غږ دخپل ځان لپاره په فلاپۍ کې اخیسته ترڅوماښام ماښام یې په لیلیه کې چې ځانته وي اوري به یې اوخپله مشغولا به پرې کوي -

رڼا هم ډېره خوشحاله وه چې غږ یې میړني ورته ثبت کړ، یوه مسته جانانه خندانه پس یې میړني ته داټپه واوروله :

-ملنګه دوه ګټې دې وکړې

یودې خیرټول کړو بل دې وکړل دیدنونه

-داڅنګه ځان ښایې اوکه ماته اشاره کوې ؟

-دواړوته مې اشاره ده - دواړه په یوې کشتۍ کې سواره یو- ګوره هم به مې ځان په رادیوکې مقررکمه اوهم به تا لاس ته راوړمه -

-که سرچپه شي نوبیا ؟

رڼا دمیړني په وروستي ځواب باندې لکه مچۍ راسره شوه اوهغه سکریپټ چې یې مخې ته په میزباندې پروت و، راویې خیسته اومیړني ته یې څوګذارونه په سرباندې ورکړل - په میړني یې دمینې څوتوبې ووېستلې - رڼا دخپلوټوکوټکالو لپاره نانی هم رایادکړ، چې پرون یې دخپل رپوټ برابرولولپاره یې څوځلې هغه ته ټیلیفونونه کړي وو -اودښځودمطبوعاتي دفترو نمبرې یې ورڅخه اخیستې وې - میړني ورته خندل اورڼاته یې ویل چې پرون ورځ دې نو په نانې په خوشحالۍ تېره کړې اوټوله شپه به دې خوب ورڅخه غلاکړی وي- رڼا دبې بې دپوښتنې په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم باربار ټوکې ټکالې جوړولې ، اوخپل مجلس یې له میرني سره توداوه، ټوله ورځ یې سره دپېښورپه پارکونو اورستورانتونوکې تېره کړه -اوس رڼا میرنی نشو هېرولی اونه میرني رڼا هېرولې شوه دواړو په یوبل پوره اطمینان اواعتمادپیداکړی و ، رڼا نه غوښتل چې میرني ته داسې زر دخپلې کوژدې په اړه ووایي ، هغې دامطلب وچې میاشت پس چې دمیرني ازموینې پای ته ورسېدې وروسته که هغه کومه فیصله وکړه ښه ترښه که نه نو بیا به داورسره مفصله وغږیږي-

نژدې ماښام وچې رڼا کورته راغله- بي بي نن دنورو ورځو خلاف دومره په غروپش کې نه وه- دراتګ سره یې سم رڼا ته دچایو ترموز مخې ته کېښود- رڼا له بي بي نه داپټه کړې وه چې دابادۍ رادیو دفترنه لرې بیا به والله که ورڅخه خلاصه شوې وه بي بي به سمه جوړه ورسره تلله - دهغې وجدان داکله منله چې ځوانه لوردې له یوه ځوان هلک سره دښارپه رستورانتونوکې ګورې راګورې-

بي بي په دې سوچ کې وه چې رڼا ټوله ورځ په ابادۍ رادیوکې تېره کړې نوزړه نازړه چې رڼا بیا غوسه نشي ورته یې وویل:

-رنې! ته خوغرمې ډوډۍ ته هم رانغلې ، کاردې څنګه سو ؟

-وشو، زه چې لاړمه تردولسوبجوپورې میرنی نه وراغلی، چې پوښتنه مې وکړه راته یې وویل چې کوم رپوټ لپاره تللی دی -رابه شي بیا مې ځان سره سوچ وکړ چې بیا به ټیکسي نیسمه راځه انتظاروکړه -که څه هم زړه مې تنګ شو چې راغی اوخودخان صیب زوی خپل رپوټ یې جوړکړ- رادیوته یې ولیږه اوبیا یې زما غږراته ثبت کړ اوزما رپوت یې جوړکړ راته یې وویل چې کېنه خپرونه به راشي اوته به خپل رپوټ واورې -

-څنګه خبرې دې راډیوکې راغلې ؟

-نه ! هغه وویل چې سباته راشه ښه یې نه دی ثبت کړي، بیابه یې له سره جوړ کړي - والله که لاړه شمه، په بلایې وهمه، ماته ډوډۍ راوړه، چای دېراته راوړی راوړي ،خپلې کولمې خو پرې نه مینځم-

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ولې ډوډۍ دې نه ده خوړلې ؟

-نه هلته خومې دپلارکورنه و، تراوسه وږې یمه زه خونوره نه ځمه-

-خیر دی زویه داکارونه خوپکې راځي ، ته ولې وارخطا کېږې لږه حوصله کوه-

درنا ګېډه ښه مړه وه خودبي بي دغولولولپاره یې داپاړټ اجراکړ چې دمیړني سره دسبا ورځې دچکر وهلوزمینه برابره کړي- بي بي چې اشپزخانې لاړه ، رنا قاچاقي میړني ته ټیلیفون وکړ اووعده یې کېښوده چې ماښام به پټ ورته ټیلیفون وکړي اوس خیروخیریت دی–

------------------------------

لسم څپر کی

میړنی په خپله لیلیه کې په خپله کوټه کې په چپرکټ اوږد غزېدلی و، په مني ډیسک کې یې درنا ثبت شوی رپوټ وارپه وار اورېده - دمیړني دې کار نور دمجاهد زړه ورتنګ کړ، په غوسه یې وویل:

-ماما ته نن لیونۍ شوی یې - ستابه یې غږ خوښېږي اوس دې زړه دی چې دسهاره پورې زمونږ غوږونه پرې وخورې، زه مجبور یمه چې بهر خپل سبق ولولم-

میړني داسې ځان وښوده چې ګوندې څه یې هم نه دي اورېدلي ، په خپل سوچ کې تللی و، دمورخبرې یې ورپه زړه کېدې اوبیایې دتروروعدې ورپه زړه شوې چې دمیړني له مورسره یې کړې وې چې هرکله میړنی په خیرسره له سبق نه خلاص شو اوراغی په هماغه ورځ به دشبنمۍ دسمال به ورکوي- خبره دلته وه چې شبنمۍ له ماشومتوب نه دمیړني له بلا نه هم بده راتله، کله کله به یې چې موروړته یاده کړه اویا به یې دهغې نوم به یې ورته په خوله واخیست نوده به ورسره سمې جګړې کولې - څنګه چې موریې ډېره زوروره ښځه وه نو تل به په خپلې خبرې ولاړه وه ، څه به یې چې ویل هغه به یې خامخا کول - داخبره یې دده له مغزو لا وختي تېره کړې وه چې کله له پوهنتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه راخلاص شوې په هغه شپه به ستا دخلاصېدو په خوشحالۍ کې دشبنمۍ دسمال هم راوړي او ګویا دهغې په وینا خوشالي به غبرګه شي – هغې میرني ته ویلي وو چې که دې د شبنمۍ نه پرته په بلې جنې لاس کېښود نوزه به دې قران پښوته کېږدمه ، نوره دې خپله خوښه - میرنۍ ددې خبرې له وېرې نه پوره دوه میاشتې کېدې چې کلي ته تلی نه و- دخپلې روغتیا احوالونه به یې ددوستانوپه ذریعه مورته ورلېږل اوهلته یې پلمه جوړه کړې وه چې وروستي ازمويني یې راروانې دي اودا ازموینې ډېر ې سختې دي نودی شپه ورځ په خپلې لیلیې کې خپلو کتابونوته پروت دی ، خپلوازموینوته تیاری نیسي - دمیرني مورته چې کله به څوک له پېښوره ورغلل اودمیرني لیک یا احوال به یې وروړ نوخامخا به یې دهغې دخوشحالۍ لپاره چې ښه زېرې ورکړي نوله ځانه به یې وویل   والله چې ورغلو خوارکی په کتابونوکې پټ و،  هغې ته پته وه چې زوی به یې دوه درې میاشتې وروسته خپلې ازموینې پای ته رسوي نوشپه ورځ دمیرني دراتګ شپې ورځې یې حسابولې-

میرني سوچ کاوه که درنا خبره مورسره شریکه کړي هیڅ امکان نه لري چې هغه دې رنا قبوله کړي،  ولې چې هغه په کلي کې خوشحاله ده ، په خپلومځکو اوپولوپټیوباندې مینه ښځه ده ، هغه کلیواله جنۍ غواړي اوس حیران وچې درنا دکوژدې مراسم څوک ورته برابرکړي - له بلې خوا، دازموینو راتګ ته دوه ورځې پاتې وې ،  له ازموینووروسته خوېې موریوه ورځ هم نه کېناسته اوتوره شبنمۍیې ورته په نامه کوله-  دشبنمۍ چاودې چاودې غوښینې تورې تورې پښې به یې ورپه زړه شوې چې تل به یې پلاستیکي شنې اوسرې چپلکې به یې په پښو وې-  اوړی اوژمی به یې پوزه بهېده،  چې داڅه تاثیر و اومړواې مړاوې سترګې چې له یوې خواتکې شنې وې له بلې خوایې دسترګوانداز داسې مړاوی و ، نو په دې کې به دښایست کومه ټپه راپورته کوې - میرني اوسیلی رااوویست نورهم ځان سره خپه شو - رنا ورته ډېره ګرانه وه،  دهغې سوراوسپین مخ ، ګلابي شونډې ، له هرې خبرې سره سل خوله خنداا‌و نازونه اونخرې چې میرنی یې مړکړی ، و له بلې خواډېره مینه ناکه جنۍ وه هغې میرني ته هره شېبه په خپلوکتلواوخبروکې بې شانه مینه ورکوله،  درنا هرانداز دمیرني لپاره ډېرجالب اوپه زړه پورې و ،  دهغې بې باکه ډوډۍ خوړل  ، دیاغي اسپې پشان په لاره تګ،  دلاس په اشارو خبرې کول پوره ریالسته جنۍ وه ، چې هرڅه پکې روښانه ول ، هیڅ څه به یې نه پټول خلاصه چې میرنی درنا په هراندازباندې پوره پوره مین شوی و -

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېرماسوختن و،مېړنی له ځایه پاڅیده اودپوهنتون په انګړ کې دخپل لیلیې سره نژدې یوه کانتین ته ولاړ ترڅوماښامی وکړي- دکانتین شاګرد ته یې وویل چې ورته یوخوراک قیمه له سلات سره راوړي - شېبه وروسته شاګرد هرڅه راوړل میړني ته رڼا ورپه زړه شوه چې نن غرمه څرنګه مخامخ په هوټل کې ورسره ناسته وه - د ډوډۍ په وخت کې یې خپلې ګوتې ټولې غوړې کړې وې ، څومره بې باکه ډوډۍ یې وخوړه ، کله چې هغې دومره په مزه اوخوند، په ډوډۍ پیل وکړ نومیړني ته اشتها ورغله اونن ډوډۍ خوړل له رڼا سره ورته څومره ډېر خوند ورکړ - اوس یې هرڅه کوښښ کاوه چې یوه مړۍ یې له ستوني تېره شي نه کېده- ډوډۍ یې بېرته واپس کړه اوپیسي یې هم ورکړې - بېرته خپلې کوټې ته راستون شو، په همدې اندیښنوکې یې دکوټې څراغ مړکړ اودرڼا په یادکې یې بالښت په غېږه کې ټینګ ونیوه اودسبا دلیدولوپه هیله اوپه دې هیله چې ګوندې ښه خوب ورشي سترګې یې پټې کړې-

--------------------------------------

یوولسم څپر کی

سهاروختي دټیلیفون په پرله پسې زنګونو رڼا له خوبه پاڅېده – ددې له جګېدو نه مخکې بي بي وخته دټیلیفون غوږۍ پورته کړه اوپه خبروشوه نو رڼا ته معلومه شوه چې دبریښنا ټیلیفون دی نو هیڅ سر یې ورپسې ونه ګرځاوه- لاړه تشناب ته ترڅوخپل مخ اولاس پرې وینځي - ښه شېبه یې په تشناب کې تېره کړه چې راووته بي بي لاهماغسې په ټیلیفون کې خوږه خوږه لګیا وه- ځان یې بې تفاوته ونیوه اوخپل سینګارمیزته ودرېده، دوېښتانو برش یې راواخیسته چې بي بي پرې غږ وکړ :

- رڼې ! راشه بریښناګی ده، قلم اوکاغذهم راواخله چې دحوالې نومره درکي-

-بریښنا زما اوستا دخدای په امان ، رڼې واخله ورسره خبره وکه......

- بریښنا سلام......

(c) ketabton.com: The Digital Library



- سلام ربې ! څنګه یې ژوند څنګه تېر یږي ؟

- مننه ، ته څنګه یې جمال لالامې ښه دی احوال یې لرې ؟

-ښه دی پرون سره وغږېدو ، سباته رخصتي ده کېدای شي دهغوی خواته ورشم - پېښورکې به اوس هوا څه سمه شوي وي ؟

-نه بابا هماغسې ګرمي مستي کوي -

- هورښتیا، پرون بي بي راته وویل چې ابادۍ رادیوکې مقرره کېږې - ماپه انټرنېټ کې واورېده، ښه رادیو ده، ښې خپرونې لري-

-تراوسه معلومه نه ده ، یوچاراته ویلي ، پوره اعتماد مې پرې نشته-

- اوس د حوالې نمبر واخله ، پرون مې پیسي درلیږلي- کېدای شي راروانې میاشتې کې زه په خپله پېښورته درشمه، دلته ډېره خپه شوې یمه-

رڼا دبریښنا نه دحوالې نمبر واخیست ، په زړه کې ورته شک راپیداشو چې رڼا نن په خپلوخبروکې بدله بدله ښکارېده، هغه خوکله هم دې سره دومره خوړه نه وه- په ماشوم توب کې به یې چې له دې نه ښه کافي مشره وه وخت نا وخت به یې وهله- یوه ورځ یې هم په خوړه ژبه له دې سره خبرې نه وې کړې- تردې خوبې بې ډېره ښه وه-

بي بي ته یې مخ وړواړوه:

-پرون تا برښیناته ټیلیفون کړی و ؟

-ماورته لهPCO نه یوزنګ وواهه چې ټیلیفون راوکړي بیا مې یوڅه ډالرې راوغوښتې-

-ولې تراوسه خو دبلې میاشتې دخرڅ لپاره هم پیسې شته نوستاټیلیفون ته ضرورت دڅه و؟

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ښه ده چې شته، ولې پیسې خوځه بده خبره نه ده په کورکې ښې دي هغه څه پردۍ خونه ده چې داسې سره شوې - رڼا په خبره ورسېده چې دکاسې لاندې کومه نیمه کاسه شته چې تورمخې برښینا ګۍ هم راروانه ده - خپل سینګارمیزمخې ته ولاړه وه اوخپل ویښتان یې ږمنځول - بي بي کوټې ته سباناری راوړ، په دسترخوان باندې یې هرڅه کېښودل - درڼا دښوونځي پیلېدوته یوه ورځ پاتې وه - رڼا دځان په سینګارولو شوه ، بي بي ورته وویل :

-راځه چې چای دې سړیږي.....

-ښه درځمه اوس به لومړی خپلې جامې بدلې کړمه چې له چای خوړلونه وروسته په حوالې پسې به ځمه -

-اوس لا اوه بجې دي، دوکانونه اوبازارونه به کله دومره وختي خلاص وي ؟

-نه اوس خونه ځمه ، په اتو بجوبه له کوره ووځم اودوړمې دوی کره ځمه، هغه هم راسره اخلمه اوبیا دواړه ځو-زه خپلې پېسې هم اخلمه اوځان ته یوه جوړه جامې اخلمه ، کېدای شي دغرمې ډوډۍ هم له ورمې سره په بازارکې وخورمه - ته مه وارخطا کېږه، ستا ډالرې به پوره امانتې درته راوړمه - رڼا په دسترخوان کېناسته، هغې ته خدای ورکړه بانه ورته جوړه شوه نن به بیا که خدای کول ورځ له میړني سره په مزواوچړچوکې تېره کړي - یویې سباته سخته ده چې دیکشبنې ورځ ده اوپه هیڅ پلمه میړنی نشي لیدلی نوپه زړه به دصبر تیږه کیږدي بله ورځ ته یې ښوونځی پیل کیږي، بیا لاره چاره به ورته پېداکړي - رڼا په اتوبجوپه دې خاطر له کوره وته چې دمیړني خوب به پوره شوی وي اوهغه به هم له خوبه راپاڅېدلی وي - په دې سوچونوکې وه چې دبي بي پوښتنې یې دسوچ لړۍ وشلوله-

-کاردې څنګه شو ؟

-کوم کار ؟

-درادیوکار، میړني څه درته وویل ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



-معلومه نه ده ، دومره یې وویل چې پوره هفته به انتظارکومه، په رادیوکې به پرې مشورې کیږي اوبیا به وایي سره - که پلټونکی راخبرشو، بیا نوله رادیونه لاس ومینځه - خدای دې وکړي چې ښځه یې ناروغه وي اوپه رخصتۍ تللی وي-

-داقران وهلی څه درنه غواړي ؟ چې دومره دربانديې مین و، نوولې یې واده نه درسره کاوه ؟

-واده ؟ تاسودکورښځې خوټوله ورځ موبل کارنشته بې له واده، نن سبا کم خلک په واده باندې سوچ کوي، دوی خودواده پړی دیوې خوارکۍ په غاړه کې واچوي اوټول عمر ګل هوسي یې دنورونارواښځوسره وي - خپلې ښځې ته تش په یو نوم مېړه وي او بس ، بیا زه څه ورځ مې ګرځېدلې چې له داسې سړیوسره به ځان په بلا ککړومه-

-دیوې نجلۍ لپاره بله لاره نشته ، پرته له واده نه - دتا پشان ډېر ې په کورونوکې دمېړه په ارمان ناستې دي، خوار کۍ ! ترڅوبه داسې ځان ته غره یې - داسې ورځ به راشي چې یوخر به هم درپسې نه راځي، پاتې لا انسان شو-

-بې بې څه ماغزه موخورې په دې شنه سهارکې چې ډېره راباندې تنګه یې برښینا یا جمال ته به دې ورولېږمه زه په یوازې ځان هم ژوند کولی شمه - هغه دې نه دي اوریدلی چې وایي ( افت نرسدګوشه تنها را ) مخکې له دې چې رڼا له کوره ووځي بې بې ورته وویل :

-نن مې غوښتل چې له بازاره یوڅه سوداراوړمه-

-دڅه لپاره؟ یخچال خوله میوې اوترکارۍ نه ډک دی-

-نه ، ماویل چې سباته که خیرو میړني ته به ډوډۍ وکړو مونږ کره به راشي-

-دڅه لپاره خیرخوبه وي-

-خیروخیریت دی، پرون مې برښیناته هم وویل ، هغې وویل چې سړی ته په خپله وګوره اوبیا رڼه ورسره پریږده چې کاروکړي له بلې خوانه مې زړه هرسان دی چې ته به چېرې کارکوې؟ ته خومسته لیلایې غم خوټول زما په سردی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به يې له نږدې وګورمه اوبيابه دتا دکارلپاره هم ورته ووايمه - يوه بله خبره داده چې مساپردی ثواب لري که يوه مړی ښه ډوډی يې مونږکره وخوړه-

-بي بي ! ته ليونۍ شوې يې ، زه نپوهېږم چې څه څه وايې ؟ خلک به څه وايي يوه ځوان هلک ته ډوډۍ کول بيايې کورته راوړل ، داټولنه تاته معلومه نه ده ؟

-ښه چې نه يې راغواړې اونه ما خپل دابادۍ راديودپټرته وړې ، نوره يوه ورځ دې هم نه پرېږدمه چې لاړه سې، نوره دې خپله خوښه ....زه نپوهېږمه ، جنۍ ! هره ورځ جوړه کړې چېرې ځې-

-دپلارکره دې ځمه چېرې ځمه....

رڼا ته اندېښنه ورولوېده که دبي بي خبره ونه مني نوبيا کارخرابيږي - دې خو ورته دروغ وېلي چې راديوځانته دفترلري خوبهتره به داوي چې دبي بي خبره ومني اوهلک ته ډوډۍ وکړي ، که نه نو خبره به رسوايۍ ته اوځي ، په دې سوچ کې شوه چې داچمچه ماره اوس په کومه اوده رامه کړي، غلې يې خواته ورغله، په غاړه کې يې لاسونه ورامېل کړل ، په دې وخت کې توره بنګړيواله هم کوټې ته راننوته اودرڼا خوا ته ورغله ، درڼا لاسونه چې دبي بي په غاړه کې امېل شوي وو، زياته يې کړه:

-ګوره ته خوددې تورې بنګړيوالې پشان راته ګرانه اونازولې يې که ته رانه داسې دميرڼي ځوانيمرګ په سر خپه شې نوبه زه څه کومه ،ګوره ! زه له دې خبرلوڅوګاونډيانو، نه ډارېږمه که نه زما څه ځي ډوډۍ ته پخوې اوزه به يې خورمه-

بي بي لاسونه له غاړې لرې کړل اوبنګړيوالې ته يې هم يوه څپېړه ورکړه ، بيا يې وويل:

-ښه اوس ښه شوه ، دپيشو په سترګه راته ګورې لويه يې کړه زامتونه يې وباسه اخرکې درته وايي دپيشوغوندې راباندې ګرانه يې_

-ګوره ته په مينه باندې هم نه پوهيږې-

(c) ketabton.com: The Digital Library



-هومانه پیشوجوړوې اوبیاراته وایې په مینه نپوهیږې ؟

-هغه هدایت هدایت اوپلټونکی والله که دربانديې ملامت وي په خپله پېشوګۍ یې چې په هرچا غوروهې

-ښه سمه ده ډوډۍ ورته وکړه داته دي خوشحاله بس نوره پخلا ، اشتي شو....

بي بي رڼا دومره نه ځورلوله ورسره پخلاشوه- په دې فیصله شول چې مازیګر به میړني ته ټیلیفون کوي اودسباډوډۍ لپاره به یې راغواړي -

دبي بي مهماني نوره هم رڼا سودايي کړه - ځان سره یې اندېښنه وه چې نه داپرې پوه شوي وي اوسباته هغه ته ددې په اړه بد ،رد ونه وايي اومیړنی ورځينې بیزاره نه کړي - له کوره چې راووته نوکورته نږدې یوPCO ته ورتاوه شوه اومیړني ته یې ټیلیفون وکړ- ترڅو ورسره وګوري–

......................................................................

دولسم څپرکی

رڼا له صراف نه ډالرې راواخیستې او دصدر هغه تم ځای تهورروانه شوه چې له میړني سره یې وعده ایښې وه لږه فاصله پاتې وه چې په موبایل باندې یې زنګ راغی - نمبرته یې وکتل چې دمیړني و- مخکې تردې چې ځواب ورکړي موبایل یې بند کړ ولې چې څوقدمۍ ته یې ورسېدلې وه - میړنی به هره ورځ ښې ښې جامې اچولې وې خونن یې ترنورو ورځوښې جامې اغوستې وې په ټاکلي ځای کې ولاړو اودرڼا دراتګ انتظاريې کاوه - رڼا وروړسېده له سترې مشې نه وروسته میړني ورته ګیله وکړه:

-دکپارلورې ! داموبایل ولې بندوې ماته خودې اندېښنه راواچوله ماوې نه چې جنۍ لاړه خرابه شوه-

-نه جنۍ به خرابه نشي په دې باور ولره خودهلک دخرابېدو وېره شته-

(c) ketabton.com: The Digital Library



-څه دې وويل پوه نشوم ؟

-غم مه کوه اوس به په هرڅه که خدای کول پوه شې-

-ولې ؟ نه چې مېرې ابۍ څه درته ويلي دي ؟

رڼا دبي بي ټولې خبرې ورته وکړې اوبېوخته دبرښينا دډالرو رالېږلوکيسه يې هم ورته تېره کړه دسباورځې دمهمانۍ کيسه يې هم ورته په خوند خوند ياده کړه- مېرني چې ښه په غورسره يې درڼا خبرې اورېدلې وې رڼا ته يې اطمينان ورکړ چې دبي بي په خبرو به نه غوليږي اونه هغه دومره ساده ښځه ده چې په لومړي ملاقات کې درڼا دغيبتونو دسترخوان ورته وغوړوي-

ميړني رڼا ته دبيگانۍ شپې کيسه تېره کړه او خپلې دزړه پټې خبرې يې ټولې ورته وکړې هغوی دواړه په پارک کې په کرسۍ باندې يوبل ته نژدې سره ناست وو په خپلو خبرو اوانډېښنو باندې يې کله به يې خندل اوکله به يې ژړل

-

اوس ميړني ته زړه لږڅه سپک ښکارېده هغه داسې څوک موندلي وو چې دهغه دغمجنو کيسو داورېدو وړتيا يې لرله - نن ميړني ته رڼا نوره هم نژدې نژدې ښکارېده زړه يې غوښت چې ديوې شېبې لپاره يې هم له ځانه بيله نه کړي خو درڼا دخپلولولپاره څه وخت لا پاتې و-ټوله ورځ يې سره په پارکونو کې تېره کړه نژدې مازيگروچې له پارک نه دکورپه نيت سره رااروان شول - ميړني رڼا ته وويل چې کله کورته لاړه نودبي بي په مخ کې دې هغه ته دسبا دميلمستيا لپاره ټيليفون وکړي - کله چې دپارک دروازې ته رارسېدل چې ميړنی پښه نيولی غوندې شو- راروان ځلمي هلک ته رڼا اوميړني په وارخطايۍ وکتل رڼا هلک ونه پېژانده خودميړني له حالت نه پوه شوه چې کوم پېژندگلوی يې دی - رڼا وپوښتل:

-زړگيه ! څوک وو ؟

-هسې دهدايت هدايت ډبله ماراندېوال و -

(c) ketabton.com: The Digital Library



-چې و، و نوځه په بلا یې وهې !  هسې دې بله ورځ ازمویني پیلیږي که خدای کول یوه میاشت خواري ده-

-جنۍ له بل څه نه ډاريږم خو هغه ډېر شیطان دی ، تارانه خرابه نه کړي - هغه ته چې خبره ورسېده داسې فکر وکړه چې دنیاته ورسېده-

-داسې خوده،  دومره چې ته په ما ولاړيې زه هم ستا په شان یمه بېغمه کېنه زه دچا په ببولالو نه خطا وځمه-

میړني ته دربا عادت اوس پوره معلوم شوی و، اولیونتوب یې هم،  ډېر یې ورته وویل چې په کورکې به له پوره حوصلې نه کاراخلي اودبي بي په مخ کې به بې ځایه حرکتونه  اوځان به نه پویه وي-  په همدې هیله چې سبابه میړنی په خپل کورکې ګوري له یو بل نه سره جلاشول-

نوربیا..............................

دیارلسم څپرکی

ربا بي بي ته ډالرې ورکړې -  بي بي ولیدل چې ربا ځانته څه نه دي اخیستي په زړه کې یې اندېښنه راولاړه شوه نه چې دوېږمې سره نه ده تللې ورته ارمان ورغی چې کاشکې داورسره تللې وای بیا یې په زړه وروګرځېدل چې دابادۍ رادیو دفترته خوبه نه وي تللې نویې وپوښتل

-ولې دې ځانته جوړې وانه خیستې ؟

-هسې وېږمې راسره ډالرې ولېدې ماویل چې ورته دکومې جوړې تمه په زړه کې راپیدانشي بیا به یې غواړي اوزما دجیب پېسې دومره نه وې-

-میړنی دې ولیده ؟

-نه،  ولې ټیلیفون یې کړی و؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



-نه نه ولې ته راديوته نه وې تللې ؟

-څه مې کول ، وړمه راسره وه هغې ته مې تراوسه نه دي ويلي ،خدای خبر چې کارمې کيږي اوکه نه ؟

بي بي ډالرې وشمېرلې هغه يې په ځای کړې رڼا ورته پلمه وکړه چې ترغرمې پورې دوړمې کره وه هغوی ميلمانه درلودل دهغې دمرکې لپاره خلک راغلي وو نووړمه نشوای ورسره تللې- له ځانه يې هلک اويوه کورنۍ راپېداکړه او کيسه يې رابرابره کړه ترڅوشک يې په يقين بدل شي دبي بي يقين راغی چې جنۍ خو له وړمې سره تللې ده هغې ته يې يوګيلاس سوړ شربت جوړکر اورايې وړ، د رڼا مخې ته يې کېښود بي بي رڼا ته کړل:

-دلته يې ټيليفون نه وکړی ، ډېر انتظارمې وويست-

-ولې دڅه لپاره ؟

-هسې چې ورته ووايمه سباته مونږکره راشي ستا غم راسره دی چې له معلمۍ نه خلاصه شې

-نه بي بي داسې راته ښکاري چې دکاسې لاندې کومه نيمه کاسه ده ته څه سوچ کوې چې داجينګو ميړنی به مې خوښ شوی وي-

والله که په داسې اسانۍ رانه خلاصه شې اوغوړونه دې په کرارشي  داخوبونه دې له سره وباسه زما داپېښور له بلا نه هم بدراځي ټوله شپه او ورځ په دعايمه چې کله به په يوه لندني باندې برابرېږمه خوزه دبرښينااا وجمال غوندې بيوفانه يمه تاهم له ځانه سره بيايمه-

رڼا په کړس کړس وخندل خوبي بي ترړڼا لويه مکاره وه هغې کله داسې په اسانۍ سره خپل پلا ن افشا کاوه رڼا په مزه مزه خپل دشربتوپياله نوش جان کړه اودټيليفون خواته ورغله:

-ښه بي بي جانې اوس به ميړني ته ټيليفون وکړمه څه ورته ووايمه ؟

ـــزه څه پوهېږمه ترما زويه ته هوښياره يې په هرډول يې چې ورته وايې ووايه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا دميړني دموبايل نمبر ډايل کړ بي بي يې خواته ناسته وه دڅوزنگونو نه وروسته يې ځواب واخيست:

-سلام ميړنی صيب ! فکر کوم چې ډېر مصروف ښکاری ستاسو وخت ونه نيسم-

-نه ولې گرانې بله ورځ مې دډله ايزو رسنيو مضمون پارچه ده خپل نوټونه مې راواخيستل همدااوس په يونيورسټۍ کې هغه ځي ته ور روان يمه چې زه اوته سره تېره ورځ ناست وو هلته به خپل نوټونه ولولم-

-ښه ډېرښه مورمې ښه ده سلامونه درته کوي ترڅنگ مې ناسته ده-

-موردې په بلا ويمه ، دظالم لور سمه دآی ايس آی جاسوسه ده ،يوه شېبه دې هم نه پريږدي

-والله ته ډېر پرې گران يې زړه په زړه ائينه ،ماويل که سباته وخت لرې نومورمې درته ډوډۍ کړې مونږکره به راشې - هوريښتيا ميړنی صيب زما کارونه څنگه شول له مرکزي دفترنه مو احوال نه دی راغلی ؟

-بيغمه شه که هلته مقرره نه شوې نوما خوخپله سکرتره مقرره کړې يې_

بي بي رڼا ته وويل:

-ته اوس دخپل ځان غم مه خوره ورته ووايه چې راځي اوکنه ؟

-ميړنی صيب سبا ته به راشې اوکه څنگه ؟

-ولې نه ته په پښو وايې زه به په هوا درشم-

-نه دتکليف خبره نه ده که ريښتيا راباندې وايې نوزما مورته خپل زوی وريادشوی اودهغه مينه په تاماتوي-

-داسې مه وايه بسم الله که دظالم لورې که نه بيا خوبه خوراو، وروړشو گوره له ياده دې ونه وځي دشپې په دولسو بجودرته زنگ وهمه-

-ښه نوسمه ده دخدای په امان-

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



درنۍ په وروستۍ خبرې بي بي ښه خوشحاله شوه رنۍ ته يې مخ واړاوه:

-ياره ښه هوښياره يې رښتيا چې ماته دجمال غوندې ښکاري-

-زه څه پوهيږم چې جمال غوندې ښکاري اويا .......... خوسړي ته مې ښه بانه وکړه نوردې زړه-

دشپې دولس بجې راروانې وې خداى خبر نن شپه بي بي له جاى نمازله سره نه پورته کېده شاپه شا يې نفلونه کول - درنۍ زړه دميرنی دټيليفون لپاره وارخطا وو دبي بي فشاربه تل ټيټ و- رنۍ له لنډسوچ نه وروسته لاړه الماری يې خلاصه کړه اوغلې يې دوه دخوب گولۍ راواخيستې  خوږ سوړ شربت يې جوړکړ بي بي چې سلام وگرځاوه نويې مخې ته کېښود -

-بي بي رنگ دې راته ښه نه ښکاري چې فشاردې ټيټ نه وي داشربت وڅکه اونورخپل لمونځونه کوه-

بي بي هم پرته له خبرې دشربتو پياله په سرواړوله لا څلورم وارسجدې ته کښته شوې  نه وه چې سر ورباندې دروند شو پاتې لمونځ يې په مشکل سره وکړ، سلا م يې وگرځاوه اورنۍ ته يې وويل:

-زويه ! ماته ځاى راسم کړه چې چې ښه خوب راباندې راغی-

لس دقيقې لاتېرې نه وې چې بي بي په ښه درانده خوب وېده وه اوخرهاری يې دټيليفون له غوږۍ نه دميړني ترغوږه رسيده - رنۍ اوميړني دشپې تردريو بجوپورې ځانونه په مجلس اوخبرو ښه ستړي کړل -  وارپه واربه يې درنۍ په دې ټوکې چې په بي بي يې عملي کړې وه سره دواړو خندل ، شپه په مزوکې روانه وه،  بي بي خوبونه ډزول اوميړني له رنۍ سره دنيموشپوله خبروخوندونه اخيستل-

..............................................................................

څوارلسم څپرکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پس له دریوومیاشتورخصتۍ نه درڼا ښوونځی اودمیړني ازموینې پیلېدل - رڼا خوشحاله وه له یوې خوا، دبي بي له جنجاله خلاصېده اوله بلې خوا میړني ورسره ژبه کړې وه چې دازموینې په پای کې به ورسره کوژده کوي درڼا له پښو زولنې خلاصېدې - هغې پرته له پلمونه کولای شول چې له خپل میړني سره په ډاډه زړه هره ورځ وګوري اوهمدارنګه په خپلو زد کوونکوپسې هم ډېره خپه شوې وه - رڼا اوس په پخلنځي کې وه دغرمې لپاره یې څه پخول وروسته ښوونځي ته تله- بي بي دتازه شیدو لپاره دکورسره نژدې مارکیټ ته تللې وه - په ټیلیفون باندې زنګ راغی رڼا غوږۍ پورته کړه:

-هلو

-سلام ګرانې څنګه یې ؟

-سلام ته څنګه یې ؟ خوب دې پوره شو اوکنه دشپې ډېر سره وغږېدو-

-هو له تانه وروسته مې درس نشو ویلی ویده شوم اوس راته دعاکوه چې ازموینې ته روان یمه-

-ولې نه زما دعا تل ترتله درسره ده-

-ښه ګرانې اوس نوځم له ازموینې نه چې خلاص شوم بیا ټیلیفون درته کوم-

-سمه ده دخدای په امان-

رڼا لاغوږۍ نه وه ایښې چې له پخلنځي نه دبي بي غږ راپورته شو-

-خدای دې ځوانیمرګه که چېرته ورکه یې اوس ښه شو تورې بنګړیوالې دې مخ درتورکړ:

-ولې بي بي دغه ده درغلم-

-مانه درته ویلې چې داخدای ویلې له کوره ورکه کړه خوپه تاباندې له مانه هم ګرانه ده ټوله غوښه یې وخوړه څه دې کول ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



-هسې داوتو ساکت مې له برق نه ويست چې ونه سوځيږي-

-ښه ښه اوس به څه پخوې زه خوديگی نشم کولای-

-خيرده يوه ورځ به يې سپوره وخورو-

-ولې نه اوس دې بيا ښوونځی پيل شو که خدای کول هره ورځ به همداحال وي-

رڼا ته دښوونځي پيل کېدل دنوروکلونوپه شان خوندنه ورکاوه دومره دپخواپشان خوشحاله نه ښکارېده زرمينې او وږمې هرڅومره ورسره ټوکې ټکالې کولې خوپه رڼا کې خوند نه وپاتې - رڼا اوس بدله بدله ښکارېده، زرمينې وږمې ته وويل:

-جنۍ ! ولې داسې خپه خپه ښکاري ؟

-ميرې به يې بيا ورته څه ويلي وي ؟

-راځه چې ترې وپوښتو چې خبره کوم ځي کې ده ؟

زرمينې هرڅه درڼا خوله لټوله خوبرياليۍ نشوه چې په څه باندې پوه شي په مات زړه دووږمې خواته ورغله هغې ته يې وويل چې په جنۍ خوڅه اثرشوی خدای خبر چې دبنيادمانودی که دپيريانو- که نه نو کله هم داسې خاموشه اوچرتي نه ښکارېده - درڼا دې حالت زرمينې اووږمې ته وسوسه راپيداکړه اودواړه په دې لټه کې شول چې څرنگه دغوټې سر راپيداکړي ــ

په رڼا نن ورځ په ښوونځي کې ډېره اوږده اوسخت انتظارنه ډکه تېره شوه - نه ښوونځي ورته خوندورکاوه اونه دزرمينې او، وږمې ټوکو ټکالو ، هغه سهارنۍ خوشحالي يې اوس نه محسوسوله - درخصتۍ شېبوته په انتظاروه چې کله به له ښوونځي نه وځي اوميرني ته به ټيليفون کوي ــ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ډېرې بې صبرۍ سره هغه شپې راورسیدې - رڼا نن له زرمینې او ، ورمې سره دبسونو ترتم ځای پورې دپخواپشان یوځای رانغله، هغوی ته یې یوه پلمه وکړه اوځان یې دښوونځي سره نږدې پې سي او ته ورساوه اومیړني ته یې ټیلیفون وکړ - په ټیلیفون کې سره وغږیدل اودیوبل سره دلیدوتم ځای یې وټاکه - وروسته رڼا کورته هم زنګ وواهه بي بي غوږۍ پورته کړه:

-رڼا ! ته یې ؟ ولې زویه خیریت خودی ؟

-بي بي نن زه مازیګر کورته راځمه زمونږ دښوونځي ټولو معلمانو فیصله کړې چې ډوډۍ په ګډه دباندې یوځای خورو-

-زویه ! تروردې له کابله راغلې دتا دملګرې فرحناز خط یې هم راوړی دی-

-ښه سمه ده زه اوس ځمه چې معلمانې راته منتظرې دي-

-ګوره وختي راشې چې هغې خوارکۍ شپه په جلال ابادکې کړې ده ډېره ستړې ده ډوډۍ به وختي وخوري او ارام به وکړي-

-سمه ده سمه ده دخدای په امان-

او اوس رڼا میړني ته مخامخ دهوټل دډوډۍ دمیزترشاناسته وه - میړنی هم خوشحاله ښکاریده هغه نن خپله پارچه سمه ورکړې وه له خپلې ازموینې نه راضي ښکاریده - رڼا دخپلې ملګرې فرحنا ز دلیک اودبي بي دخور دراتګ زېری په میړني وکړ دفرحنازپه اړه یې وویل چې دکابل په کورنۍ جګړې کې دوی له یوبل نه ورک شوي ،له هغې ورځې نه چې رڼا پېښورته راغلې له فرحنازنه خبره نه ده چې چېرې ژوند کوي خوهغه درڼا یوه خوږه اوښه ملګرې ده رڼا اوس دفرحناز دصفتونو دسترخوان دهوټل دمیزپه سر اوارکړی و- دخپل ماشومتوب خاطرې ، دفرحنازسره لوبې اونورې ډېرې خوږې ترخې یې را اخیستې وې میړني هم په مینه ورته غوږنیولی و- که څه هم داکیسې ورته جالبې نه وې خوړنا ورته ترحده زیاته ګرانه وه نوپه دې خاطر دهغې هره خبره له مرغلرو نه هم ورته قیمتي وه_

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رڼا باندې دترور راتګ دومره ښه نه وه لګیدلې  خودفرحناز دخبرپه راوړلو یې زړه خوشحاله و-  میړني ته یې وویل چې دبي بي خوریې له بلا نه هم بده راځي له یوې خوا اودسونه ډېرکوي اودبلې خوانه دامیتابچن فلمونه یې زیات خوښیږي - نودامجبوره ده چې هرماښام هغې ته یوفلم راوړي اوبله داچې نوره به رڼا هره شپه د میړني سره په ټیلیفون دنیموشپو ډاډه خبرو لپاره د دووپه ځای دخوب څلورو ګولیو ته اړتیا ولري-

مازیګر راروان و- رڼا نوره مجبوره چې له میړني نه جلاشي اونوره کورته لاړه شي ، دمیړني هم زړه نه غوښتل خوهغه نن ماښام یې باید دبل مضمون لپاره تیاری نیولای وای  چې ازموینه یې لږ څه مشکله وه - دواړودنیموشپو دخبرو په هیله له یوبل سره مخه ښه وکړه-

..................................................................................

پنځلسم څپرکی

ملغلرې ترور رڼا څوواري په مخ ښکل کړه اوخپل څنګ ته یې کښېنوله دملغلرې ترورپه زړه خدای خبرڅه وګرځېدل بي بي ته یې وویل:

-دانجلۍ ولې دومره ژوبله شوې ده هغه بل وارې چې راغلې وم ښه وه دومره ژوبله نه وه مریضه خوبه نه وي ؟

-نه بابا  داخپله ځان خواروي وایي چې (رسمات )شمه نن سبا ټولې جنکۍ ډوډۍ نه خوري نرۍ ملا ، دمخ هډوکي راوتلي ، سترګې ننوتلې ، ډانګ ډانګ لینګي اوسیخ سیخ لاسونه خوښوي-

-توبه توبه خدایه ! نجلۍ خوډډه اوپسته ډکه پکه ښه ښکاري نه لکه دډول لرګی ،  رڼا له ملغلرې ترورنه دفرحناز په اړه وپوښتل:

-بي بي راته ویل چې دفرحنازخط دې راوړی چیرته وه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



-په موکرویانوکې، هغه زما لیورثواب ګل خوپېژنې؟ هغوی ته مخامخ یې کوردی یوه ورځ یې دثواب ګل دوی په دروازه کې ولیدمه خوارکۍ وې پېژندلمه بیا یې ستا ډېره پوښتنه وکړه اوس چې راتلمه نوډېر یې راته وویل چې داخط به درته رسوم-

رڼا دفرحنازلیک دملغلرې تررونه واخیست اوپه لوستلویې پیل کړ دهرې کرښې دلوستلوسره رڼا لپې لپې اوښکې تویولې- فرحناز په لیک یې دخپل واده اودیوې لورذکر هم کړی و- دخپل کوردټیلیفون نمبریې ورته لیکلی و- اورڼا نه یې په کلکه غوښتنه کړې وه چې خامخا ورته ټیلیفون وکړي - رڼا څوواري لیک ولوست او وار، واربه یې ورته ژړل - دبي بي نورزړه ورته تنګ شومخ یې ورواړاوه :

-جګه لیونۍ ! دومره ژاړې له مارکیټ نه یو ټیلیفون کارت راوړه اوټیلیفون ورته وکړه زړه به یې نورهم خوشحاله شي-

-ښه ځمه اوس دماښام دیګی وکړمه اوبیابه لاړه شمه-

-نوردې زړه چې هرڅه کوې ګوره پام کوه چې بنګړیواله دې بیا غوښه ونه خوري-

-دابنګړیواله څوک ده ؟

-هسې توره پېشو ده چې رڼې پرې له نازه توره بنګړیواله نوم اېښی دی- خورې ! څه به درته وایمه په رڼې دومره ګرانه ده چې دقصابۍټولې غوښې یې پرې وخوړلې اوس به راښکاره شي-

-وئ خورې ! څه یې کوې جنۍ ده بل څوک خونشته چې رڼه ورسره پام غلط کړي پرېږده یې-

-ټوله ورځ یې پورته پورته اچوي له مونږ نه دهغې قدرډېر دی که مې وارپرې برابر شو نوپه خلطه کې به یې واچومه اولرې به یې په کومه کنده کې خطاکړمه چې بیا هېڅ لاره دکورپېدانه کړي-

(c) ketabton.com: The Digital Library



بي بي اوملغلرې همدابحسونه راخيستي وو اورښا په پخلنځي کې دماښام لپاره تيارى نيوه _ دماښام تربانګه وروسته رښا له پخلي نه وزګاره شوه - دفرحنازټيليفون ته يې تلوسه وه لاړه له کورسره نژدې  مارکيټ  نه يې دټيليفون کارت راوړ اوفرحنازته يې کابل ته زنګ وواهه-

رښا له فرحناز سره په ټيليفون کې ښې ژړاوې وکړې وروسته له ډېرو کلونوپې يودبل غږونه واورېدل - رښا ورته دپېښوردکورپوره ادرس ورکړ اوپه کلکه يې ورټخه وغوښتل چې خامخا دې په دې لنډو ورځوکې پېښورته راشي - فرحناز ته چې رښا ترځانه هم ډېره ګرانه وه ورسره يې ومنله - بي بي هم فرحناز سره خبرې وکړې اوزړه نازړه يې ورته ستونه وکړل چې پېښورته له خپل خاوند سره راشي ولې چې اوس دپېښور موسم هم مخ په ښه کېدودی اوګرمي نوره خلاصه ده-

رښا نن دفرحنازدغږ په اورېدو ډېره خوشحاله وه،  دماښام له ډوډۍ نه وروسته دجمال ټيليفون راغی رښا وربانديې دترور زېرى وکړ - خوجمال له ترورسره ډېرې لنډې خبرې وکړې له دې وېرې چې نه بيا دډالرو غوښتنه وکړي خوله خداى پاماني نه مخکې بي بي له جمال نه غوښتنه وکړه چې برښينا ته ټيليفون وکړي اودترورزېرى پرې وکړي چې خپلې ترورسره خبرې وکړي-  دجمال ټيليفون قطع شو اونيمه ګېنټه نه وه تېره چې دبريښنا ټيليفون راغی -برښينا له خپلې ترورسره ډېرې خبرې وکړې -  ترورېې دخپلې دټوخي اوسينه دردۍ نه شکايتونه وکړل - بريښنا په بي بي اورښا وظيفه کېښوده چې تروربه خامخاد ډبګرۍ يوښه اوپوه ډاکټر ته به ښکاره کوي  اودوابه ورته اخلي له ټيليفون نه وروسته ملغلره ترور بريښنا ته لاس په دعاګانوشوه-  له يوې خوايې زړه نرى شوى و، ژړل يې او له بلې خوانه يې بريښنا ته پټه پټه دعاګانې کولې-

شپه له دولسوبجونه اوښتې وه  بي بي اوملغرې دکابل دسختيو کيسې راخيستې وې- رښا ته هم خوب نه ورته اوميړنی يې ترسترګو سترګو کېده دخپل دمشغولا لپاره دلنډوکيسو يوکتاب يې راخيستی و- چې په ټيليفون باندې زنګ راغی رښا پوه شوه -چې ميړنی دی نودبي بي نه يې واردمخه کړ اوغوږۍ يې پورته کړه-

-هلو سلام ! زرمينې  ! څنګه يې خيريت خوبه وي چې په دې ناوخته کې دې فون وکړ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



-څه وکړم ګرانې خوب نه راځي هغوی فکرکوم چې لاخوبولي شوي نه دي ؟

-نه بابا.....

-ولې ګولۍ دې نه دي ورکړي ؟

-نه تباشير يوه دانه پاتې و- ماښام ډېره مصروفه وم پام مې نه شو چې له مارکيت نه يې واخلم-

-والله ګرانې نه خوب راځي درس ته مې هم ډېډه نه لګيږي-

-خير ګزاره به کوو سبا ته به له ښوونځي نه وروسته خيبربازارته دواړه لاړې شو کتابونه تباشيرونه اوټول شيان به په کرارې سره واخلو سمه ده دخدای په امان-

بي بي په غوصه کې وويل:

-دزرمينې په دې نيمه شپه کې څه فرمايش و -

-همداسې ويل يې چې سهاربه زه وېده يمه اوس يې ټيليفون وکړ چې کورکې ووايه چې سبا ته له ښوونځي نه وروسته خيبر بازارته ځو اودښوونځي لپاره دقرطاسيې مواداخلو-

رڼا نور دميړني له خوا زړه راټول شو په خپل خوب ځای کې غزېدلې وه اودميړني په سوچونوکې تللې وه -بي بي اوترورېې هماسې په خپلوخوب ځايونو کې ناستې وې اودکور اوکلي کيسې يې راخيستې وې-

ملغلرې بي بي ته اشاره وکړه چې رڼا وګوري چې ويښه ده که وېده رڼا ځان په خوب اچولی و- بي بي وليدل چې درڼا سترګې پټې دي نووې ويل:

-خواره وېده ده-

-خورې ښنګه خلک ورپسې راځي اوکه نه ؟

-هوښنګه نه راځي خودايې نه کوي کاشکې چې ددې په ځای بريښنې پسې راغلي وای هغه راته په کور زړه شوه-

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



-کوم انډیوال خوبه نه لري چې طلبګارانو ته ځوابونه ورکوي-

-والله که ؟ یواځې مکتب ته ځي راځي ماورته پوره پام دی دکورټیلیفونونه هم څارمه پرته له مجلو اواخبارنونه بل ځای ټیلیفون هم نه کوي اونه له بل ځای ورته ټیلیفون راځي-

-څه ښه ده دنن زمانې جونکۍ دیوه په ځای ځلورځلور انډیوالان ساتي- وایي څه یونه یوسره خوبه واده وکړمه -

-نه داښه ده خوډېره خشک خلقه ده جنګونه ډېر راسره کوي نوره داسې بده نه ده-

بي بي اوملغلرې بېرته دکلي اوکورکیسې راواخیستې اورڼا نوره دخوب دنیاګۍ ته تللې وه-

نور بیا....................

شپاړسم څپر

رڼا خودمیرني دلیدلو لپاره لاماښام تیاری نیولی و اوبي بي ته یې پلمه جوړه کړې وه اوس خوشحاله دائینې مخې ته ولاړه وه اوخپل وېښتان یې په قیدګ کې ټینګول چې په ټیلیفون باندې زنګ راغی درڼا په اآند چې یا به دجمال ټیلیفون وي اویا به دبرښینا - نو بي بي ته یې اشاره وکړه چې غوږۍ پورته کړي- بي بي چې ددسترخوان په سر چای اوسباناری یې سماوه ، غوږۍ یې پورته کړه اووې ولیدل چې نه برښیناده اونه جمال غوږۍ یې دمیزدپاسه کېښوده اودرڼا خواته ورغله ورته یې وویل:

-ستاټیلیفون دی له کابله ګمان مې کېږی چې مقرره شوې....

رڼا په وارخطایۍ دټیلیفون خواته منډه کړه-

-هلو څوک خبرې کوې ؟

-رڼا ځوانیمرګې زما غږ نه پېژنې هدایت یمه-

(c) ketabton.com: The Digital Library



-سلام څنګه یاست هدایت صیب خیروخیریت-

-ښه یم ته څنګه یې ؟ دادی همدا اوس مې ستا یوه کیسه چې په یوې مجلې کې چاپه شوې وه ولوستله ډېره ښه کیسه ده نن سهار وختي مې راډیوکې نوکریوالي وه نو په زړه مې راوګرځېدې ټیلیفون مې درته وکړ-

-مننه ژوندی اوسې-

-پېښورکې څه حال دی ته څه کوې ؟

-پېښور ښه دی ګرمي نوره په ختمېدوده- زه یوازې ښوونځي ته ځم اوراځمه-

-چاراته ویل چې په ابادۍ راډیو کې دې کارپیداکړی ، ما پلټونکي ته ټیلیفون کړی و، هغه راته وویل تراوسه زه په دې موضوع باندې خبرنه یم-

-نه بابا! زه خو ستا اودپلټونکي صیب پېرزوینوته سترګې په لاره یمه - درادیو ګانو غولی خوتاسو اجاره کړی ، خوشحاله یمه چې دزمکې سرمونه دی اجاره کړی ، که نه نو بیا به ماخوارکۍ چېرې ژوند کاوه-

-لیونۍ! دتا اخلاق خراب دي ، بیا به دهرچاسره لاس اوګریوان یې - ترخه خبره نشې زغملی - ماتر کي صیب سره لا وختي ویلي وو چې راځه جنۍ به راولو اخربه سمه شي هغه دامتل راته تېر کړ ( چې ایزده یې کړي په طفلۍ ــ هېر به یې نه کړي ترپیرۍ ) پرېږده یې خپل کاربه کوي-

-هدایت صیب امرکوئ څه لپاره مو تکلیف ویستی و -

-چاله میړني سره لیدلې وې ما ویل نه چې په ابادۍ کې مقرره شوې یې چې مبارکي درکړمه-

-څه که خېر و، نو څوورځې وروسته به نورې مبارکۍ به هم راکړی - وبخښئ په ما ناوخته ده، زه ښوونځي ته ځمه ته خو هسې وزګارسړی یې دخدای په امان-

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا غوږۍ کېښوده سرپرې وڅرخيده په خپل ځای کېناسته ناڅاپه يې له سترګو اوښکې راتو يې شوې دبي بي چې ورته پام شو منډه يې ورواخيسته اوغيږه يې ترې راچارپيرکړه-

-ولې ؟ رڼې ! خدای وهلي څه درته وويل ؟

-هسې زما دمقررۍ خبره ده خدای وهلي اوپلټونکي سرخوړلي ته رسېدلې ده په والله که مقرره شمه دا دلالان به داسوچ کوي چې زه قلم کېږدمه اوميدان به دې ګېدړانو ته پرېږدمه که پنځوس کاله هم په کورکېنمه خودومره به وليکم چې دنيا راته حيرانه شي زه هم ديوه پښتون له ملا رازېږدلې يمه ميدان خوداسې په مفته نه خوشې کوومه-

-ځه ځه هغه دې نه دي اورېدلي چې کاروان تېرېږي سپي غپيږي ميړنی دې خامخا مقرره وي که ته په خپل کارپسې وګرځې-

رڼا خپلې اوښکې پاکې کړې - بي بي ډېر ستونه ورته وکړل چې سباناری وکړي اوبيا ښوونځي ته لاړه شي خوهغې دهيڅ شي څکه هم ونه کړه ، همداسې په خپه زړه ښوونځي ته لاړه-

ښوونځی خوهسې هم په دې ځوورځوکې ورته دزغم وړنه و، خونن يې هدايت هدايت هسې دانګريزانو خبره موډ يې ورته خراب کړی و- بار بار يې دميړني موبايل ته زنګونه وهل خوهغه په دې وخت کې بندراته -ورځ هم ورته اوږده شوې وه- زده کوونکوته يې نن نوی درس ونه ښود، ځان يې ناروغه معرفي کړ، هغوی ته يې وظيفه ورکړه چې پخواني درسونه تکرارکړي اونوی درس دې په کورکې زده کړي - سباته به دهرې يوې نه پوښتنه کوي او دمياشتني ازموينې نمبرې به ورکوي - زده کوونکو هم له خدايه څه غوښتل همداچې خواپه خواسره کېني اوخپل مجلسونه وکړي-

کله چې رڼا له ميړني سره وليدل نوپه لومړي قدم کې يې دهدايت هدايت دټيليفون زېری پرې وکړ اوټوله کيسه يې ورته تېره کړه - ميړنی هم پوره ورته غوږ غوږ و- رڼا دخپلې مقررۍ لپاره اوښکې تويولې چې ددې خدای شرملو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له لاسه یې دیوې ښې نوکرۍ داچانس هم دلاسه ووت - درنا خبرې چې نورې خلاصې شوې میرنی لستوني بډوهل اورنا ته یې کړل:

-ګرانې ! داښایسته سترګې دې مه خرابوه اوداقیمتي اوښکې دې ددې وروخلکوپه سر مه تویوه، زه نه د هدایت هدایت پروالرم نه دپلټونکي ، داپوښته چې ما دې غږ لیږلی دی اوکه نه؟ په کومه ورځ چې مې ولیدې په هماغه ورځ مې خپل تصمیم ونیوه چې ته داباده درادیو خبریاله نه زما دزړه درادیو خبریاله یې -زه خپله معشوقه، خپله مینه اوبلاخره خپله دراتلونکي ژوند ملګرې به اباده رادیوته ورکوم؟ نه ! نه ! له دې وروسته مه د رادیوپه سوچ کې اوسه، نه دبل څه ، خپل شعرونه لیکه اوخپلې کیسې په کورکې کېنه اوښه ډېر بچي راته راوړه اوبس.....

دوروستۍ جملې سره دواړه په خنداشول - رنا نوره دغوټۍ پشان وارپه وار غوړېده دمیړني لاس یې په لاس کې ټینګ ونیوه-

-رښتیا وایې زه نوره ډېره ستومانه شوې یمه، ژوند زما په اوږوبوج ښکاري - ته به رښتیا ماخپله کړې ؟

-ولې نوته په دې کې څه شک وینې ؟ که داسې ده نوبسم الله کړه همدااوس ملا راولم اوپه همدې ځای دې په نکاح کومه-

-څه نوپه دې خوشحالۍ به اوس ډوډۍ وخوروچې داسې وږې شوې یمه لکه........

-هو لکه .... غپ غپ

هغوی دواړه په خوشحالۍ نن ترهرې ورځې دهوټل دمیزترشا ناست ول اوپه ټوکوټکالوپې خپله غرمنۍ ډوډۍ خوړله

-

..................................................................

اولسم څپر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس رڼا ته پته لګېدلې وه چې داټول کاردهدایت هدایت دملګري په احوال وړلوباندې شوی اومیړنی هم ددې له مقرری نه ناهیلي شوی خودرڼا دپاره یې خوله پټه نیولې چې ګوندې په دې خبره به رڼا ډېره خفه شي - دپلټونکي غوړه مالي هغې ته ښه مالومه وه- په پلټونکي رڼا دمارماهي نوم اېښی و، هغه په دواړو ژبو یعنی په پشتو اوپارسي باندې ښې خبرې کولې - چې کله به یې پارسیوانان ولیدل نوده به په پښتنو بد ویل شروع کړل اوچې کله به یې بیا پښتانه ولیدل نوتریوه حده پورې به یې ورسره لاره یوه کړې وه- ترټولوبده خوبیا داوه چې رڼا ته دپلټونکي شاعرۍ هم خوندنه ورکاوه- درڼا په ګمان تل به ورڅخه لاره ورکه وه، کله به یې سپین شعر لیکه بیا به یې دهایکولمنه راټینګه کړه ، دهایکوپه پای کې به یې چې لاره ورڅخه ورکه وه نو ټپې به یې راسرې یې کړې - رڼا دخلکوپه مخ کې له همدې وجې نه ورته د ستومانه شاعرخطاب کاوه خوډېر بیا ددې خطابي نوم په مانا نپوهېدل - رڼا ته اوس پرته له صبره بله لاره نه وه پاتې ، هغه اوس دې ته منتظره وه چې میړنی خپلې ازموینې بشپړې کړي اوددوی دمینې نتیجه به ترې راووځي –رڼا په زړه کې کرل رېبل نه چې دا مېړنی هم تش د نوم مېړنی یا دهدایت هدایت او پلټونکي جمبوری وخېژي-

پلټونکي چې ټوله شپه یې په مستیو تېره کړې وه، په داسې حال کې چې سترګې نورې پرې پټې پټې کېدې خومجبور وچې دراروانې خپرونې لپاره یو مطلب ولیکي - موضوع ورته ډېره پیچلې وه- په عراق کې دڅونیول شویو امریکایي عسکرو په اړ ه مطلب و چې ده باید ژباړلی وای او بیا یې دخبرې د لاسپیناوي لپاره په بغداد کې د کوم عراقي چارواکي سره مصاحبه هم کړې وای - هغه په دې سوچ کې وچې سکریپټ څرنګه پیل کړي، په کوموټکو اوالفاظو یې راشروع کړي –او له چا سره مصاحبه وکړي - دخپلومغزو سره په جنګ و، دانترنیټ له لارې یې له څو مشهورو اژانسونونه څه راواخیستل ، خواوس په دې سوچ کې و چې له کومې خوانه یې راپیل کړي - په دې وخت کې ددفتر په ټیلیفون باندې یې زنګ راغی - په سیلای باندې یې نمبرته وکتل ، وې لیدل چې نمبر دکابل دی - په زړه کې دلور اوښځې اندېښنه ورپیداشوه، نه چې څه پېښه نه وي شوې – نوپه وارخطایۍ یې غوږۍ پورته کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-هلو

-سلام پلټونکیه ! څنگه يې ؟

-وعيلكم سلام څوک خبرې کوې ؟

-اوس خومونه پېژنې ، په مزوکې يې ، هغه رښتيا دي چې يارله کوڅې تېرکړه رنگ يې هېرکړه-

-هو هدايت صيب څنگه يې کورکې ماشومان او ورېنداره څنگه ده-

-ماشومان ښه دي خو ورېنداره دې په بلا ووهه-

-ولې څه جگړه مگړه خوبه نه وي شوي چې داسې ورنه خفه خفه ښکارې ؟

-خفه نه يمه روزگار يې راتنگ کړی ټوله ورځ پلټنې کوي-

-ښه نورځنگه يې شعر معر ليکې اوکه نه ؟

-نه بابا دلته گزاره سخته شوې ، دورځې ددفتر کارونه اوماښام دبي بي فرمايشونه کله کيږي بس هسې ژوند مو په ........ وهلی

-ته وايه بچو دتاخوهسې غوړونه په کراردي کوم شی پيداکيږي اوکه هسې وچه خوله گرځې-

-څه به درته ووايمه هرڅه پريمانه دي خو وخت ډېر کم دی ، په راديوکې ډېر مصروف يم پرته له عاشقی نه نورپه زرو کارونو بوخت يمه-

هدايت دپلټونکي غوړونه ښه ورخلاص کړل او درنا په اړه يې ورته وويل - پلټونکي هدايت ته پوره وعده ورکړه چې درنا دا ارمان به کله هم پوره نشي- دهغې شيشکې لپاره داضروري ده چې په هرښه پوست کې اوپه هرځای کې ښه کس ولرو تر څويې له پښو نه واچوو- درنا دماتې لپاره دتر ه کې خبره چې په هيوادکې يو پوره کمپاين ته ضرورت دی - پلټونکي دتره کي په اړه وپوښتل ، هدايت ورته وويل چې خپله گزاره کوي، ښه ډېر شراب ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسيږي خوپه دې باندې پوه شوی چې په يارۍ کې يې تا پښې ورماتې کړي -دتا دکماپين په چلولو هغه دابادۍ راديوته ونه منل شو -

له اوږدې مرکې نه وروسته دهدايت هدايت دپلټنې ټيليفون خلاص شواوغوږۍ کېښودل شوه - اوس دپلټونکي له سترګو خوب والوته، هغه نه سکريپټ هم هير شو- په دفتر کې مخامخ دمشر دشعبې په لوري وخوځيده، وې ليدل چې مشر لا تشريف نه و، راوړی - له څو وارې تګ راتګ نه وروسته له خپل مشر سره مخامخ شو، په ډېر ادب سره يې وپوښتل چې دراپورټر يوپوسټ خالي دی اودی يوښه ژورنالست پېژني که دوی لطف وکړي نودهغه بيوګرافي به راوغواړي - مشر هم ورته دښه په اندازکې سر وښوراوه- ايله چې دپلټونکي له حلقه لاړې تېرې شوې - سا يې واخيسته اوپه ارامه اعصابو دخپلې شعبې په لوري رارهي شو- اوس نو ديوې پيالې چايو شوق يې په زړه کې وروګرځېده ، خپل کارته يې پام شو اوپه خپل سکريپټ ليکلوېې پيل وکړ، ترڅو دادروند پېټی له اوږې لرې کړي -

........................................................................

اتلسم څپر

رڼا چې ټوله شپه دميړني سره په ټيليفون باندې په خبرو اواترو سباکړې وه نو دبي بي اوملغلرې ترور ګنګوسي هم پرې ښه نه لګيده - بي بي اوملغلرې ترور خپل سباناری کړی و- پررڼا يې غږونه کول چې ولاړه شي او دکورکارونه راسم کړي نن بي بي ددويم ځل لپاره ميړنی راغوښتی و- درڼا شک اوس په يقين بدل شوی و، چې دبي بي په زړه کې خو خامخا يوڅه شته نو بلا يې ورپسې کړې وه - هغې باور درلود چې ميړنی په هيڅ حالت کې هم له رڼا نه که خدای کول نه تېريږي - رڼا خپل روجايي له مخه نه نيم کښه کړه - په کوټې کې په ديوال باندې ځوړندې ګړۍ ته يې وکتل چې ستنه په اتو بجو ولاړه ده، نودبنګريوالې پشان يې له خپل خوب ځای نه راټوپ وهل او تشناب ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاړه- په لسو دقیقوکې یې لامبلي هم و، اوپاکې جامې یې هم اغوستې وې- زرزر یې کوټې راسمې کړې ، وروسته پخلنځي ته لاړه او په پخلي یې پیل وکړ چې بي بي راننوته رڼا ته یې وویل:

- رڼې! ته خو به ډوډۍ جوړه کې که دې میلمه رانشي نوبیا.....

-نوبیا څه په خپله به یې وخورو تاراغوښتی ما خودعوت نه دی ورته کړی ، که دې دامقصدوي چې زه به په دې مهمانیو مقرره کیږم والله ګمان مې نشي - هدایت اوپلټونکی داسې ماران نه دي والله که خو ددنیا دیو پاړوګر زور هم پرې ورسیږي-

-خیر دی الله مهربانه دی هلک خوماته هوښیار ښکاري په بل ځای به دې غم وخوري تاورته ټیلیفون کړی که نه ؟

-هغه دتا په مخ کې مې چې ورته وکړ بیا مې څه نه دي ورته ویلي اونه مالیدلی خیر راشه اوټیلیفون ورته وکړه که نه راته ترور دې کورکې تنګه شوې بیا به ناران باغ ته لاړې سو-

رڼا دبي بي په مخ کې یوځل بیا میرني ته ټیلیفو ن وکړ هغه ورسره وعده وکړه چې ضرور به راځي - بي بي نوره مطمینه شوه چې هلک راځي سوچ یې کاوه چې خامخا یې ددوی کورنۍ خوښه شوې ده نو دفرصت په استفادې سره دملغلرې خواته ورغله، له هغې سره په خبرو اترو لګیا شوه- رڼا تر یوولس نیمو پور ې خپل دپخلنځي نه ځان وزګارکړ، نژدې دولس به وې چې داپارتمان زنګ ووهل شو - بي بي دروازې ته ورغله چې میرني ته دروازه خلاصه کړي - وې لیدل چې دصفیې ورور نذیر وو اوبنګریواله یې په غیږ کې نیولې ، بي بي ته یې وویل :

-تروري داپیشو مو درواخلئ ، مونږ کره راغلې وه زمونږ سویکه یې ښیګاړې ښیګاري کړې ده-

-ایسته یې واچوه زه هم ورڅخه په تنګ شوې یمه داهم درنې پشان خپر لونګه ده-

-ښه ، خیر نو پکارمونه ده نوزه به یې چاره وکړمه-

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنگړیوالې دبي بي په لیدلو لکه چې ورسره سترې مشې کوي  په میو میو پیل وکړ ، په دې کې یې رڼا غږ واورېده او دروازې ته یې ورمنډه کړه - هغه له پرون راهیسي له کوره ورکه وه اورڼا هم ورپسې ډېره خپه وه -  مخکې له دې چې نذیر روان شي رڼا ورورسېده اوخپله بنگړیواله یې ورڅخه واخیسته - خوشحاله کورته رانوته په سترګو سترگویې ښکل کړه مینت یې ورته وکړ چې ولې له کوره وتلې ده،  هغه یې لاله غیږې نه لرې کړې نه وه  چې داپارتمان زنگ بیا په غږېدو شو  ،  رڼا ورمنډه کړه ، وریې خلاص کړ-   میړنی ددروازې مخې ته ولاړ و-  میړني چې درڼا په غیږ کې یې بنگریواله ولیده نودامنظره هغه ته جالبه غوندې وه - بي بي هم دمیړني مخې ته ورغله له روغبړ نه وروسته یې په صالون کې کېناوه -  ملغلره ترور لا هم په تشناب کې وه لامبل یې ، بي بي له میړني سره ناسته وه رڼا په پطنوس کې یوه پیاله سوړ دانارو شربت میړني ته راوړ - بي بي دملغلرې ترورخواته ورغله ، دې وخت کې چې میړني ته ښه موقعه په لاس ورغلې وه نو له رڼا نه یې غیږه تاوکړه اوپه دواړو خواوېې ښکل کړه - رڼا هم دبي بي له ډاره سونگ هم ونه کړ زر له صالون نه ووته ، چې په هلک باور نشته بله غیږه به ورتاوه کړي ، اوبي بي به یې ووینې - نوښه یې داوگڼله چې په پردې کې له کوټې نه راووته -

ملغلره تروره‌م له تشناب نه راووته - بي بي ورنژدې شوه په غوږ کې یې وبنگېده -

-هلک ماشاالله گلالی دی ، الله دې ورحمیږي-

-ودرېږه خورې !  ډېره مه وارخطاکیږه چې زه یې وگورمه بریښنا په ما  ډېره گرانه ده-

-غم یې مه کوه چې وې گورې ته به پرې مینه شي-

-ښه نوچې داسې ده هیڅ غم مه کوه داسې دم گران راته مالوم دي چې سبا ته به دې دروازې ته ملنگ غوندې ولاړوي-

بي بي اوملغلره ترور دواړه په دې خوشحالۍ صالون ته ورغلې  - بي بي ولیدل چې میړنی یوازې ناست دی نوریې هم زړه ته ښه ولگېده - پوره یقین یې راغی چې رڼا یې په کیسه کې نه ده-  رڼا هم پوره خپل ځان کنترول کړی و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوښه ډرامه يې ديوې بريالۍ لوبغاړې په شان لوبوله - ملغلرې ترور ميړنی ښه دزړه له اخلاصه په تندي ښکل کړ - دډوډۍ تر تيارولو پورې  ملغلرې ترور يوه شيبه هم له ميړنی نه سترګې نه اړولې-

ورځ په ټوکوټکالو  مازيګر ته ورسېده - دميړني خوزړه ووچې همدلته خپله بستره واچوي بيا يې کتل چې دبسترې اچولو جواز نه پيداکيږي نو ناچاره دتګ اراده يې وکړه ترڅوځان خپل هاسټل ته ورسوي اودسبا امتحان لپاره تياری ونيسي - مخکې له دې چې درنا له کوره راووځي رنا ته يې وويل  چې سبا غرمې نه وروسته په ګرين هاوس کې کومه غونډه ده نودابه له ښوونځي نه وروسته هلته ځان ورسوي اوراپوربه يې جوړکړي -  وروسته به راپور درادیو دفتر ته يوسي ،  خپل ځان يې مصروف وښوده چې سباته وزګارنه دی - خبره په ډېر مهارت سره رنا ته ورسووله چې بي بي اوملغلرې ترور پرې بوی هم وې نه وړ- په ډېرې خوشحالۍ سره يې  درنا له کوره دهاسټل په لوري رارهي شو - رنا هم پخلنځي ته لاړه اودپخلنځي په پاکولو اودلوښو په وينځولويې پيل وکړ -

 رنا په پخلنځي کې لګيا وه اوبي بي له ملغلرې سره دميړني د صفتونوبازار ګرم کړی و - بريښنا خبره وه چې نن ميړنی دهغوی کره ميلمه دی نو نژدې ماښام يې ټيليفون راوکړ-  بي بي درنا له وېرې خوله ونه خوزوله - برښيناته يې وويل چې څه شېبه وروسته زنګ راووهي-

رنا يې دملا ددرد په ګوليو پسې مارکيټ ته ولېږله چې تروريې لمبلي او ملايې بادونيولی - رنا هم لاړه درنا له تګ نه څه شېبه نه وه تېره چې دبريښنا ټيلفون راغی -  ملغلر ې ترور دميړني په صفتونوخوله خلاصه کړه اوبريښناته يې مشورې پيل کړې-  لومړی يې ورته هدايت ورکړ چې ښې ښې جامې ځانته جوړې کړي اوښکلي ښکلي رنګين عکسونه راوليږي ،  وروسته دميړني رضاکول دبي بي اوددې کاردی  هغې هم ورسره ومنله–

........................................................

نوولسم  څپر

(c) ketabton.com: The Digital Library



بريښنا دخپلو تصويرونولپاره ښايسته ښايسته جامې برابرې کړې اوښکلي پتلونونه يې واخيستل - هومره چې ارايشگاه ته هم پکې لاړه او دخپلو تصويرونولپاره يې ديو فوتوژورنالست سره هم خبرې کړې وې - دسمندرپه غاړې دمستوڅپو ترڅنګ، بيا دخپل سور رنگي موټر خوا ته اودښار په يوه ښکلي پارک کې پرچوکۍ باندې دکېناستوپه حال کې بل عکس يې په يوډېر لوکس رستورانت کې دډوډۍ خوړولوپه حالت کې- وروسته دخپل خوب په کوټه کې ، دخپل خوب په تخت باندې او وروستی تصوير يې دفوټو ژورنالست په مشورې سره سم دکمپيوټر دميزترشا وويست - گينټه لاتېره نه وه چې له چاپ نه يې راوايستل اودخپلو تصويرنو په ليدلو ډېره خوشحاله شوه - هغه بلکل بدله شوې وه -له يوې زړې پېغلې نه يوې پخې پېغلې ته پاتې کېده-

بي بي پخلنځي کې له ملغلرې سره دغرمې لپاره پخلی کاوه اودبريښنا اوميرڼي دکوژدنې لپاره يې سره پلانونه جوړول - په خواږه مجلس سره لګيا وې چې په ټيليفون باندې زنګ راغی -

-هلو

-مورې سلام....

-وئ برښينا جانې! عمر دې اوږد دی همدا اوس مې له تروږسره دې يادولې ، څنگه يې خيريت خو و؟

-هسې مورې ترورمې څنگه ده ؟

-ښه ده سلام درته کوي-

-مورې ماخودترور په خوله باندې وکړل ښايسته ښايسته عکسونه مې واخيستل - درېا په ادرس يې درليږ مه ډاريږمه چې پټ يې نه کړي-

-نه ولې به يې پټوي ( اجستر) يې که...

-ښه مورکۍ راجسترکومه يې ترورمې شته ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



-هو واخله ورسره خبرې وکړه-

-ترورې ! څنګه یې ؟ چې خپه نشې زه خولرې یمه رڼا دچا پروانه کوي-

-نه زویه ! خدای دې په خیرسره راوله، هلک مې ډېر خوښ شو - خداې دې قسمت ورسره وکړه، ته دې له خېره عکسونه راولیږه زه به دې له مورسره دیوه لوې دم ګر کره لاړشمه - هغه داسې تاویز راکي چې ټک وپتره به وي-

- سمه ده- زه به له خیره ډالرې هم درولېږمه دپیسو غم مه کوئ ، بس نورستاسو کاردی - مورته مې ووایه چې له رڼا نه پټ دهغه دموبایل نمبرواخلي ، کله چې زما عکسونه درورسېدل ، رڼا چې ښوونځي ته تللې وي ، تاسوبه دټیلیفون غوږۍ لاندې کېږدئ ، زه به هغه ته ټیلیفون وکړمه ، ورته به ووایمه چې زمونږ دکورنمبرمصروف راځي که یوځل کورته لاړشې زما ضروري کاردی له مورسره مې بیا چې درغی تاسوبه ورته زما عکسونه وروښایئ -

له اوږدو خبرواترونه وروسته بریښنا له خپلې ترور اومورسره خدای په اماني وکړه - ملغلرې ترور بي بي ته وویل چې دلته پېښور کې یولوی نجومي دی په اشنغری کې پاتې کیږي جان محمد سرحدي نومیږي نو که دې خوښه وي نن خورښا هم له غرمې نه وروسته هغه بلا وهلي ځای ته ځي نو زه او ته به وخت له لاسه نه ورکوو، ولاړې به شو ترڅو رڼا راځي کاربه مو یوڅه کړی وي - ولې چې دعکسونونه مخکې زما اوستا تګ جان محمدسرحدي ته ښه دی - بي بي هم ورسره ومنله-

بي بي ته دجان محمد سرحدي ځای او ادارس نه ومالوم خو ملغلره چې کله پېښور کې پاتې کېده ، هغه دخلکوپه اصطلاح دجان محمدسرحدي پخوانۍ ګاکه وه ، تل به یې دخپل زوی توریالي لپاره له همده نه تاویزونه اوڅاښتونه وړل - له غرمې ډوډۍ نه وروسته دواړه خویندې په ټیکسي کې کېناستې اودجان محمد سرحدي په لوري روانې شوې-

............................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شلم څپر

رڼا نن په سندري  رنگو جاموکې ترنورو ورځو ډېر ه ځلېده-   دمیرڼي سره یې دغرمې دډوډۍ ترخوړلو وروسته دواړه دگرین هاوس په لوري  چې دڅوانجوگانو سیمینارورکې جوړېده وروخوځېدل  - درڼا لپاره داپه ژوند کې لومړی ځل و،  چې داسې په ډاگیزه له یوه ځوان سره خواپه خوا یوې لویې غونډې ته روانه وه - میرڼی هم خوشحاله و اوهم خفه -خوشحاله په دې و چې له رڼا غوندې جنۍ سره روان و اوناني پشان ډېر یاران یې سوځول  خوخفه بیا په دې و چې جنۍ چندان په سر کې نه ده لیونۍ غوندې ده نه چې سبا ورځ ورڅخه په شا شي اودی په ډاگه وولي - دمیرڼي په شان کټ مټ اندېښنې درڼا زړه ته  هم لارې موندلې وې اوپه سوچ کې روانه وه - میرڼی پوهېده چې نانی به ضرور سل په سلو کې راغلی وي ولې هغه ورته یوه ورځ مخکې ددې غونډې په اړه په ټینگه ټیلیفون ورته کړی و- چې رادیو ته ورڅخه رپوټ جوړکړي-  په همدې سوچونوکې لاره لنډه شوه اودواړه گرین هاوس  ته ورسېدل - کله چې دویم پوړته پورته شول نو غونډه پیل شوې وه - مخکې له دې چې دغونډې صالون ته سره دواړه ننوځي ، میرڼي خپل ویښتان سره سم کړل اوله خپله بیک نه خپله ډایري یې  راوویستله اورڼا ته یې ورکړه- ا ووې ویل :

-گرانې !  داواخله ،   هلته بیا لاس ترځنې مه کېنه مهم  ټکي راته یادښت کړه-

-ډېر ښه ،   زما ویښتان خو سم دي ؟

-هو بل کل  ،  زه څنگه ؟

-ته هم پوره برابریې -

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرڼی مخکې اورڼا ورپسې صالون ته ننوتل - په غونډه کې راټول شوو میلمنو ټولو ددوی په لوري راوکتل - په یوه قطارکې څوچوکۍ خالي پاتې وې رڼا اومیرڼی دواړه خواپه خواسره کېناستل ، څوکسانو دسر په اشارې سره له رڼا اومیرڼي سره سلام وکړ-

دیوې انجومشر غونډې ته مخامخ ولاړو اودخپلې انجو ددندو په اړه معلومات ورکول اوخبرې یې کولې - دړنا سترګې په لومړي قدم کې په نانې ولګېدې او وروسته یې په روبینې چې په ښوونځي کې یې سره یو ځای په کابل کې لوست کاوه اوتل دښوونځي ددورې رقیبه اوددې سخته مخالیفنوکې راتله ، سترګې ولګېدې خوباک یې پرې رانه وړ ، دمیرڼي ناڅاپه پام شو چې نانی دسترګو لاندې پټ پټ رڼا ته متوجه دی ، نو په هغه ډایري کې چې رڼا ته یې ورکړې وه ، راواخیسته اورڼاته یې داسې ولیکل:

-نن به ددې خلکوډېره ګرمي کیږي-

رڼا ته یې ډایري ورکړه ترڅویې ولولي رڼا ورته ولیکل :

-ولې ؟ دلته خوارکندیشن هم لګېدلی-

-داچې ته زما په خواکې ناسته یې که دوی دروسیې په سایبریا کې هم وي نوله ډېره جوشه به پرې خولې راماتې وي-

-له خدایه مې هم داسې غو ښتي دي-

-خو د نر لور یې کنه-

-رڼا ! دې روبینې ته دې پام دی ؟

-هو ، په دا پیته پوزه ، لنډه ونه ،خو ځان ورته بیا هم د افریقا دحسن ښاپیرۍ ښکاري-

-یره ، په بلا یې ووله اوریدلي دې نه دي چې ، نه دې رنګ شته نه دې ونه ، بلا دې په دا درې چارکه----

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته د اینجو مشر دخپلو فعالیتونو په اړه خبرې کولې او ځان او اینجو یې بړه بړه معارفي کوله ، خو دلته دغه دوه ورک لیوني مینان په ګرم چیټنګ اخته ول - او د اینجو مشر هم انګېرله چې نن میړنی لوی راپور تاژ جوړول غواړي نو د کومک د پاره یې رڼا هم راوستلې ده -خو خبر نه وو چې میړني نن بل رنګه ګلان اوبه کړي دي-

غونډه دمیړني اورڼا په خوږو چټنګونو پای ته ورسېده - دغونډې ګډون وال ټول لاندې صالون ته دچایو دناشتا لپاره راکښته شول - ټولو ګډون والو په نوبت سره درڼا اومیړني سره روغبړوکړل - میړني خپل میني ډیسک له بیک څخه راوویست اوداینجیوګانودمشرانوپه لوري وروخوځیده ترڅوغږونه راواخلي ولې چې ډېرې خبرې خو دچټنګ په لوبه کې ورڅخه تللې وې-

رڼا ته یې وویل چې له خوانه به یې نه خوځیږي - رڼا لاسترمشې سمه نه وه خلاصه کړې چې دیوې مجلې مسوول مدیر پرې غږ وکړ اوخپل څنګ ته یې ځای ورته خالي کړ ترڅورڼا ورسره کېني اوچای وناشتا وکړي - رڼا هم مجبوره شوه لاړه - درڼا خوا ته نانې هم له موقع نه استفاده وکړه ، ځان یې ورورساوه اورڼا ته یې دچایو خدمت ترسره کړ- دشېدونه یې ورته پیاله ډکه کړه، کباب اوبیسکټ یې ورته مخې ته کېښودل - مسوول مدیر اوناني رڼا په خبرو کې راتاوکړه اودلیکنو اوشعرونوپه اړه یې سره مرکه راتوده کړه - میړنی په خپلو مرکو کې راګیر و، خوچندان یې خوند نه ورکاوه، له څوکسانونه یې خبرې راواخیستې اودرڼا په لوري راغی - رڼا ته یې اشاره وکړه چې راولاړه شي خونانی یې په اشاره پوه شو مخکې له دې چې رڼا له میړني سره راووځي ناني ورته دګرین هاوس په دروازه کې شا سلامي ولاړو- نانی نن په رڼا باندې له سره هم تېر و، میړنی خویې لادپخوانه بدراته خونن یې دومره له پامه بد شو ته به وایې چې شرین پلارېې وروژلی - میړني اورڼا چې نانی ولیده نومیړني رڼا ته وویل :

-له دې جنجال نه اوس څنګه ځان خلاصوو-

-خیرته یې غم مه کوه ماسره یې چاره شته ، مخکې له دې چې په لاره راسره روان شي ورسره خدای په اماني به وکړو - همداسې هم وشول خوترټولو ترخه خاطره داوه چې رڼا نن دلومړي ځل لپاره دمیړني په مخ کې ناني ته وویل

-

(c) ketabton.com: The Digital Library



-نانیه  وروره !  دخدای په امان  مونږ ځوچې پر مونږ ناوخته ده-

دورور دکلمې په اورېدو دناني په تندي يخې خولې راغلې  اوسړې تبې واخيست–

نوربيا...........................

ويشتم څپر کی

رڼا دماښام ډوډۍ نه پس دکوټې مخې ته په وړه برنده کې ځان ته کټ واچاوه او اوږده پرې وغزېده  تېر محفل اودمیړني خبرې یې یوه یوه ورپه زړه کېدې  - هغې نن ماښام هم په ځان اوهم په میړني باندې په ټیلیفون کې په خبرو اواترو پابندي لګولې وه ، و ېرېدله چې بي بي اوغمبسه تروريې پرې شکي نشي -  بي بي خوېې په يوچل نه بل چل يې غولوله خود ملغلرې سره په مشکل کې وه -  دهغې تيزي اوچالاکي له حده تېره وه،  کله کله به يې دځوانۍ رنګينې کيسې درڼا دخوشحالۍ لپاره راواخيستې نورڼا انګېرله چې په ځوانۍ کې يې له سلونه زياتې يارانې کړي ، ولې چې هغې ته اوس هم په دې تېر عمر دځوانوهلکانو خبرو خوندورکاوه ، اودورځې دوه وارې سهار اودخوب په وخت کې به يې سترګې تور ولې-  همدارنګه ورځ تر منځ يې دنداسه وهله -  چې يوچا به مازې  خوله وښوروله نوهغه به په اصل مطلب ورسېده ، نوپه همدې اساس رڼا په میړني دټيليفون دخبرو پابندي لګولې وه،  که څه هم اوس  يې له زړه نه صبرتللی و،  کوټې ته ننوته له الماری نه يې خپل دښونځې دزده کوونکو جدولونه او ترڅنګ يې غلی خپل دستکول چې ورکې موبايل يې پروت و، راواخيست  - بي بي اوملغلره ترور په خپلو منځونوکې دجان محمد سرحدي په فال ليدو اوخبرو اترو لګيا وې -  رڼا له کوټې راووته اوپه کټ کې کېناسته - موبايل يې غلی راواخيست اوميړني ته يې ټيليفون وکړاو  ورته يې  وويل:

-که څه هم ماخوستن دی خوزړه مې قرارنه کوي زه به دسردردۍ دګولۍدراوړلو په پلمه له کوره مارکيټ ته وځم ،  ته راته ټيليفون وکړه -

(c) ketabton.com: The Digital Library



-نه ګراني زه نه غواړم چې يوازې مارکيټ ته لاړه شي - شل دقيقې وروسته له کوره راووځه زه به ستاسو دارپارټمان لاندې ولاړيم-

-که دې څوک ويني ؟

-ځه ! څوک مې وينې ؟ سمه ده ؟

-سمه ده-

رڼا موبايل بند کړ، کوټې ته لاړه ، الماری يې ولټوله، دسردردۍ ټابليټ يې وليدل هغه يې غلي کړل اوله بي بي نه يې دټابليټو پوښتنه وکړه -مخکې له دې چې خبره نوره وړاندې لاړه شي، بي بي ورته ياده کړه چې نن سهار په لسو بجو فرحناز له کابله ټيليفون راکړی و، ورته ويلي يې وو چې په راروانې اونۍ کې به له خاوندسره پېښور ته ددوی کره راشي - دکورادرس يې له بي بي نه غوښتی و، خوبي بي ورته ويلي وو چې کله پېښورته راورسېدئ نودموټروله هلې نه به ټيليفون وکړئ ، بيا به رڼا مخې ته درته درشي-

درڼا لپاره بله پلمه هم راپيداشوه - له بي بي نه يې يو پينځه سويز په زوره واخيست او دټيليفو ن کارت او ګولۍ يې پلمه کړې چې له کوره راووځي - بي بي هم خپل لوی څادر راواخيست ترڅوله رڼا سره راووځي خورڼا ورته وويل چې ترور يوازې پاتې کيږي ، بي بي نه منله اوتکراريې کاوه چې وخت ناوخته ده اودرڼا لپاره داوخت له کوره تګ ښه نه دی ملغلرې تروره‌م دبي بي خبره راټينګه کړه، راولاړه شوه- ددې لپاره چې درڼا اوبي بي جګړه سره ختمه شي نو دوی سره په لاره روانه شوه بي بي ته يې وويل تاسې جنګ مه کوئ زه هم درسره ځمه - لږه شېبه به ايس کريم خانې ته لاړشو، يويو ايس کريم به وخورو - دنيا هسې پاتې ده اوس نودرڼا لپاره څه نه وپاتې چې خبره اوږده کړي ، ځان سره موسکۍ شوه- په زړه کې يې وويل : ځه ! تش ديدن خوبه وشي- کله چې درې واړه داپارټمان نه راکوزې شوې لومړی دملغلرې ترور سترګې په ميړني ولګېدې - ميړني چې ملغلره تروريې وليده نو زريې ورته شاواړوله اوس ميړنی سم په جال کې راګير و، دملغلرې ترور له ګوتوچېرې ووت هغې پرې غږوکړ، ميړني ځان ناګاره واچاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوملغلره مخامخورپسې ورغله میړنی مجبوره شو سترې مشې يې ورسره وکړه ، درښا رنگ الوتی و، خوبي بي اوملغلره ترور ديوبل سره په سترگوکې موسکی موسکی کېدې- رښا میړني ته وويل:

-تاسو دلته ؟ په دې ناوختی کې څه کوئ ؟

-هسې ! راغلم دلته لږ څه وړاندې زما دملگري کوردی ، زما ديوه مضمون دلکچرو پاڼې ورسره وې ، سبا ته مو ازموينه ده ، غوښتل مې چې ورڅخه يې واخلمه تصادف له تاسو سره مخامخ شوم-

-ښه ډېر ښه زه وارخطاشومه نه چې هغه راپور مې خراب کړی ولې تاسو خوپه دفترکې نه وئ ماوې نه چې په ماپسې راغلی يې-

-نه ! نه ! داسې نه ده تاسو چېرې ځئ ؟

-هسې ترورمې خفه شوې وه ايس کريم خوړولوته ځو -

-نوبسم الله کړئ ، زه به مو لږ څه لرې يوې بلې ايس کريم خانې ته بوځمه- ډېر ښه پېښوري ايس کريم جوړوي -

-نه ! نه ! مننه

-ولې رښې مونږ خو ورسره ځو داخوموهم لکه زوی غوندې دی بيا به خفه شي-

-گوره رښا ترتاخو بي بي اوترور ځومره ښې دي راځئ زه به ټيکسي ودرومه-

میړنی له ټيکسي وان سره خبرې کولې ، رښا بي بي اوترورته غوربېدله چې ولې له میړني سره ځي - میړني ارباب روډ خواته يوې ښې لوکسې ايس کريم خانې ته ټولې راوستې - له ايس کريم خانې نه يې سره بيرته ترکوره ورسولې اوداوبو ځښلو په پلمه ورسره کورته هم لاړ- بي بي په خپل لاس ورته اوبه راوړې- د شپې تر يوولسو بجوپورې يې درښا دوی سره خپل ښه مجلسونه وکړل او وروسته خپل هاسټل په لوري روان شو-

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا دمیرڼي له دې رنګ کارولونه ډېره خوشحاله وه اوبي بي له ملغلرې ترورسره انګېرله چې نن مازيګرېې دهغې دودۍ ددودولو اثر دی چې جان محمد سرحدي ورکړې وه - رڼا نوره وېده وه ، بي بي دوخت په استفادې سره تاويزونه ګنډل چې يو به ددروازې په سر ځواړند کړي بل به په يوې ونې باندې وځړوي ترڅوشمال يې ووهي اودميرڼي زړه په بريښنا پسې په ترپکو شي اوڅاښتونه وخت په وخت به ميرڼي ته ورکوي که خدای کول دمياشتې په اخرکې به پوره نتيجه ورکړي - ملغلرې بي بي ته وويل:

-نه مې وودرته ويلي چې ديوې دودۍ په دود ولو سره به هلک ددروازې شاته ولاړوي ، هغه ده نتيجه يې تاپه خپلو سترګو وليدله-

-وه خورې ! سل ډالره څه دي زه به دبرېښنا لپاره زر ډالره ورکړم ، که خدای يې ددې هلک سره کاروکړي-

-ځه خورې ! اوس دې هم باور نه راځي ، نوڅه درته ووايم - هغه ده ددروازې ترشاپورې خو دې دودونو راوستلی و -

-ښه ! سمه ده اوس به سرونه کېږدو، سبا به له رڼا نه پټې ناران باغ ته لاړې شو اودانورتاويزونه به په ونوکې سره ځواړندې کړو-

........................................................................

دو ه ويشتم څپرکی

ميرڼي خپله دازموينې پارچه ورکړه او دازموينې له تالار نه راووت - هغه دډيپارټمنت په دهلېزکې له نورو ملګرو سره ولاړو، اودازموينې په پوښتنو يې ګرم بحث اچولی و، چې مجاهد هم راووت - ميرڼی يې مخې ته ورغی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-خوریه !  په خیر پارچه دې څنګه وه  تراوسه پکې لګیا وې ؟

-نه مړه هسې سم غم و-  زه ماما دې ته حیران یمه چې ټول کال دې هم په کلا س کې په مزوتېر کړ او اوس هم کتاب نه ګورې ، توله  ورځ له مامي سره تېر وي اوشپه ټوله په موبایل کې په خبرو ، خوبیاهم له مونږ نه مخکې پارچه ته ورکوې -  یاره صفا صفا یې راته وایه چې پارچې خو سپینې نه ورکوې ؟

-نه مړه ستا دعا په کارده چې باچاپه چا مهربان شي هغه سړی بې هیڅه  سلطان شي-

میړنی له مجاهد سره په ګپ شپ و،  چې په موبایل یې زنګ راغی  نمبرته یې وکتل چې درنا دی ،  رنا سره یې خبرې وکړې  ډېر یې ورته وویل چې په کورکې څه پلمه وکړي اوله ده سره ووینې خورنا ورته پوره انکاروکړ -  صرف همدومره یې پرې زېرې وکړ چې راروانې اونۍ ته فرحناز راځي ولې چې نن یې کابل ته ورته زنګ وهلی و- که څه هم دې ورته دکورادرس ورکړی و،  خوهغه پارچه له هغې نه ورکه شوې وه -  رنا میړني ته  ډاډورکړ چې دشپې لپاره یې پوره پاکټ دخوب ګولۍ اخیستي دي-

میړنی اوس په دې څو ورځوکې په دې عادت شوی و، چې دغرمې ډوډۍ له رنا سره وخوري  - نن ورځ ورته خوندوره نه ښکارېده ، دځان دخوشحاله کولولپاره یې  نن غرمه مجاهد له ځانه سره دیونیورستۍ  کانټین ته دغرمې دډوډۍ لپاره بوته - مجاهد ته خدای ورکړې وه نو ماماپې نن ښه تنګاوه،  بار بار به یې ورته ویلې:

-ماما ! غرق نه شې ، نو ته مامي هره ورځ دې کانټین ته راولې  اوداچولې او کورخې پرې خورې  ګوره که ته داسې سپېره سپېره خوراکونه په مامي وخورې ، په والله که دې میړه کړي هغه به وایي داڅه سپېره ګوډی دی-

-یاره خوریه ! ته مې دلته راوستې،  مامي دې  شیراز ، بلنې  او کله کله هم پي سي ته یې وړمه داسې منظرې مې نه دي پرې کړي چې یو وارې مې ګوتوته راغله بیا به  ټول عمر  په کورکې ناسته وي ،  هغه به یې پخوي اوزه به یې خورمه-

(c) ketabton.com: The Digital Library



مازيگر و،  ميړني نن راډيوته ديوه په ځای دوه راپورنه هم ورکړي وو،  ستړی و،  يوې پيالې چايوته يې ښه اشتيا راغلې وه خوله لاسه يې نه کېدل  - مجاهد په خپل چپرکټ باندې اوږدغزېدلی و اودبلې پارچې لپاره يې تابيانيوله- ميړني ورته ډېر ې زارۍ وکړې او اخر يې هغه  په دوه ډبو بيسکټو رضاکړ اوچای يې پرې پخې کړې  - مجاهد تللی وترڅوبيسکټ راوړي چې ميړني ته درنا زنگ بيا په موبايل راغی   ميړني ورته وويل:

-گوره نجلۍ  ! زه پوهيږم  نن دې هم ځانته کارکتلی اوهم ماته  له هغې نه به راغلې وې زمونږ سترگې به هم اوبه شوې وې اويو څه دحل لاره به موهم لټولې وه-

-داخوسمه ده  اوس چې مې  ټيليفون وکړ ، هغوی دواړه  دصفيې دوی کره تللي اوپه ماپسې يې هم دارپارتمان دروازه ټينگه له شاقلفه کړې نپوهېږم چې په دې کې ددوی څه چل دی ؟

-ښه اوس خبره ددروازو قلفولوته ورسېده - وېريږم چې سبادې چېرې په پنجره کې بنده نه کړي  بيا به په ټيليفون هم خبرې نشوکولای-

-خيرماته خو دفرحناز راتگ يوه لويه هيله ده ،که ته نه خفه کيږې له هغې سره موضوع شريکه کړمه -  ماله ماښام نه په دې ښه سوچ کړی  ، کېدای شی هغه څه دحل لاره راپيداکړي

-والله گرانې داد دروازې قلفول  اوتېر ماسخوتن ددوی راوتل  دپام وړ دي – دوی دې لکه چې يوازې اوس يوه شېبه هم نه پرېږدي ، که ژوند همداسې روان شي نوماوتاته به ډېر مشکل شي -  په يوې خبرې شکي يمه کله چې درغلی ووم ترور اوموردې بريښنا راته ډېره ځلوله زه پونه شومه-

-ښه !  بريښنا يې درته ځلوله ، ښه ښه اوس پوه شومه خير دی خدای دې فرحناز راولي بيا به يوڅه وشي-

ميړني اورنا نژدې يوساعت خبرې وکړې - ميړنی درنا دخبرو لپاره دخپلې ليلې نه وتلی و،  چې مجاهدېې په خبرو پوه نشي ، که څه هم مجاهد يې په مينې باندې خبرو خو ميړني ته يې خوندنه ورکاوه چې دده اودرنا له هرې خبرې نه خبروي کله چې بيرته خپلې کوټې ته راغی نومجاهد پرې غوسه وچې چای يې پرې پخې کړې اودی لاړ دسرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



گلونوتماشې ته کېناست - اوس مېرنی سړو چایوته ناست و که څه هم ورته خوند یې نه ورکاوه اومجاهدهم ورته قسم کړی و چې بیا به ورته تودوي هم نه خوبیاهم پیالې یې تشولې-

له یوې خوا دازموینو غم و، له بلې خوا راډیو راپورونه غوښتل اوس نوداغم هم ورسره مل شو چې پر رڼا، په رڼاورځ یې مېره ورپسې دروازې بندوي - دې غمونودکلي اودشبنمی اندیښنې ورڅخه هېرې کړې وې - سوچونوپه مخه اخیستی و که رڼا ورنه کړي له بلې خوایې مور پرې ظالمه وه اودې خبرې ته یې کله غاړه اېښوده- دهمدې سوچونو په دریاب کې غرق و اومجاهد خپلو سبقونواخیستی و چې دکوټې دروازه وډبېده دهاسټل چوکیدار امجد ماما و میرني ته یې وویل چې ستا مېلمه دی رایې ولم-

میرني ورته دراوستواجازه ورکړه - شېبه لاتېره نه وه چې سلام خان کاکا په دروازه راننوت - له روغبرنه وروسته میرني په امجد ماما باندې دسلام خان لپاره تودې چای راوغوښتې- له ستړې مشې نه وروسته یې دکلي احوالونه ورکړل او ورته یې وویل چې مور دې قسمونه راکړل چې خامخا به درځمه اوګورم به چې امتحانونه دې شورع دي اوکه خلاص شوي- موردې ډېره درته سترګې په لاره ده ، په ټول کلي کې یې اوازه اچولې چې په هغه ورځ چې میرنی راغی بیا به دشبنمی دستمال ورته راوړمه - دې خواوس راوړ خود هغې مورقسم کړی ترڅومیړنی حاضر نه وي دستمال به نه ورکوي - میرني هم سلام خان ته وویل چې ګوري امتحانونه یې دي اوهلک ډېر مصروف دی ، یوڅه روپی یې پټې ورکړې چې له مورنه یې پټې ترورته ورکړي او وې ویل چې تروریې هوښیاره ده ولې چې دی هم هوس اوارمان لري چې خپله کوژدنه کې پخپله هم موجود اوسي - په سلام خان باندې یې کلکه کړه چې ترڅودی نه وي ورغلی، ترورديې په خپل قسم ټینګه ولاړه وساتي -

.................................................................

درویشتم څپر کی

درڼا لومړی درسي ساعت نوی ختم شوی اوددوهم ساعت زنګ وهل شوی و - هغه دا مهال له ټولګي نه راوتې وه او داداري په لوري یې روانه وه - ولی چې دهغې دویم ساعت نن

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزګارو- اوس دښونځي په انګړ کې زرمينې او وړمې ترې حلقه وهلې وه اوزور وله يې - ددې دواړو ملګرو زورونې له هغې ورځې نه راولاړې شوې وې چې وړمې دميرني يوه دانه عکس درنا په ډاېرۍ کې پيداکړی و - رنا له مجبورۍ نه دزړه راز ورسره شريک کړی و - وړمې يې چندان پروانه درلوده ، هغه له رنا نه په عمرکې دوه درې کاله کشره وه اوزرمينه بيا سمه سوځېدله ، ولې چې هغه په عمر له رنا سمه مشره وه - هغې سره هم قسمت سمه ياري نه کوله - دپيغلتوب مستې شپې او ورځې يې يوازې دپلار په کورتېرولې - دا ، درې واړه خوارلنې په خندا اوټوکو ټکالو اداري ته ننوتې - دننوتلوسره سم دښونځي سرښوونکې په رنا باندې دپاکټ زېرى وکړ - رنا ته مخکې له دې چې پاکټ ورکړي لومړی يې په لويې کتابچې کې ورځخه لاس ليک واخيست اودښونځي دچوکيدار، شيني ماما په لاس يې کتابچه بېرته پوست وړونکي ته چې دښوونځي ددروازې شاته له څوشېبونه منتظر و، ولېږه - ترڅوليک درنا ګوتوته ورته دسرښونکي دميز له پاسه وړمې وتښتوه اودرنا نه يې د شيريني غوښتنه کووله- دښوونکو دسلا ا ومصلات نه پس په دې ورسېدل چې دښوو نځي سره نژدې ايس کريم خانې نه ټولو ښوونکو ته يويو ايس کريم راوغواړي - رنا دپاکټ سر په بسم الله خلاص کړ - ليدل يې چې دبريښنا ليک اوتصويرونه وو ځای په ځای حيرانه شوه چې هغه غټه شنه ايږه څومره بدله شوې ــ بريښنا سپين رنګی پتلون اغوستی وچې پايڅې يې ترزنګنو پورې وې اوبرګ تور اوسپين جمپرېې هم دپاسه ، پښې يبلې دسمندر په غاړه داوبو په څپو کې ولاړه وه- يو لاس يې پورته کړی و خداې خبرچې انګريزي سلام يې اچوه اويا يې کوم انګريزسره بای با ی کاوه - په بل ځای کې يې تک شين کوبای پتلون چې څوځايه سره شليدلی شليدلی و، برڅېره يې ورباندې نيم بربنډ سور رنګی جمپر اغوستی و ، ديوه سور رنګي موټر خواته ولاړه وه اويوه پښه يې په بلې پښې اړولې وه، خدای خبرچې موټر ددې و، که دکوم بل چا ولاړ موټر و اودې به قاچاقي لکه نور افغانان چې پرديو موټرو سره يې اخلي اخيستی وي - خو په واقيعت کې بيا دوی يوسايکل هم نه لري ، چې پرې له يوه لنډ ځای نه پرې ځان ورسوي –

بل ځای يې لنډ شين کميس اغوستی و،چې له زنګنونه يې يوه لوېشت پورته و، اوداشنه غوښين لينګي يې پوره ښکارېدل - تا به سوچ کاوه چې دليلامي نه يې کومه لنډه زېرپېراهني راخيستي ده اوپه تن کړي يې ده - په يوه پارک کې چې دخلکو ګڼه ګونه هم وه پريوې چوکۍ کې ناسته وه، دجوسو ډبې يې په لاس اوپه غاړه کې يې موبايل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوړند، اوتورې چشمکې یې هم په سترګوکړې وې - په بل عکس کې په یوه لکس هوټل کې دیوه میز ترشاناسته وه اوډېر ډول ډول خوراکونه یې مخې ته ایښي وو، تابه ویل چې دځلور کسانواستحاق دی - نیمه تنه یې ښکارېده ،سپین رنګی کمیس یې په تن و اودواړه لاسونه یې چې پوره بربنډ و په میزیې تکیه کړي وو ، نوره نه ښکارېده - ویښتان یې په دې عکس کې نېغ نېغ دځځګي پشان جوړکړي وو اوپه څوکوکې یې مرۍ ورکړې وې چې په دې فیشن کې بل ډول ښکارېده، تابه ویل چې ده لبیا له هیوادنه ده - داډول سینګاردلته څوک نه خوښوي ، بل ځای د خوب په یوه ښکلي تخت باندې اوږده غزېدلې وه ، ګلابي دخوب کمیس یې اچولی و، اودګریوانه تڼۍ یې ترنامه پورې خلاصې وې چې اکثر دبدن ځایونه یې بربښېدل - په لاس کې یې یوکتاب و، وروستي عکس کې یې سور پتلون اوتک ژېړ جمپر اغوستی و، کمپیوټر ته ناسته وه اودچټنګ غوږۍ یې په غوږکې وه-

درڼا ټولوملګرو تصویرونه ولیدل اودټولو خولې په وا وا کې وې - په رڼا یې سره ایس کریمونه هم وخوړل ، رڼا دبریښنا له عسکونوراليږولونه پوی شوه چې دمیړني خبره درواغ نه ده، ولې چې بي بي تل په دې کوشش کې وه چې دخپلې زړې لورلپاره یوښه مېړه راپېداکړي - میړنی شاله ورته ساده کلیوال ښکاره شوی و اوس یې غوښتل چې په دام کې یې راګیر کړي-

رڼا ته دوه خبرې مخې ته ودرېدې ، زړه یې په میړني پوره اوبه نه خوړلې، وېره ورسره راپیداشوه که دبریښنا داعکسونه وګوري نه چې دې کوژدې ته غاړه کېږدي- اودبریښنا په واسطه ځان استرلیاته ونه رسوي اوکه عکسونه بي بي ته ورښکاره نه کړي نوبریښنا خوراجسترکړي دې او دې دپوست وړونکي په کتاب کې لاس لیک هم وکړ، رڼا زړه نازړه وه، دعکسونو دپټولو چاره هم نه وه او ښودلوته یې هم پوره ډډه نه لګېده-

دغرمې له ډوډۍ نه یې وروسته خپل دستکول په خپلې الماری کې قلف کړ اوبي بي ته یې وویل:

-اول ماته زرګیز راکه بیا دبریښنا عکسونه درته درکوم-

- وئ ! عکسونه یې راغلي چېري دي-

(c) ketabton.com: The Digital Library



-په الماری کې ، ترڅوزرکلدارې شیریني رانه کړي په خدای که داښایسته ښایسته عکسونه یې رانه وګورې-

-زرخونه درکوم پینځه سوه درکوم-

-نه په والله که یې وګورې – که دې لانجه پسې اوږده کړه نو د زرداد د پاټکیانو په څېر نرخ دربانديې شېبه په شېبه جګوم–

بي بي پوی شوه چې چاره نشته نو زرګیز یې ورته ونیوه او ورته یې وویل:

-روې ! واخله-

رڼا له بي بي نه خپلې زرکلدارې واخیستې اودشین مخې بریښناګۍ عکسونه یې ورکړل بي بي اوملغلرې ترور په مینه مینه عکسونه لیدل اوخپلې کړوپې خولې به یې پرې چړپولې- رڼا رڼا بي بي ته وویل:

- دومره یې مه ښکلوئ چې دتاسودخولوپه لاړوبه خراب شي ،زه یې سباته دابادۍ راډیو دفترته وړمه ،میړني اونورهمکارانوته یې ښکاره کومه ،لږ پرې ټیم ورکومه چې زمونږ کورنۍ په داسې ځایونوکې اوسیږي-

-نه! نه! زه دخپلې لور عکسونه دتاراډیوته نه لېږمه-

-ولې ؟ زماخوهم خورکه ده، پرېږده بي بي چې په راډیوکې خلک وګوري چې مونږ ته له داسې ځایونو نه ډالرې راځي- میړني ته یې ورښیمه چې مونږ دومره عصري خلک یو -

-چې میړنی یې ګوري نودلته یې راوله، خوراډیوته یې نه لېږمه ،خلک یې راته له نظره کوي سبا به مې په یکې یوې لورباندې څه وشي-

-دازه دې شاله لورنه یمه خدای دې نفس وباسه-

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا دبي بي دمعلومولو لپاره داسې کړتې پر تې ويلې - دميرڼي دديدن لپاره يې يوه بله موقع هم برابر وله - رڼا ته اوس کوردومره خوندنه ورکاوه- دخپلې ساعتېرۍ لپاره يې له بنگړيوالې سره لوبې کولې- بي بي اوملغلره ترورداودسو په پلمه له کوټې نه ووتې ، شېبه وروسته بي بي رڼا ته وويل:

-نن دې ترور دغاښو ډاکټرې ته بيايمه ته به په کورکې کېنې-

-نه والله که کېنمه زه هم تاسوسره ځمه پرون موهم دروازه راپسې بنده کړې وه-

-ته څه کوې؟ څوک به دې ووينې وايي به چې ځوانه جنۍ په بازاروگرځوي-

-نه زه خوتاسوسره خامخاځمه زه کورکې يوازې تنگېږمه-

-سبا به خلک وايي چې ته مرضي يې ،عيب جنه به شې - خلک څه پوهيږي چې دترور غاښ يې خوږيږي چې ډېره تنگېږي نودصفيې دوی کره لاړه سه -

-نه دهغې کره نه ځمه، ټوله ورځ راته دخپل کوژدن تعريفونه کوي-

-نوڅه کوې ؟

-دوږمې دوی کره ځمه، ترماښامه نه راځمه تاسوچې مانه بيايئ نودماښام ډوډۍ هم دهغوکره خورمه ،بيا راځمه -

-ښه سر دې وخورې شيشکې.....

رڼا دوږمې کورپه دې پلمه کړ چې نه بي بي ليدلی و، اونه هغوی ټيليفون درلود- رڼا هم نرغوندې دميرڼي خواته ورغله اودماښام ډوډۍ يې هم له مېرڼي سره يوځای وخوړه- دبريښنا دعکسونو په اړه يې هم ورته وويل-

---

څلورويشتم څپرکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمیړني ازمویني هم مخ په خلاصېدو وې - یوازې یې دوه مضمونونه پاتي وو - همداراز فرحناز هم سباته له کابله دخپل مېړه سره پېښور ته درېا دوی کره راتله نو رېا سر له نن نه تصمیم نیولی و چې دښوونځي له اداري نه دیوې اونۍ لپاره به رخصت اخلي خو دخپل تصمیم په اړه یې په کور کې بي بي ته څه ونه ویل - هغې پرون کله چې دوړمې دوی دکور په پلمه له میړني سره لیدلي وو نو دافیصله یې کړې وه چې هغه به له ښوونځي نه رخصت اخلي- میړني نن ازموینه نه درلوده - رېا کله چې ښوونځي ته لاړه،لومړی یې داخبره له خپلې سرښونکې شکریې سره وچېړله- شکریه ډېره په اصلو اومقرراتو پابنده مېرمن وه- دښونکوپه منځ کې یې توپیر نه کاوه ، دښوونځي پوره کنترول یې په جدي ډول په لاس کې اخیستی و، خپلو ښوونکوته به یې دساعتونوپه سر تنخوا ورکوله - خپل ښوونځی یې په

منظمه توګه اداره کاوه- له همدې کبله ددې ښوو نځي دافغان کډوالو په منځ کې ډېر ښه نوم درلود - ښوونکوبه له زده کوونکوسره پوره زیارویست ،له همدې وجې نه نسبت نورو ښوونځیوته په دې ښوونځي کې دزده کونکو شمېره ډېره وه اودفیس په لحاظ هم ښه و، یوعام مهاجرزدکونکي کولی شوای چې تردولسمه پورې پکې زده کړې وکړي -سرښوونکې شکریې بي بي به هره ورځ خپلو ښوونکوته په خوشو خوشو پلمواجازې نه ورکولې - رېا په دې تېر دوه کلونوکې یوه ورځ نه غیرحاضري کړې وه اونه یې رخصتي اخیستې وه -کله چې یې سرښوونکې ته وویل نو هغې هم درېا په مخ کې څه ونه ویلی شول - رېا په خپلو ټولګیو وګرځېده اوخپلو زده کوونکوته یې کورني کارونه ورکړل - دهرټولګي کپتان ته یې وظیفه ورکړه چې ددې په تدریسي ساعت کې په زده کوونکوباندې پخواني درسونه تکرارکړي -اوپه ټولګي کې دې زده کوونکي غالمغال ته نه پرېږدي - له دې وروسته رېا له ښوونکوسره خدای په اماني وکړه، له ښوونځي راووته ،دښوونځي خواته له یوې پي سي او نه یې میړني ته ټیلیفون وکړ- دناران دبڼ له عمومي لویې دروازې خواته یې دانتظارځای وټاکه - دپخواپه شان میړنی تررېا مخکې په ټاکلي ځای ولاړ و، دواړه بڼ ته ننوتل اوترغرمې پورې یې سره کیسې کولې–

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دتېرماښام کیسه میرڼي راواخیسته، بار بار به يې بریښنا یادوله او په عکسونوبه يې سره دواړوتبصرې کولې- رڼا دې ته پام وچې میرڼي بریښنا ډېره ډېره یادوله هغې ته سودا ورولوېده نه چې دبریښنا عکسونوهلک بدل کړ، میرڼي دبي بي په اړه يې هم وویل چې له ده نه يې دټیلیفون دنمبر غوښتنه کړې وه ،کله چې رڼا په پخلنځي کې وه - خومیرڼي ورته ویلي و وچې نمبر له رڼا سره شته کله څه مشکل تاسوته خدای مکړه درپېښ شو، نورڼا دې په ډاډه زړه ورته ټیلیفون وکړي- ولې چې بي بي په دې پلمه ورڅخه نمبر غوښتی وچې جمال مساپردی اودوی دمنډې سړی نه لري -

نن میرڼی رڼا ته بدل بدل ښکارېده ، هغه نن چرتي غوندې و، خبرې يې کمې کولې ، په سوچ کې به ته، بیا به رڼا پرې غږ وکړ اوده به ورسره خبره وچېړله - دغرمې ډوډۍ يې سره وخوړله - دتلو په وخت کې میرڼي رڼا ته وویل چې کله سبا ته فرحناز دوی کره راغله نوده ته دې ضرور ټیلیفون وکړي- وروسته رڼا يې په ټیکسي کې دکور ترشا راوسته او خپله بېرته په ټیکسي کې خپل هاسټل ته ستون شو -

رڼا پاتې ورځ په خپلې کوټې کې په ژړاتېره کړه- مازیګر بي بي اوملغلره ترور دواړه په پخلنځي کې وې اودجان محمد سرحدي ورکړی دودي يې له مشکوسره یوځای دوداوه چې رڼا پخلنځي ته راننوته ، لوګی اوخوشبويي يې له دماغ نه تېر شو- له بي بي نه يې وپوښتل :- بي بي ! دا لوګی اوبوی دڅه دي ؟

-هسې زویه مشک مې لوګي کړل تر څوغم اواندېښنه موله کوره ورکه شي-

-ولی زه خوپه کورکې اندېښنه اوغم نه وینمه-

رڼا پوه شوه چې په دې شیطانانوکې کوم پسات خوشته - ډول ډول اندېښنويې زړه ته لاره موندلې وه ، مېرڼی هم لکه دپخواپشان دواده په مسله باندې دومره ګرم ګرم نه راته،ځان ته يې چای دمې کړې اوبېرته خپلې کوټې ته لاړه - بي بي اوملغلره دواړه په پخلنځي کې وې اوپه خپلوکې دجان محمدسرحدي په دمونويې ګرم بحث اچولی و- بي بي له ملغلرې نه خوشحاله وه چې مخکې له مخکې نه يې دبریښنا عکسونه اول ددم لپاره جان محمدسرحدي ته وپوړل او وروسته له دم نه يې میرڼي ته وروښودل - اوس دوی دواړه دې ته منتظرې وې چې میرڼی به په یوه نه یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلمه ټیلیفون راوکړي، ولې چې سرحدي دوی دواړوته ویلي وو چې کله هلک داعکسونه وګوري نونجلۍ به یې په سترګوکې لکه ښاپېرۍ وځلیږي یا به ټیلیفون وکړي دڅلیریشتوساعتونوپه منځ کې اویا به په یوه پلمه دوی کره ورشي – دوی ته یې ویلي وو چې که مېړنی ورکره ورغلو نودوی به ورته عکسونه یو ځل بیا ورښکاره کړي چې دهغه زړه نورهم اوبه اوبه شي – سرحدي ورته ویلي وو که هم داسې وشول او نجلۍ له استرالیا نه راغله نو یو ځل به یې ده ته وروليي – سرحدي داهم ویلي وو چې هغه به برېښنا په یوې کوټې کې یوازې کینوي اوپه مخ اوغاړه به یې تراوو، ورڅوپورې ایتونه لیکي ، وروسته به که خدای کول مېړنی داسې ورپسې لیونی شي چې په ځنځیرو به یې هم نشي څوک تړلی–

ملغلرې بي بي ته کیسه کوله چې دهغې دملګرې لورهم درې کاله مخکې په یوه هلک مینه وه اوهلک یې هېڅ پرواهم نه ساتله- بیا هم دې جان محمد سرحدي ته ورغلې وه- هغې کیسه کوله چې جان محمد سرحدي خوارکي دومره زحمت ورسره ویستلی وچې دجنۍ په مخ غاړه او په ټول ګریوان یې ترنامه پورې یې په خپله ایتونه اوسورې شریفې لیکلې وې -بیا وروسته هغه هلک هم ورسره واده وکړ، بي بي اوملغلرې دابحثونه راخیستي وو تراوسه له هغه ساعت نه اتلس ګینټې وتلې وې - بي بي اوملغلره ترور دمیړني ټیلیفون ته سترګې په لاره وې - په ټیلیفون زنګ راغی، ترڅو بي بي وروړسیږي رڼا غوږۍ پورته کړه ، میړنی و :

-سلام څنګه یې؟

-ښه یم ګرانې نن چې تانه هاسټل ته راستون شوم زړه مې ښه نه و راډیوته مې رپوټ هم ورنه کړ، بیا ویده شوم ته مې سرګردانه په خوب ولېدې نورمې زړه طاقت ونه کړ نشي کېدای په یوه پلمه له کوره راووځې که دې ونه وینمه نور نومرمه-

-نه داسې مه وایه الله به خېرکړي-

بي بي رڼا ته اشاره وکړه چې څوک دی؟ هغې ورته وویل میړنی دی نوره بي بي له خوشحالۍ نه په جاموکې نه ځائېده ، له رڼا نه یې غوږۍ واخیسته میړني سره یې روغبړ وکړ، میړني ورته وویل چې صحت یې ښه نه دی، رڼا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته يې ټيليفون کړی که کوم ښه ډاکټر ورته معلوم وي نو پته يې ورکړي - بي بي ورته ډېره زياته ټينګه شوه چې دوی کره راشي - ميړني نخرې کولې، وروسته يې وليدل چې تر رڼا يې مور ډېره ګرمه ده نو که اوس رڼا دباندې راوباسي نو کار له کاره وځي نوبهتره به همداوي چې دبي بي ستونه په ځمکه ونه غورزوي او ورکره ورشي کم از کم رڼا خوبه ووينې-

دټيليفون نه وروسته رڼا په زړه کې ښه خوشحاله وه خوپه خوله يې دبي بي سره خوله ووهله چې ميړنی يې ولې راوغوښت - بي بي ورته وويل چې دادهغې کور دی اودهغې خو ښه ده چې چا ته ډوډۍ کوي او کله يې کوي - بي بي ورته وويل چې ډوډۍ هم په خپله پخوي – دا يې ځکه وويل چې دجان محمدسرحدي ټوټکې به په خوراکونوکې واچوي اوميړنی به يې نوش جان کړي-

ماښام تېر و چې ميړنی راغی ، بي بي خدای خدای کول چې بريښنا ورته ټيليفون وکړي -همداسې هم وشول ، بريښنا زنګ وواهه ، بي بي له لنډوخبرو وروسته غوږی ميړني ته ورکړه ترڅوبريښنا سره خبرې وکړي- داکارپه رڼا خدای شته ښه ونه لګېده ، ميړني هم غوږی واخيسته اورڼا سره يې دبي بي دخوشحاله کولولپاره خوږې خوږې خبرې راواخيستې - بي بي چې دميړني خوږ مجلس ته يې پام و نومن من غوښې يې اخيستې -بريښنا ورڅخه هيله وکړه چې له کورنۍ سره يې همکاري وکړي، ولې چې هغوی بلکل يوازې دي اودابه په راروانې مياشت کې پېښورته راځي دخپلوزده کړوپه هکله يې هم ورته وويل چې په کمپيوټر ساينس برخه کې زده کړې کوي - له دې چې له ميړني سره يې خبرې وکړې خوشحاله شوه - خپل نمبريې هم ميړني ته ورکړ او ورته په کلکه ټينګه شوه چې هرڅه ته يې ضرورت و دورتګ نه مخکې دې ورته ټيليفون وکړي - دشپې ډوډۍ ښه خوشحالۍ سره وخوړل شوه - رڼا هم دبي بي په مخ کې دفرحناز دراتګ زېری پرميړني وکړ- ميړنی ترلسو بجو پورې کېناست، وروسته يې له دوی نه دتلو اجازه واخيسته ،پلمه يې وکړه چې دسباازموينې لپاره خپل تياری نيسي - هغه ليدل چې رڼا خپه خپه ده نودتلو په وخت کې پټه اشاره ورته دټيليفون وکړه ، ترڅويې په خوږو خوږو مجلسونو خوشاله کړي هغه پوه شو چې رڼا دهغه په خبرو له بريښنا سره لږ څه اندېښمنه شوه نومجبور وچې ترسهاره رڼا ته ټيليفون کې زارۍ وکړي ترڅوورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمه پخلاشي - رڼا هم دبي بي اوملغلرې ترور دخوبولو پوره تابيا نيوله ترڅوخپل ډک زړګی په ميرڼي باندې تش کړې چې ولې يې له بريښنا سره دومره په لومړي ځل ازادې خبرې کولې اودزړه نه يې ورسره په ويته خوله خنداګانې کولې-

.....................................................................

پنځه ويشتم څپر کی

رڼا دکورکارونه لاسهارپه نهوبجو سرته ورسول ، بي بي هم دفرحناز دراتګ لپاره پوره تياری نيولی و، دکورله نزدې مارکيټ نه يې پوره تازه ترکاري راوړې وه اوپه خپله يې په يخچال کې ځای په ځای کوله- ملغلرې ترورهم ورسره همکاري کوله، ترڅنګ يې دواړوخويندو دميرڼي له بريښنا سره دتېرې شپې دخواږه مجلس په اړه هم تبصرې راخيستې وې - رڼا ته دتېرې شپې دميرڼي توبې اوزارۍ ورپه زړه کېدې او له ځان سره موسکۍ موسکۍ وه- دصالون دکوټې دميزودپاسه دزينتي ګلدانيو ګلان يې پاکول بنګړيوالې باندې دتازه غوښې بوی لګېدلی و اودبي بي له خوانه نيمه شېبه هم نه لرې کېده- که څه هم بي بي پرې څو وارې غروپش هم وکړ- رڼا راغله وې ليدل چې بنګړيواله له بي بي نه تاويږي راتاويږي نوبي بي ته يې وويل:

-بي بي خير دی وبال دی لږ دغوښې برزالی ورته واچوه هسې خوار کۍ درته تاورتاوده-

-خاورې دې وخوري همداسې دې په خوشو اموخته کړې چې مونږورته کومه ورځ ورته حلال نه کړې-

-تابه ولې حلالومه ، ميرڼی به دې ورته حلال کړم-

-والله داجنۍ شاله ليونی شوه دميرڼي بلادرواړوې ، ولې څه کوې ؟بسم الله کړې ځوان دی-

-نوچې داسې ده نوزما بنګړيوالې ته ولې خاوری ورپه خوله کوې څه بد خومې ونه ويل چې زما بنګړيوالې ته يې نه ورکوې نوچاته يې ورکوې-

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا هسې بي بي ځوروله خپل منترېې په بي بي باندې پوخاوه- هغې ددې لپاره چې دبنګړیوالې زړه په غوښې پسې اوبه اوبه نشي اوستونی یې ونه خوړیږي نوهغه په غېږه کې صالون ته راوسته - یخ پوډر یې پرې ووهل ،دشړنګانیو ښکلی امیل یې ورپه غاړه کړ او ورته یې وویل چې مشره خوریې له کابله راروانه ده او له ورې خورزې سره به یې لوبې کوي - ورته نصیحت یې وکړ چې خپله وړه خورزه به نه شینګاړې شینګاړې کوي اوس یې پورته پورته اچوله اوخپله لوبه یې له بنګړیوالې سره ګرمه کړې وه –

بي بي اوملغلرې داتصمیم ونیوه چې داوارې به درڼا دخولې دبندش لپاره خامخا له جان محمدسرحدي نه یوڅه راوړي، ولې که رڼا همداسې له میړني سره چاړه اوغوښه ووسي نودابه دبریښنا په کارکې یولوی خنډوي-

نژدې دوه بجې وې چې دفرحناز ټیلیفون دموټرو له هډې نه راغی ، له لنډو خبرو وروسته ملغلره ترور په کورکې پاتې شوه ، بي بي او رڼا په ټیکسي کې دفرحناز خواته ورغلې - په هډه کې سره مخامخ شول ولې چې هډه لرڅه وړوکې وه اودفرحناز لټول دومره ګران کارنه و -فرحناز له خپلې وړې لور اوخاوند امرخیل سره تقریبا سرک ته نژدې ولاړه وه، درڼا پام نه و لومړی فرحناز په رڼا غږ وکړ ، ورروسته یوبل ته غاړه غړی شول - له امرخیل سره یې هم ستړې مشې وکړه - په هماغه ټیکسي کې چې رڼا اوبي بي راغلې وې ،بیرته کورته راغلې–

امرخیل رڼا اوبي بي نه وې لیدلې ، ولې چې دوی ډېر کلونه له یوبل نه سره لرې پاتې شوي وو- دجدایۍ په دې دوران کې فرحناز واده هم کړی و، امرخیل دپکتیا ولایت څخه و،په عمر باندې له فرحناز نه ډېر مشر وو- هغه خپلې زده کړې دببرک کارمل په دوران کې په روسیه کې دنظامي لوژستیک په رشته کې سرته رسولې وې - دمجاهدینو ترراتګ پورې دافغانستان ددفاع په وزارت کې نظامي افسر و، دمجاهدینو دواکمنۍ نه وروسته بېرته خپل پلارني کلي منګلوته ستون شوی و- هغه ترفرحنازنه مخکې بله مېرمن درلوده خوهغه دیوې مریضۍ له کبله څوکاله وړاندې مړه شوې وه - هغه په امرخیل ډېره ګرانه وه ،فرحناز ته د امرخیل کورنۍ ویلي وو چې له همدې وجې امر خېل ډېرکلونه بل واده ته غاړه نه کېښوده خوکورنۍ یې مجبورکړ اوفرحناز یې ورته وغوښته - دفرحناز

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترواده وروسته امرخېل بیرته کابل ته راغی خپله څه پلارنۍ مځکه یې خرڅه کړې وه اوپه کابل کې یې یو وړوکی درملتون خلاص کړی و -

دشپې ډوډۍ میلمنو په ګډه ورخوړه -څرنګه چې تېرماښام بریښنا دفرحناز له راتګ نه خبره شوې وه په ټیلیفون زنګ راغی - رڼا غوږۍ پورته کړه بریښنا وه له لنډوخبرو وروسته رڼا وربانديې دفرحناز زېری وکړ، بریښنا هم ورسره ښې خبرې وکړې او فرحناز ته یې دپنځوسوو ډالرو وعده هم وکړه ،په جمال اوبریښنا باندې پرته له رڼا نه هم فرحناز ګرانه وه- دوی په کابل کې ډېر ښه ژوند تېر کړی و اوښه ګاونډیان سره پاتې شوي وو- دشپې نهه بجې کېدونکې وې چې جمال هم دفرحناز لپاره زنګ راوواهه اوډېرې خبرې یې ورسره وکړې -دجمال په ټیلیفون باندې دفرحناز سترګې نورې هم امرخیل ته اوچتې شوې - جمال هم دپنځوسوو ډالرو وعده وکړه چې سباته به یې پېښورته راحواله کړي - دبریښنا اوجمال ډالرو په ملغلرې تروربانديې سور اوربل کړ، دخوب وخت رانژدې شو امرخیل له خپلې مېرمنې نه جلا پریوت -بي بي اوملغلره دواړه په بلې کوټې کې ویدې شوې اوفرحناز درڼا سره دهغې کوټې ته لاړه-

ملغلرې بي بي ته ګیله وکړه چې ترماخوفرحنازښه ده ،لارسېدلې نه ده چې بیا ډالرې ورته راحواله شوې - بي بي ورته وویل چې خفه کېږه مه ته خولادلته یې تاته که خیروو په زرګونوډالرې به درکړمه ،دما جیب دومره تش هم نه دی، زه چې ژوندۍ یمه دچا پرواهم مه ساته—

رڼا له فرحناز سره په خپلې کوټې کې وه لاویدې شوې نه وې دشپې یوولس بجې وې رڼا ته چل نه ورته چې فرحناز ته څرنګه دزړه حال ووایي خوبلاخره یې سل زړونه سره یو کړل اوپه خپل موبایل باندې یې میړني ته ټیلیفون وکړ اودفرحناز زېری یې پرې وکړ- ډېرې خوږې خبرې یې ورسره وکړې وروسته له ټیلیفون نه فرحناز په رڼا لږڅه شکې شوه او دازمینه رڼا په خپله رابرابره کړه -دمیړني په اړه یې رڼا وپوښتله، رڼا هم له( الف ) نه نیولې بیا تر ( ي ) پورې ټوله کیسه ورته تېره کړه - فرحناز ورته وویل چې داخبره له امرخیل سره وچیړې ولې چې هغه پوی سړی دی او ورته دحل لاره چاره به که خدای کول راپیداکړي -شپه درېوو ته رسېدلې وه ، نورنوپه فرحناز سترګې درنې درنې کېدې ، رڼا هم نوره نه ځوروله ، پرې یې ښوده ترڅودمه شي او ویده شي-

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور بیا....................................................

شپږویشتم څپرکی

دفرحناز دریمه ورځ وه هغه دیوي اونۍ لپاره پېښورته راغلې وه- دفرحناز لومړی ځل وچې پېښورته راغلې وه ، په دومره جنگونوکې هيڅ له کابل ښارنه وتلې نه وه - نن رڼا بي بي ته وويل چې فرحناز به دصدر بازارته بيايي ، که يې څه جامې اونورشيان يې اخيستل نو ورته به يې واخلي - فرحناز تراوسه درڼا اوميړني خبره له امرخيل سره نه وه شريکه کړې - رڼا ډېر غوښتل چې ميړنی زرترزره فرحناز ته ورښکاره کړي اوخپل ذوق وروښايي چې څومره لوړدی- همدارازد فرحناز هم تلوسه وه چې درڼا مين وگوري ، ولې چې رڼا يې په تعريفونو اوصفتونو دلاسه نژدې وه چې دهغې دغوږونو پردې وروشلوي -

امرخيل دسباناري نه وروسته دخيبر بازار په لوري وخوځېده، هلته يې دخپل يوپخواني انډيوال پوښتنې ته ورغی چې هغه په خيبر بازارکې دوکان درلود - رڼا اوفرحناز لا ماښام پلان جوړکړی و چې نن به ارومرو له ميړني سره گوري اوفرحناز به له نژدې ورسره وروپېژني- بي بي هم نن مجبوره وه چې دنويو تاويزونو لپاره جان محمد سرحدي ته لاړه شي - مخکې له دې چې رڼا څه ووايي بي بي رڼا ته وويل چې هغه له ملغلرې ترورسره يې دخپل دپلاردتره لمسي کره ځي چې ادرس يې ملغلرې له کابل نه راوړی دی- بي بي نن مجبوره وه چې داپلمه وکړي ،هغې نن هغه جوړه دجاموټکر راوړچې ميړني ته يې په جان محمدسرحدي دم کړی و هغه يې ميړني ته په تحفه ورکاوه چې ځان ته يې جوړ کړي – هغې انگېرله چې کله ميړني داجامې په تن کړې نو خامخا به دبريښنا دمينې اور پرې بل شي اوزرترزره به يوه فيصله وکړي-

رڼا هم بي بي ته وويل چې دوی ځي نوداهم له فرحناز سره دصدر بازارته ځي او ځينې شيان فرحناز دځان لپاره اخلي بي بي هم ورسره ومنله - بي بي اوملغلره دواړه له رڼا اوفرحناز نه مخکې له کوره ووتلې ، کله چې بي بي لاړه نوپه بېغمه زړه يې ميړني ته له کورنه ټيليفون وکړ اوپه ناران بڼ کې يې سره وعده کېښوده - ميړني چې نن ازموينه نه درلوده ورسره يې ومنله-

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوعدې سره سم فرحناز اورڼا دناران بڼ ته ورسېدلې  خومیړنی دپخواپه خلاف تراوسه نه وراغلی څه شېبه وروسته میړنی هم راورسېده او درڼا سره مخامخ شو- رڼا میړنی دفرحنازسره معرفي کړ-  له سترې مشې اومعرفت نه وروسته درې واړه دبڼ  درستورانت په لوري وخوځېدل - میړني دامو نو درې ګیلاسه جوسونه اودری بوتلې فانتاوې راوغوښتې - فرحناز له مېړني نه لږ څه شرمېده، په ډاډه زړه یې ورسره خبرې نه شوې کولای ، هغه غلې وه اومیړني له فرحناز سره یوازې خبرې کولې - میړني ته دفرحناز دې انداز چندان خوند ورنه کړ ، خدای خبر په زړه کې یې دفرحناز په لېدو څه وروګرځیده چې نا څاپه له ځایه پاڅېده اوله رڼا سره یې خدای په اماني وکړه- رڼا هکه پکه پاتې شوه دمیړني داحرکت هغې ته بلکل نا اشنا ښکاره شو، رڼا له فرحناز نه بخښنه وغوښته اواجازه یې ورڅخه واخیسته ترڅو ، څوشېبې له میړني سره په یوازې خبرې وکړي - رڼا اومیړنی دبڼ په یوې خواکې په چوکۍ سره کېناستل- رڼا ورته وویل:

-په تانن څه شوي  ؟ ولې داسې بدل بدل ښکارې خیریت خوبه وي-

-هسې! بلکل جوړیمه - رڼا ته ماوبخښه ځه نور نشم کولای چې تاسره په دې لاره کې ملګرتیا وکړمه، اوس هم لا سرې وخت دی نه څه تللي اونه راغلي  که تا له مانه څه غلطۍ په دې موده کې لیدلي وي ماوبخښه-

-ته څه وایي ؟ ته په هوش کې یې ولې ..... دومره مینه ،ګرځېدل اوداهرڅه ........ داسې په اسانۍ پای ته رسوې ؟ ولې په ماکې دې څه نیمګرتیا لیدلې ده ماکومه غلطي کړې ؟

-نه ته ډېره ښه جنۍ یې - ته روښانه راتلونکې په مخکې لرې ،ښکلا لیاقت اوهرڅه درسره مله دي ته به بریالۍ وې په دې مطمین یمه چې ترمابه دیوښه هلک سره واده وکړي-

-زه دبل چا سره واده کول په توره بلا وهمه ،ګوره داسې زر فیصله مه کوه بیا به پښېمانه شې-

-رڼا نشم کولای ..... ته ما وبخښه چې تراوسه مې له ځان سره مصروفه وساتلې نوره دې په پاک الله سپارم-

-ولې هدایت هدایت یا پلټونکي زما په اړه څه درته ویلي دي چې داسې یو په یو بدل شوې-

(c) ketabton.com: The Digital Library



-نه نه قسم دی چې هیڅ چا هم څه نه دي ویلي زه هم تا نه هېروم اونه به ددې وروسته پرته له تانه له بل چاسره مینه وکړم-

-نوچې داسې ده ، ولې مانه ببلبرې ؟

-زه هم نه پوهیږم ....... ښه نورزه ځم هلته فرحناز تاته منتظره ده، ته هغې ته ورشه دخدای په امان-

په داسې حال کې چې درنا سترګې له اوښکو ډکې وې له میرنی سره یې خدای پاماني وکړه- میرنی ورڅخه لاړ ترهغوچې دبې له دروازې ووت رنا ورپسې کتل خوهغه یوځل هم په شا راونه کتل ، رنا لپې لپې اوښکې تویولې- دفرحناز خواته راغله ټوله کیسه یې ورته تېره کړه - نن رنا نه پوهېده چې ولی دامیرنی داسې یوپه یو بدل شو، دهغې دمیرنی په دې کارباور هم نه راته- فرحناز رنا ته ډاډګېرنه ورکوله ورته یې ویل چې د، اوسنۍ زمانې هلکان ټول همداسې دي نجنو سره ګرځي چې کله یې خبره واده ته رابرابره شي نوبیا پښې ترې سپکې کړي - میرنی هم ددې جملې ځوانانوپه کتارکې راځي - فرحناز شکرونه ویستل چې ښه ده خبره یې تر امرخیله پورې نه ده رسولې ،که نه نو بیا به یې داشرم سره چېرې رساوه - رنا ژړل اوفرحناز دلاسه کوله خودهغې ژړانه درېدله ، وارپه وار به یې له فرحناز نه پوښتنه کوله چې میرنی ولې داسې یوپه یو په شا شو- فرحناز هم دمیرني په دې کار خپه شوه رنا ته یې وویل خپلې اوښکې پاکې کړي چې بي بي په کورکې پرې پوهه نشي - هغوی دواړه دغرمې نه مخکې بېرته کورته راغلې، کله چې راغلې نو بي بي اوملغلره ترور تراوسه پورې نه وې راغلې - درنا ژړا نه درېدله فرحناز له رنا نه دمیرني دموبایل نمبر واخیست اوهغه ته یې ټیلیفون وکړ فرحناز درنا دژړا اونارامۍ په اړه ورته وویل خومیرني خبره دې خوا ، آ خوا اړوله هغه پوره داطمینان خبره ونه کړه فرحناز هم له میرني نه پوره ناهیلې شوه هغې اوس نه غوښتل چې نژدې ملګرې دې داسې یوازې په داسې حال کې پرېږدي هغې رنا ته وویل چې نوره پېښورکې نه پاتې کیږي او سباته به رنا هم له ځان سره بوځي - رنا ته یې وویل چې په کابل کې ښه ښه ځوانان اوکورنۍ پیداکیږي اوددې په خسر خېلوکې هم ډېر ښه ښه هلکان پیداکیږي چې رنا ورسره واده وکړي- رنا ورسره نه منله ، رنا بل واده ته نوره غاړه نه کېښوده خوفرحناز ورته ډېرې وعدې ورکړې چې په کابل کې په اینجیوګانو کې درنا لپاره ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه کارونه شته هلته به یو ښه کارځان ته پیداکړي نوپه دې اساس به میړني ته هم خوله ماتونکې ځواب ورکړي، اوس به بي بي ته پلمه وکړي چې رڼا به دځو ورځولپاره کابل ته ځي کیدای شي دورځوپه تېرېدو سره به یې میړنی هم له یاده ووځي - بي بي لانه وه راغلې رڼا خپل لاس او مخ په یخو اوبو پریولل اودفرحناز خبرو هم پرې لږڅه اثر وکړ اودهغې دې مشورې ته یې هم غاړه کېښوده چې کابل ته ورسره لاړه شي ولې پس له دې پېښور ورته سره تبۍ گرځېدلې وه وروسته یې دوروستي ځل لپاره میړني ته دخدای په امانۍ لپاره ټیلیفون وکړ-  رڼا میړني ته وویل که څه هم  دهغه هیرول ورته گران کاردی نو ځکه داکار داسې په اسانۍ نشي کولی نودا مجبوره ده چې دخپلې مینې په خاطر داوطن پرېږدي - هغه سباته کابل ته روانه ده که میړني په دې دومره موده کې له دې نه څه اشتبا لیدلې وي هغه دې وبخښي - میړني هم رڼا ته وویل چې درڼا هیرول ورته گران کاردی خودی مجبوردی په دې هم نپوهیږي چې ولې داکارکوي-

درڼا وروستۍ هیله داوه چې درڼا په دې کارباندې به گوندې دهغه زړه وسوځیږي اوگوندې اراده به یې اوس بدله شوي وي خو میړنی په داسې زین کړي اس نه وناست ،خدای خبرپه زړه کې یې کومې ارادې درلودې-

نژدې مازیگر و چې بي بي اوملغلره ترور کورته راغلې دمیړني جوړه یې هم راوړه رڼا هیڅ صبر نشو کولای بي بي ته یې دخپل تگ په اړه وویل چې سبا ته دفرحناز سره روانه ده- کله چې رڼا داخبره بي بي ته وکړه نوپه هغې ښه ونه لگېده، درڼا تگ ورته ښه ښکاره نشو- سوچ یې وکړ که رڼا لاړه نو میړنی به بیا څنگه پیداکړي هغې رڼا ته دتگ اجازه ورنه کړه - ملغلره ترورډلمونځ په پلمه بلې کوټې ته لاړه اوبي بي ته یې اشاره وکړه چې دهغې اشارې ته دفرحنازهم ور پام شو- بي بي هم ورغله- ملغلرې ورته وویل چې ته له خدایه څه غواړې خوشاله اوسه چې ځي اوداازغی دې له لارې نه لرې کیږي - بي بي چې دمیړني خبره یاده کړه هغې ورپورې وخندل ،دهغه راوستل دجان محمدسرحدي کاردی نه درڼا- له دې مشورې نه وروسته په لمانځه ودرېده - بي بي بېرته دفرحناز اورڼا خواته راغله ، رڼا ژړل ، بي بي مکارې ته ښه پلمه جوړه شوه وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ګوره جنۍ! زړه مې مه خوره، ته چې ځې نوزه اوتروردې دلته يوازې څه وکړو ته خوهم دکور نارينه يې اوهم مشره -

-په بلا وهمه داسې مشرتوب ټوله ورځ راته خبرې کوې اوداده څوورځې وروسته بريښنا راځي-

-دبريښنا ترراتګ پورې که خدای مه کړه څه وشي په دې پېښورکې خو بل کوردخپلوانونه لرو

-ولې دادپلاردتره زوی دې چې نن ورکره ورغلې وې-

-چېرې ورغلو دهغه ادرس غلط وټول فقير ابادمو چاڼ کړ خوپيدامونه کړ- همداسې تش لاس راغلو، وروسته صدربازارته لاړو اولږ څه سودامې واخيسته اودادی راغلو- اوس چې دې دواړه پښې په يوې موزې کې کړې دي اوله بلې خوافرحنازهم نه شم خپه کولی نو دميړني دټيليفون نمبر راکه که څه خبره وه بيا هغه ته به ووايو-

-سمه ده

رڼا هم په کاغذ يوغلط نمبر ورته وليکه، نوره ولاړه شوه اودسبا دتګ لپاره يې خپل بيکونه تيارول-

.................................................................

اوه ويشتم ځپر کی

ميړنی په خپلې ليلې کې په خپل چپرکټ باندې اوږد غزېدلی و، هغه درڼا سره ترليدلو وروسته سيده خپلې ليلې ته راغلی و، دغرمی ډوډۍ يې هم نه وه خوړلې ټوله ورځ يې همداسې په نهاره تېره کړې وه- هغه اوس نه پوهېده چې ولې يې ناڅاپه زړه ليونی شو اورڼا ته يې داسې خبرې وکړې - په هغه خورڼا ترځانه هم ګرانه وه ، ورپه زړه به شو چې رڼا سره يې خپلې اړيکې څرنګه وشلولې اودرڼا وروستی ټيليفون اودهغې دمايوسۍ نه ډکې خبرې، دهغې کابل ته تګ، داهرڅه يې زړه ورته زوراوه - مجاهد خدای خبر چېرې تللی و، ماښام تياره کوټې ته راغی ميړني دکوټې څراغ هم نه ولګولی - مجاهد چې دکوټې څراغ بل کړ نوپه ميړني يې سترګې ولګېدې ،هغه ته عجيبه ښکاره شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ماماویښ دی اوځراغ یې نه دی لګولی ،ولې دماما عادت هغه ته پوره مالوم و چې ماما درڼاګانو بچی و، یوه شپېبه هم په تیارو کې نه کېناسته - نن څنګه تیاره یې خوښه کړې نوځکه یې ورځخه وپوښتل:

- ماما ولې خیریت خوبه وي ؟ طبیت دې راته ټیک نه ښکاري ؟

- هسې .... ښه نه یم پري مې بِده څه مې ځوروې-

- ولې ماخوڅه نه دي درته ویلي خبره څه ده ؟ مامي خودرسره جګړه مګړه نه ده کړې-

-څه بچو ! مامي دې لاړه نوره ختمه شوه-

-څه ! ختمه شوه ، ولی ؟

- هسې نپوهیږم یووارمې شیطان زړه ته ډول ډول اندېښنې راواچولې ،بس نوره مې په خپله ورسره ختمه کړه-

-والله ماما داخودې ښه کار ونه کړ چې ختموله دې نوپیلوله به دې نه-

-څه ووایم چې کلي ته ګورم نوځان سره وایم چې مې ښه وکړل اوچې ځان ته ګورم خپل زړه ته ګورم نودامې لوی بد اوظلم ځان سره او هم هغې سره وکړ-

له میړني نه هم لاره ورکه وه مور یې له کلي نه په اونۍ کې دوه ځلې رویباران رالېږل اودې ته منتظره وه چې کله به دمیړني ازموینې خلاصیږي اوکلي ته به ورځي - دسلام خان ماما په وینا خویندویې هم په مورباندې دمیړني او شبنمۍ کوژدنې ته څوځوجوړې کالي کړي وو، دلته بي بي بریښنا ورته وړاندې کوله، دایې لابله خوشحالي میړنی په خپلو غمونواوسوچونوکې غرق و، دمجاهد ورته زړه خپه شو- هغه نن په خپلو پېسو دوه خوراکه چولې دلیلې دخواله کانټین څخه راوړې، وچه ډوډۍ یې هم راخیستې وه ، میړني له خوراک نه انکاروکړ اوپه هېڅ شي باندې یې څکه هم ونه کړه- هغه نورلیونی کېده، نه یې رڼا خپلولی شوه اونه یې هېرولی شوه - مجاهد خپله ډوډۍ په مړه ګېډه وخوړه، دمیړني لپاره راوړې چولې یې هم نوش جان کړې، ولې چې پېسې یې پرې تللې وې—

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ډوډۍ نه وروسته مجاهد میرني ته مشوره ورکړه چې باید له رښاسره بیوفایي ونه کړي اورښا داسې په اسانه خوشې نه کړې ولې چې دابه په راتلونکي کې میرني ته گرانه پریوځي- دواړه په دې فیصله شول چې سبا ته به مجاهد رښا ته ټیلیفون وکړي اوله نژدې نه به ورسره خبرې وکړي اودحل لاره به په شریکه درې واړه دمینې دې کېسې ته راپیداکړي- په دې خوشحالۍ کې په مجاهد باندې دریم خوراک چولې هم تاوان شوې، ولې چې له دې فیصلې نه وروسته میرني ته اشتها ورغله او وړی شو له چولو خوړلونه وروسته دواړه له هاسټل نه راووتل اودصدر دبازارپه چکر ورگډشول - که څه هم نن شپه مجاهد دمیرني دخوشالولولپاره هر ډول مسخرې کولې خوبیاهم دمیرني زړه اندېښمن و اورښا یې سترگوسترگو ته کېده – څه کم لس بجې وې چې دواړه سره خپل هاسټل ته راستانه شول - دمیرني له سم غزېدو سره له راډیو نه دراډیو مشر لاروي ټیلیفون وکړ دنمبر په لیدلو دمیرني له رنگ نه وینه وتښتېده - په تېره شوې ورځ باندې دپېښور په پي سي هوټل کې دافغانستا ن اوپاکستان تر منځ دتجارتي روابطو په اړه یولوی کنفرانس جوړشوی و، داخبر دمیرني له لاسه وتلی و خوهغه په میرني باندې غوسه نه شو ورته یې وویل چې ددې دواړو

هیوادنو په منځ کې په تجارتي روابطو باندې دې یو تفصیلي راپورجوړکړي اودسبا سهار دلومړۍ خپرونې لپاره دې راولېږي - میرني خپل موبایل ته کش ورکړ او مالومات یې راغونډکړل دهغه موبایل داسې ښه و،چې په لاسپیکر باندې یې غږوچتېده اوده هغه مرکه یا اواز په خپل میني ډسک کې ثبتولی شو - میرني خپل راپور جوړکړ اودانترنېټ له لارې یې دراډیو دفتر ته ولیږه-

دراپور دثبتولو په منځ کې مجاهد متوجه شو چې هلک یوازې یو یونیکر اغوستی اوپه خپل چپرکټ باندې لپ لغړ ناست دی - بې خاره خپل راپورورکوي ،په دې وخت کې مجاهد ورته وویل

-ماما ! ښه ده چې په راډیوکې راپورټر یې ، دادی په لپ لغړ ځان دې راپورریکارډ کړ اوځان دې بیغمه کړ، که داټي وي وای اول به دې کلین شیو کاوه، لا مبل به دې ،پینټ به دې اچولو اوبیا به درپوټ لپاره دکمرې مخې ته و درېدې-

(c) ketabton.com: The Digital Library



-هو خوریه ! ښه دې وویل که ریښتیا راباندې وایې دهمدې تنبلۍ لپاره تلویزیون ته لاړمه نه اوس راډیو څه پوهیږي چې ته لوڅ ولاړیې اوکه پټ-

له راپورنه وروسته بیا هم میړني ته خوب نه ورته ،په خپل چپرکټ کې په یوه لټ اوبل لټ اوښته راوښته هغه سباته دراډیو تلویزیون مضمون ازموینه درلوده خو هغه دنربچي هیڅ ډول تیاری نه ونیولی درڼا اندېښنو پسې اخیستی و-

سهار چې له خوبه راپاڅېده نوپه دې خوشحالۍ چې مجاهد به له ازموینې نه وروسته رڼا ورته پخلاکړي په خوشحالۍ سره خپل حمام وکړ، خپلې جامې يې واغوستې خپله دامتحان تخته اویودانه خط کش له یوقلم اوموبایل سره واخیستل ترڅو دازموینې په پای کې رڼا ته زنګ ووهي- اوهغې ته دمینې اوپخلاینې سرپرایز ورکړي - دازموینې دتالارپه لوري روان و داپه داسې حال کې و چې نورو هلکانو دازموینې لپاره سم په نقلونو په مردکیو او دکتابو نو په ډول ډول وسلو ځانونه سمبال کړي و کله چې میړنی دخپلو ملګرو سره دهاستل له دهلیز نه راووت نو په خپل خط کش باندې يې دخپلې ازموینې په تختې باندې سازوهل پیل کړ- تخته يې ټنګوله اوداسندره يې غږ وله:

نه دتورو پړق لري......

او نه د زغرو شرنګ لري

جنګ له دی منصور روان

توپ او نه تفنګ لري.....

..............................................................

اته ویشتم څپر کی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بي بي درنۍ په تگ باندې خوشحاله وه، دهغې په گومان درنۍ تربیرته راتگ پورې به دبریښنا له میرني سره کوژده شوې وي ، که رنۍ دلته وای نو خامخا به یې ددې کوژدنې په لاره کې خنډونه اچولي وای- اوس دبي بي پوره باور راغلی وچې نه رنۍ له میرني سره علاقه لري اونه میرنی له رنۍسره، دهغې اوملغلرې په گمان میرني باندې دجان محمدسرحدي تاویزونوپوره اثر کړی اوهغه اوس له بریښناڅخه تاویږي راتاویږي-

درنۍ زړه صبر نشو په خپلې کوټې کې یې له بي بي اوفرحناز څخه پټ میرني ته په خپل موبایل باندې ټیلیفون وکړ خو دمیرني موبایل بندراته درنۍ زړه ته ولوېده چې نوره یې کیسه مفته شوې نوخپل زړه یې کلک کړ، اوښکې یې پاکې کړې او نوره یې فیصله وکړه چې پېښورته به نه راځي ،کابل کې به ځان ته ښه وظیفه پیداکړي او وروسته به یوکور په کرایه ونیسي - له جمال سره به مشوره وکړي اوبي بي به په زوره کابل ته راوغواړي ،ولې چې په کابل کې ددوی یوڅه خپلوان شته ،ترپېښوره کابل نوردوی ته ښه دی – هغې خپل پلانونه تراوسه بي بي ته نه ووبیان کړي- دهغې زړه ته لوېدلې وه که بي بي پرې پوه شوه بیا به کله هم هغه له فرحناز سره

کابل ته پرېنږدي - رنۍ سباناری ونه کړ ،یوازې فرحناز او امرخیل سباناری وکړ- بي بي فرحناز ته وویل چې جنۍ یې پر دې اوپه خدای سپارلې ده،پام دې پرې ډېر کوي - بي بي رنۍ ته دلسو شپو اجازه ورکړه ،له بلې خوادبي بي زړه په دې ټول وچې دفرحنازسره مخامخ دملغلرې ترورډلیوره کورو بي بي یوڅوډالرې هم رنۍ ته ورکړې - امرخېل په بسم الله سره خپل بیک اوږې ته واچاوه اودرنۍ بیک یې په لاس کې ونیوه په دوعاسره یې له بي بي اوملغلرې ترورسره خدای پاماني وکړه- دخدای پامانۍ په وخت کې رنۍ ژړل ،بي بي ته هم ژړاورغله په دې وخت کې دبي بي پام شو چې رنۍ بنگړیواله هم په غېږه کې نیولې، نودبنگړیوالې په لیدلو موسکۍ شوه- دبي بي له دې مانادارې خنداسره ټول رنۍ ته متوجه شول اوټول په خنداشول- بي بي رنۍ ته وویل:

-داڅه کوې بچۍ..... نه چې داهم کابل ته درسره بیایې ؟

-هو بي بي داخودتا مینتونوته نه پرېږدمه ترڅو چې راځمه بیابه دې نذیر ته په غېږه کړي وي او ورکه کړي به دې وي-

(c) ketabton.com: The Digital Library



-نه يې ورکومه شرم دی خلک به په لاره کې څه وايي  خلک به درباندې وخاندي-

-نه بي بي والله که يې پرېږدمه ځان سره يې وړمه-

بي بي ته درنا ضد معلوم و چې څه به يې زړه غوښتل هغه به يې کول دهغې خبرې ورته بې فايدې وې نوځکه بي بي هم هغه پرېښوده چې خپله بنګړيواله ځان سره بوځي-  امرخېل دباډرو اډې پورې ټيکسي ونيوه، له اډې نه په فلانکوچ کې سپاره شول دتورخم په لوري په موټرکې ډېروخلکوته دبنګړيوالې موجوديت جالب و، امرخيل هم دخلکو تبصرو ته پام و نوځان سره يې فيصله وکړه چې دتورخم نه به ترکابله داکيسه ختموي او دربس يو موټربه ترکابله ونيسي -نږدې لس بجې وې چې دتورخم په اډه کې سره له موټر نه کته شول - دتورخم  له خط نه هم په بېغمۍ تېرشول، ولې چې هلته دامرخېل زړه لږ څه په درزا و،دخط په سر ولاړ پاکستاني پوليس خو لانجه په پېسو اخلي- وېرېده چې اوس دوی ونه دروي  چې دابنګړيواله خوله اصله پاکستانۍ ده تاسويې ولې افغانستان ته وړئ ؟  کله چې دکابل اډې ته سره ورسېدل نو دامرخېل له ستوني لاړې تېرې شوې ،زرترزره يې يوه  کرولا ترکابله په دوه زره افغانيو دربس کرايه کړه - بيکونه يې دکرولا په ډالي کې ځای پر ځای کړل - خپله له وړې رنا سره په مخکني سيټ کې کيناست اورنا له فرحناز او بنګړيوالې سره په شاسيټ کې کيناسته، په دوعا او بسم الله سره موټر دکابل په لوري راوان شو- دريور هم شيشه رنا ته مخامخ کړې وه اوټيپ ته يې دنغمې کيسټه ورواچوله خودرنا ورته هډو پام هم نه و ،يوازې يې خپله بنګړيواله په غېږ کې نيولې وه- رنا به خپله بنګړيواله دموټر شيشې ته ورنزدې کړه کله چې به په بنګړيوالې دلارې تيزه هوا ولګېده له وېرې نه به يې سترګې برګې شوې اوځان به يې درنا خواته ورکش کړ، له دې منظرې نه هم رنا خوند اخيست اوهم فرحناز خوپه امرخېل دومره ښه نه لګېده- فرحناز درنا هره نخره منله ولې چې دهغې دزړه په حال خبره وه ،هغه پوهېده چې رنا دخپل دغم دغلطولو لپاره داسې لوبې کوي- رنا ته ميرنی په سترګوکې نبغ ولاړ و، بنګړيواله يې په خپلې خوا کې په سيټ پرېښوده او خپله يې دموټر سيټ ته تکيه ووهله اوپه سوچونوکې لاړه- فرحناز خاموشه وه،موټر هم په درز کې روان و،  رنا ورو، ورو‌ژړل ، فرحناز ورنژدې شوه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورويې ورته وويل چې امرخېل پوه نه شي زه دې په دردپوهيېرمه يوازې دومره ماتل وکړه چې ترکوره ورسيږو- رنا هم دڅان دکنترولولو هڅه وکړه - ډرايور سکوت مات کړ امر خېل ته يې وويل:

-انډيواله شاله کابل ته په ميلمستيا ځې ؟

-نه پېښورته په ميلمستيا راغلی وم، دکاکا خسر کورمې و خپل کورته روان يم-

-داپېشو شاله ددې وړې ماشومې ده-

-نه داپېشومې ددې نازولې ښينې ده ځان سره يې کابل ته وړي-

-ښه ښه.....

-که ريښتيا راباندې وايې دهمدې پېشو لپاره مې داموټر دربس کړ، ماويل چې پرېږده ازاده وي په بل موټر کې به يې زړه تنګ شي-

له دې خبرې سره له ډرايور سره ټول په خنداشول – دغرمې د ډوډۍ لپاره سره دوريښمين تنګې درودله غاړې يوه هوټل سره يې موټر ودراوه ،لاندې کښته شول رنا دفرحناز سره درودغاړې ته لاندې کښته شوه ،په داسې حال کې چې بنګړيواله يې هم په غيږه کې نيولې وه ، دسيند غاړې ته چې نژدې شوه نو بنګړيواله يې له غيږې کښته کړه خپل مخ اولاس يې پريول - فرحناز هم خپل مخ اولاس پريول-

لاشببه نه وتېره چې بنګړيواله ورڅخه دسيند دغاړې دلويولويو ډبرو په منځ کې ورکه شوه- رنا له فرحناز سره دبنګړيوالې په لټه کې شوه څو وارې امرخېل له پاسه دوی ته غږ وکړ چې هو ټل ته راوخيژي خوفرحناز له رنا سره دبنګړيوالې په لټه کې وه- رنا په ژړاشوه سوچ يې کاوه چې بنګړيواله سيند ته نه وي خطاشوي اواوبو نه وي وړې امرخېل له پاسه ليدل چې مېرمن يې له رنا سره په دې لويولويو ډبرو کې ولې داسې سرګردانه ده، وارخطاشو اوددوی خواته راغی فرحناز نه يې وپوښتل هغې ورته وويل چې بنګړيواله نشته - امرخيل هم په داسې حال کې چې هم ځانته په غوسه واوهم رنا ته خودخپلې ښځې له وېرې نه يې څه نه ويل دبنګړيوالې په لټه کې شو- ډرايور چې خپله ډوډۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې خوړلې وه په دې سوچ چې نورخپل سفر ته ادامه ورکړي دموټر خوا ته راغی ،ګوري چې دمساپرو درک نشته- دسرک بل اړخ ته راغی وې ليدل چې دموټر سوارلۍ يې دسيند دغاړې په لويو لويو ډبرو کې سرګردانه په څه پسې ګرځي - هغه ته هم داموضوع جالبه شوه ،ددوی خوا ته ورغی ، امرخېل ورته دبنګړيوالې په اړه وويل هغه هم ورسره ملګری شو خوډرايورهم لغمانی او ښه چالاکه سړی و، په ځای ددې چې په ډبرو کې يې ولټوي يوه خواته يې منډه کړه-هو ټل ته ننووت او سيده داشپزخانې په لورې ورغی ، هلته يې شاوخوا وکتل دهوټل له شاګردنه يې دتورې بنګړيوالې په اړه وپوښتل هغه دبنګړيوالې په پښو اوغاړه کې شړنګانې ليدلې وې شېبه وروسته يې وليدل چې دهوټل دپخلنځي په يوه ګوټ کې بنګړيواله په څه شي شخوند وهي - هغه يې په غيږه کې ونيوله اوورته يې وويل:

-راځه ورکه شي لکه چې ورکه يې ، کاشکې زه ستا په ځای وای چې دې ښکلې ليلا په ماپسې ژړلي وای-

ډرايور دامرخېل دوی په لوري رامنډه کړه او ورته يې وويل:

-کليواله ! راځه ومې مونده خوارکۍ وږې پسې اخيستې وه هوټل ته راغلې وه-

-اوخدای دې اباد کړه ښه شوه چې دابلا وهلې راپيداشوه که نو رنا به په دې تنګي کې راباندې شپې اړولې وې-

-راځئ راځئ اوس دې ته هم يوخوراک ښه کباب راوغواړو چې ترکابله بيا وږې نشي اومونږ اوتاسوسرګردانه نه کړي -

امرخېل له ډرايورنه بنګړيواله واخيسته اورنا ته يې ورکړه ،دغرمې ډوډۍ يې سره وخوړه او وروسته په داسې حال کې چې ډرايور ته خدای ورکړې وه اوشېبه په شېبه به يې په بنګړيوالې باندې ټوکې جوړولې دکابل دلارې مزل يې رالنډ کړ ،مازيګر قضا وچې دامرخېل دبلاک په مخ کې موټر ودرېده اورنا له فرحناز اوبنګړيوالې سره له موټر نه کوزه شوه اودکابل يخه هوا درنا په مخ راپرېوته اوربل يې وتخناوه اورنا ته يې ديونوي ژوند پيغام ورکړ- رنا دهوا په لګېدو ديوه لوی سکون احساس وکړ ،دماشوم توب شپې او ورځې ورپه زړه شوې چې هغې په دې ښکلي کابل کې تېرې کړې وې -

(c) ketabton.com: The Digital Library



……………………………………………………………

نهه ویشتم څپرکی

میرنی اومجاهد په یوه ځای دازموینې له تالار نه راووتل هغوی دواړه خوشحاله خوشحاله دخپل هاسټل په لوري روان و دوی دواړه دازموینې په پوښتنو باندې جر وبحث کاوه مجاهد له میرني نه وپوښتل:

-ماما دمعلوتودرسولو لپاره ریډیو ښه دی که ټي وي په ځواب کې دې څه ولیکل-

-خورئیه ….ماخو ورته ولیکل چې رادیو ښه ده-

-ولې ریډیو ؟

- په دې چې په رادیوکې سړی لپ لغړ هم راپورونه لوستلی شي-

په دې خبره دواړه په خنداشول، دمیرني ښېره وه چې زرترزره هاسټل ته لاړ شي او مجاهد رڼا ته ټیلیفون وکړي-

هاسټل ته په ننوتلو سره میرني ته په موبایل زنګ راغی دیوې غونډې خبرتیا وه چې نن ماپښین یې باید دی رادیوته خبرپرې جوړکړي - وروسته له لنډوخبرو میرني خپل موبایل بند کړ مجاهد ته یې وویل چې درڼا دوی کره ټیلیفون وکړي دایې هم ورته وویل چې که بي بي غوږۍ پورته کړه نودی دې ځان دیوې مجلې مدیر معرفي کړي اوکه رڼا وه نوخپل نوم دې ورته ووایي ولې چې دمجاهد په اړه رڼا ته میرني ډېرې کیسي کړې وې - هغه پوهیده چې مجاهد یې دکوټې انډیوال دی، په بسم الله ، بسم الله مجاهد نمبر ډایل کړ:

دوه درې زنګه تېر شول ….. اواز راغی:

-الو الو څوک یې خبرې وکه…..

-هیلو سلام علیکم مورې رڼا جانه شته…..

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه ته ځوک یې ؟

-زه احمدشاه دشمشاد مجلې مدیر یم  یوه کیسه مې ورځخه غوښته چې په مجله کې یې چاپ کړو-

-نه هغه خو نشته نن سهار کابل ته لاړه-

-کابل ته لاړه ، هغې خومونږ ته ویلي وو چې یوه کیسه به راکړي-

-زه نه یمه خبره هغه کابل ته تللې....

میرنی هک پک په ځای پاتې شو چې داکومه ټپه اوري سوچ یې وکړ چې دا به یې پلمه جوړه کړې وي نوهڅه یې وکړه چې رڼا ته په موبایل باندې ټیلیفون وکړي خودهغې موبایل هم بندراته - میرني باندې نور سر تاوېده په سر باندې یې یو شدید درد راغی  نور بې حوصلې شو خپله دریشي یې هم ونه وېسته همداسې پړ مخې په خپل چپرکټ باندې پریوته، باربار یې درڼا په موبایل باندې نمبر ډایلاوه خوهغه مسلسل بند راته دغرمې ډوډۍ یې هم ونه خوړه ترمازیگره پورې خپه په خپل چپرکټ باندې پروت وو-

په دې سوچ کې و چې رڼا ولې داسې زر په یوې ورځ کې خپله اراده بدله کړه هغه اوس په ریښتیا کابل ته تللې ده،که تللې وي نوهغه خدای پاماني یې هم درواغ نه وو - ځان ورته ملامت ښکارېده ،مجاهد هم میرنی ملامت کاوه ورته یې ویل چې ځان یې په خپله په لوی لاس لاهو کړی ولې یې داسې یوپه یو لیونی کېده اوخپلې ملگرې ته یې داسې خبرې کولې  مجاهد ورته ویل:

-ماما داسې ډرامې دې چې کولې اوس نو ورته ټینگ شه-

 دوی په همدې جروبحث کې و چې دمیرني په موبایل له دوبۍ نه دهغه دیوه بل ښه انډیوال ټیلیفون راغی هغه له دوه میاشتوراپه دې خوامیرني ته تیلیفون نه و کړی - میرني چې نمبر ته وکتل نو تیلیفون یې مجاهد ته ورکړ او ورته  یې وویل چې ټیلیفون ځواب کړي ، ولې چې ارشد ډېر ټوکمار هلک و، اواوس میرني په دې حالت کې دهغه دټوکو حوصله نه درلوده- کله چې مجاهد ورسره په خبرو شو نودنر زوی دمیرني دمینې کیسه سر تر پایه ټوله ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه، ارشد هم ټینګاروکړ چې میړنی دې ورسره مخامخ شي ، میړني له خبرو نه ځان ساته خو مجاهد هغه دتوپ په خوله کې برابر کړ ی و-

-هیلو .....

-سلام مړه اوربېدل کیږي چې بیا دې ګلان اوبه کړي-

-نه بابا مجاهد لیونی دی هسې دروغ یې درته ویل-

-نه درواغ خونه دي خوداراته وایه که کیسه دومره ریښتیا ده نو ولې دې خپه کوله اوس باید دي چې ورپسې ورشې او پخلا یې کړې-

-والله رانه لاره ورکه ده نه پوهیږم څه وکړم ؟

-داسې وکړه چې لومړی یې کورته ورشه که رښتیا کابل ته تللې وه نوپه یوې طریقې سره یې ادرس واخله ورپسې ورشه نورنو په ما ناوخته ده چېرې کارلرم بیا به ماښام ته سره خبرې وکړو -

له لنډ سوچ نه وروسته میړنی په دې فیصلې ورسېده چې په یوه پلمه به درنا کره ورشي او وبه ګوري چې جنۍ ریښتیا تللې که درواغ یې جوړکړي-

مازیګر یې ولامبل پاکې جامې یې واغوستې اودرنا دکور په لوري روان شو په ټوله لاره کې رنا یې ترسترګو سترګو کېده په هغه ځایونکې چې رنا ده سره دربېدلې وه، خبرې یې کړې وې اویا یې هم له موټر نه کښته کړې وه ،هغه ځایونه دمیړني په سترګو کې اوس ازغي ازغي کېدل–

داپارتمان زنګ ته یې فشار ورکړ، شېبه وروسته بي بي دروازه ورته خلاصه کړه بي بي یې په لیدلو ډېره خوشحاله شوه دمیړني دراتګ زېرې یې په ملغلرې هم وکړ - میړني یې سره صالون ته بوته - میړني درنا پوښتنه وکړه خوهغوی ورته وویل چې کابل ته تللې ،میړني پلمه وکړه چې هغه په راډیو کې مقرره شوې باید راپوروونه ورکړي - بي بي ورته وویل چې دوی به فرحناز ته ټیلیفون وکړي اورنا ته به ووایي خومیړني چلاکي وکړه که څه هم په موبایل کې یې بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور ختم شوی و، بي بي ته يې وويل چې همدا اوس دې نمبر ورکړي ددوی په مخ کې به رڼا ته زنګ ووهي چې څر نګه راځي اوکه نه په ځای يې بل څوک ونيسي-

بي بي هم دفرحنا ز هغه ليک راواخيست چې ملغلرې له کابله راوړی و، له ليک نه ميرني نمبر ځان سره ياداشت کړ وروسته يې بي بي ته وويل چې نمبر يې بند راځي اوهيله يې وکړه چې دوی دې تماس ورسره ونيسي - بي بي هغه جوړه چې يې په جان محمد سرحدي باندې دم کړې وه راواخيسته او دميرني مخې ته يې کېښوده، دانارو يوه پياله سوړ شربت يې هم ورته راوړ بي بي ورته وويل چې پنځه ورځې پس بريښنا راځي که ده ته زحمت نه وي له هوايي ډګر نه دې ترکوره راورسوي ، ميرني هم ورسره ومنله-

ملغلرې دبريښنا په تعريفونو خوله خلاصه کړې وه، ميرني خپل مقصد ترلاسه کړی و، اوس نو هغه ته داځای هم سور اورګرځېدلی و، خپلې ګړۍ ته يې وکتل دماښام اوه بجې وې نور يې له هغوی نه رخصت واخيست ، په دې لټه کې شو چې زرترزره نن شپه رڼا ته ټيليفون وکړي او دخپل کار په اړه ترې بخښنه وغواړي - له هغه سره دا اندېښنه وه چې مور يې ورته شبنمې نه وي غوښتې او رڼا به څر نګه پخلا کوي - درڼا دپخلا کولو لپاره يې پلانونه جوړول خوخپل ټول پلانونه يې ورته داعتبار وړښکاره نه شول - دې ته متوجه شو چې دارشد سره به په شريکه خبره جوړه کړي اورڼا به پخلاکړي–

........................................................................................

## دېرشم څپرکی

رڼاچې ټوله ورځ يې سفرکړی و ،دپېښور اوکابل لاره يې رالنډه کړې وه نودماښام له ډوډۍ نه وروسته يې تصميم ونيوه چې ژرترژره وېده شي - هغه خپه وه دميرني ياد ځوروله نن شپه دجمعې شپه وه ورپه زړه کېده چې د تېرې جمعې ما ښامی يې له ميرني سره تېر کړی و اودفرحناز دورتګ لپاره يې تياری نيولو- څومره خوشحاله وه خوژوند څنګه خپله څېره بدله کړه ، دې خوپه خوب کې هم ددې حالت تصور نه کاوه، هغه اوس په جلا کوټه کې په هغې جوړې کړې بسترې باندې اوږده غزېدلې وه چې فرحناز ورته غوړولې وه، په کوټه کې سره ايرانۍ غالۍ هواره وه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوټه ټوله په یشمي رنګه توشکوباندې زینتي شوې وه اوداورسۍ دپردو رنګ هم یشمي دتوشکو په رنګ و- دکوټې په کونج کې دمیز دپاسه یوه وړه ګلدانۍ اېښې وه ، په ګلدانۍ کې یې مصنوعي ګلاب ایښی و خوداسې ښکارېده لکه چې اصلي وي - لیدونکی به یې دڅولومړیو شېبو لپاره ښه غولاوه ترڅوبه دې ګلاب ته ګوتې وروړې نه وې تا به ویل چې اصلي دی- دکوټې دپردو اوتوشکو رنګ درنا لپاره ارام ورکونکی و- مخامخ په دیوال باندې هم یو حکاکي شوی انځور راځوارړند و یو ماشوم چې دسوالګرۍ کځوړه یې په غاړه او اوږد لرګی یې په لاس کې دیو ښو نځي دیو ټولګي په دروازه کې غلی ولاړ اودټولګي دماشومانو په ننداره و،چې سبق یې سره لوست دې انځور هم رنا ته یو څه ورپه زړه کول خوپوره سوچ یې نه پرې رسېده خوبیاهم کوټه اودهغې ډیزاین ورته ډېر جالب وو- په دې سوچ کې شوه چې سباته به فرحنازته وایي که یې خو ښه وي داکوټه تر څو چې ور سره او سیږي دې ته ورکړي - دابه ددې کوټه وي بل سوچ یې داوکړ چې سبا ته به خامخا له فرحناز سره ځي اودځان لپاره به دخوب یوه ښه تخت هم اخلي - دجامولپاره یې هم دالمارۍ سوچ ورغی چې هغه به هم اخلي چې خپلې جامې اونورضروري سامانونه به په کې ږدي - خپل دستکول یې چې نږدې ورته پروت و راواخیست ، خپلې کلدارې او ډالرې یې حساب کړې - زړه یې مطمین شو چې پوره کافي پېسې ورسره شته ،خوشحاله شوه ، بنګړیواله یې هم ترڅنګ وېده وه هغې ته یې وکتل زړه یې پرې وسوځېده دلارې پېښه ورپه زړه شوه چې هغه ورڅخه ورکه شوې وه لاس یې پرې راکش کړ هغې سترګې نیم کښې کړې رنا ته یې وکتل خوله یې کړه وړه کړه اوږد اړږېمی یې وویست دخپلو پښو شخي یې هم اوښکله او خروپش یې پیل کړ په ناز ناز درنا نه تاوېده راتاوېده اوپه غرېدلي اواز باندې یې میو میو کاوه- رنا ته بیا میړنی ورپه زړه شو ستونی یې راډک شو ښه یې وژړل پاڅېده، دکوټې څراغ یې بند کړ او سر یې کېښود سترګې یې لانه وې ورغلې چې دکوټې دروازه وډبیدله ،ددروازې ترشا دامرخېل غږ شو چې وروبې رنا ته اوازونه کول - رنا وارخطاشوه چې امرخېل له هغې نه څه غواړي ؟ ووېرېده دروازه یې امرخېل ته خلاصه نه کړه بیا وټکېده او امرخېل بیا په رنا غږ وکړ چې دروازه خلاصه کړي - رنا وېرېدلې په خپل خوب ځای کې ناسته وه له ډېرې وېرې نه یې غږ هم نشوکولای شېبه وروسته دامرخېل له غږ سره دفرحناز غږ هم مل شو، رنا ددروازې خواته ورغله اوغوږ یې ونیوه چې فرحناز

(c) ketabton.com: The Digital Library



امرخېل ته ويل شاله وېده ده  خوارکۍ ځه زه به ټيليفون ته ورشمه ورته به ووايمه چې سبا ته ټيليفون راوکړي - دټيليفون دنوم په اورېدوسره رڼا دروازه خلاصه کړه رڼا فرحناز ته وويل:

-څه خبره ده زه مو ووېر ولم ماويل چې امرخېل ولې په دې توره شپه کې راته نارې وهي-

-زه په تشناب کې وم نوامرخېل غريب له مجبورې نه درته غږ کړی زرشه ټيليفون دی ميړني ټيليفو ن راکړی-

رڼا ته مالومه نه وه چې ټيليفون چېرته ايښی دی فرحناز نه يې دټيليفون پوښتنه وکړه چې چېرې ايښی دی ټيليفون چې دفرحناز دخوب په کوټه کې ايښی و نوفرحناز هغه له لاسه ټينګه په شوخۍ ونيوله اودخپلې دخوب کوټې ته يې بوتله نيغه يې دټيليفون دميز خواته ودروله په ميزباندې ايښې غوږۍ رڼا پورته کړه:

-هلو.....

-هلو سلام ليونۍ ماخوټوکې ګڼلې چې ته به ليونۍ يې خوته په رېښتيا ليونۍ وختلې  دومره ضد باورمې نه وو-

-سلام زه خوهمداسې يمه ، زړه دې  .... هغه کارونه به له ما نه وشي چې دچا به پرې يقين هم نه راځي-

-ښه داراته وايه چې پېښورته راځې اوکه نه ؟

_نه په بلا يې وهمه  نه ته راسره سم يې اونه مې قسمت دومره ښه دی-

-ښه نو په پخه راغلې يې ؟

-هو همداسې يې وګڼه....

-نوواده به چېرې کوو ؟

-کوم واده  ؟ د چا واده ؟

-ولې زما اوستا واده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



-یعنې چې واده هم کوې ؟

-ولې نو ټول عمر به لونډ ګرځمه-

-نه اوس زه هوښیاره شوې یمه تاغوندې هلکانوسره واده نه کوم-

-ښه نوداسې چې ده نوسمه ده زه هم زارۍ نه کوم دخدای په امان-

-نه نه غوږۍ مه بِده واده کومه ته یې په شپه کې وایې زه یې په شنه سهارکې درسره کوم-

-شوخي مې وکړه لیونۍ همدانن مې په ځان یقین راغی چې پوره دربانډې مین یمه نه مې رپوټ له لاسه کېده اونه مې خوراک څښاک ، نوره ته پوه شه ، بله لاره نشته نه بي بي حاضره ده چې دلورپه ځای خپله بنزۍ راکړي اونه زما مور دخپلې خورزې په ځای تاراته غواړي له فرحناز سره همدانن شپه پوره خبرې وکړه زه په دې دوه درېو ورځوکې در روانیږم اودهمدوی کره به درسره واده وکړمه-

-ښه رښتیا وایې-

-هونوڅه درواغ خونه دي یوه هیله لرم او هغه داچې ما سره روزانه په ټیلیفون تماس نیسه که پیسې درسره نه وي ماته وایه زه به یې کابل کې په کومې صرافۍ درلېږمه-

-ښه سمه ده خوبیامې هم باورنه راځي ډاریږم چې په شا نه شې-

-نه نه داسې نه ده قسم درته خورمه ښه چې باوردې نه راځي نوغوږۍ فرحناز ته ورکړه-

-هلو سلام میړنه څنګه یې ؟

-شکر دالله احسان دی تاسو په خېرکابل ته ورسېدئ ؟

-هو ژوندی اوسې چې پو ښتنه دې وکړه-

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ما درنۍ سره دواده په اړه خبرې وکړې هغه به ټوله کېسه درته وکړي  که په دې لاره کې له مونږ سره څه مرسته وکړې نو ټول عمر به ستاسو احسان منديمه-

-سمه ده،  ولې نه !  رنۍ خوزما خورده  واخله نورنوله رنۍ سره وغږيږه-

-هلو ګرانې اوس دې زړه راټول شو-

-هومننه-

-ښه اوس نو اجازه راکړه چې خوب وکړمه چې سبا ته به په راپورونو اونورو پرګرامونوپسې به ورک يم  دخدای په امان-

رنۍ له خوشحالۍ نه په جامو کې نه ځائېده ، امرخېل درنۍ په خبرو يوځه پوه شو فرحناز درنۍ کوټې ته رنۍسره لاړه په دې اړه يې  سره خبرې وکړې چې داموضوع به څرنګه امرخېل ته وړاندې کوي اوهغه به دې کارته څنګه اړ باسي چې ددوی دواده مراسم ترسره کړي-

فرحناز شېبه وروسته درنۍ له کوټې راووته اوخپلې کوټې ته راغله - امرخېل د خپل دخوب په تخت باندې دخپلې وړې لور  رنۍ سره خواته اوږد غزېدلی و، فرحناز يې خواته راغله اوترڅنګ يې اوږده وغزېده- دهغه په غاړه کې يې لاس واچوه او ورته يې وويل چې درنۍ خبرې خودې واورېدې ، وروسته يې ټوله کېسه ورته وکړه خودواده دماملې خبره يې ورسره ونه څېړله،  ولې چې امرخېل تراوسه دفرحناز په اند  ددې خبرې اورېدلو اومنلوته اماده نه و،نو خبره يې سبا ته پرېښوده-

نوربيا.........................................................

يودېرشم څپر کی

درنۍسره په ټيليفون باندې خبرو ميرني ته يوځه حوصله ورکړې وه - هغه نن سهار ترنورو ورځو وختي له خوبه پاځېدلی و، په سوچ کې و  چې له کومه ځايه يې راپيل کړي ، له هغه نه لاره ورکه وه ،وېرېده چې امرخېل به ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې موافقه وکړي چې رڼا له خپله کوره هم يو کور اوياپه کوم ځای کې کرايي کوټه پکارده - په مجاهدېې نظر پريوته هغه په بيغمه زړه په خرهاري خوب ويده و، ځان سره موسکی شو اووې ويل چې داغريب په څه پوهيږي داپرېږده چې هر مازيگر دهاستېل له نورهلکانوسره خپله دکرکيټ لوبه وکړي - له ډېرو سوچونو څخه پس مختار ورپه زړه شو چې دپاکستان په ورځ پاڼه کې يې مشر راپورټر و اوميړني له دربو کالو راپه دې خوا پيژنده دميړني ورسره لږ څه پخه يارانه هم وه ولې چې دخبريالۍ لارې اوچارې په پوره معنا هغه ورته ښوولې وې - له بلې خوا هغه واده درلود درې بچيان يې وو ، دايې ښه وګڼله چې له هغه سره خبره شريکه کړي ترڅو ورسره مرسته وکړي - په همدې خوشحالۍ له چپرکټ نه پاڅېده اودمخ اولاس وينځلولپاره تشناب ته لاړ - له تشناب نه راووت ، خوښ دخپلې کوټې په لوري روان و - کله چې کوټې ته ننووت نوسترګې يې په سلام خان ماما ولګېدې ، په دروازه کې وچ پاتې شو خو ځان يې په سلام خان ماما باندې پوه نه کړ ، له سترې مشې نه وروسته يې دکلي کور احوال ترې واخيست - پوه شوچې ادې يې تراوسه خوورته کارنه دی کتلی نوپه زړه کې خوشحاله شو - سلام خان ورته وويل چې ادې يې نېغ په نېغه په ده پسې رالېږلی چې نورېې لاس نيولی راوله چې دلته دده اودشبنمې دکوژدن خبره کور په کور ګډه شوې اوله بلې خوانه خلکوېې مورته شکونه ورپېداکړي ، نه چې زوی يې دې کوژدنې ته غاړه کې نه ږدي - خوسلام خان ماماميړني ته وويل چې ما له مجبورې ورځې نه دتا مورته وويل چې داسې نه ده هلک ماته تېرواري له تانه پټې پېسې راکړې چې ترورته يې ورکړمه، مقصدخويې داوچې شبنمې ته به يوڅه واخلي هسې يې له شرم اوحيا نه ميړني راته نورڅه ونه ويل ، خو په رنګ باندې يې پوه شوم چې څه يې په زړه کې دي - ميړني هغه ته هم سباناری راوغوښت ،دواړوسره يوځای سباناری وکړ - ميړني ورته وويل چې سبا ته يې وروستۍ ازموينه ده له بلې خوانه نن بازارته روان دی ځانته نوې جامې اخلي هغه درزي ته ورکوي ، په دې کې خوپوره اونۍ لګيږي نورارنوانه اونۍ نه دبلې اونۍ په لومړۍ ورځ که خدای کول کلي ته به ورشي ،خوسلام خان تکرارکاوه چې دااونۍ به په پېښورکې ورته پاتې کيږي اويوځای به سره ځي - ميړني نه نوره لاره ورکه وه همداسې يې په تاوانونو راخيستې وه خپله جيبي بسته يې ولېدله ، پکې شپږ زره کلدارې وې دځان دخلاصولو لپاره يې هغه سلام خان ته ونيولې او ورته يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ما ما ! داواخله ځان سره یې که ، دومره ځې ، راځې دابه کورلپاره یوڅه واخلې اومورمې لیونی ده دلته په پېښورکې به یوه اونۍ څه وکړي ؟ نوداسې وکه چې ته به کلي ته لاړشې اودبلې جمعې په ورځ به راشې زه به یې سباته تاسره کلي ته یوځای لاړشمه ولې چې لږ څه سودا هم دکورلپاره اخلم هلته به خلکوته یو څه پروګرام خوبه نیسو-

-ګوره خورینه ! ما مه شرموه ، ستا خبره زه درسره منمه خوستامور ډېره زوروره ده هغې ته به څه ووایمه ، داځلې هم راسره راتله ،ماورته وویل هغه خوارکی په هاسټل کې دی تابه چېرې په هوټلونو باندې ګرځومه بل وارته که راتلم نو هغه به خامخا راسره راځي بیاته رانه مه خپه کېږه-

-نه ماما! سل وارې خوېې راوله خېر دی ځانته اوکورته به هغه هم یوڅه سوداواخلي خوله جمعې نه مخکې به نه راځۍ چې دلته دمورلپاره ځای نشته بیا پروانه لري که هوټل کې یوه شپه تېره شوه-

سلام خان هم دمیړني عذر په ځای وګاڼه - له میړني سره یې خبره ومنله - میړنی یوځای له سلام خان ماماسره له یونیورسټۍ نه ووت -دعمومي سرک په غاړه یې سلام خان ته غاړه ورکړه اوخدای پاماني یې ورسره وکړه - دخپل لاس ګړۍ ته یې وکتل ،ستنه دسهار دنهو بجو اشاره کوله - زرېې ټیکسی ته لاس ورکړ او دپاکستان دورځ پاڼې په لوري دمختار خواته روان شو - په لاره کې یې ځان سره په زړه کې ډول ډول پلانونه جوړول چې څرنګه خبره له مختار سره شریکه کړي اوهغه به یو ناڅاپه کله هم داسې لنډې مشورې ته غاړه کېښږدي - په همدې سوچونوکې لاره پرې رالنډه شوه اوسیخ دپاکستان دورځ پاڼې ددفتر لاندې له ټیکسی نه راکوز شو- خپل جیب ته یې لاس کړ چې دټیکسی پیسې ورکړي ، بټوه یې راوویسته ورپه زړه شو چې هغه خونن دخپلې بټوې ټولې پیسې دسلام خان له سر ه جار کړې وې - دبینک چک بوک هم ورسره نشته حیران شو خوځان یې له لاسه ورنه کړ په موبایل باندې یې مختار ته زنګ وواهه خودلته موبایل هم ورته دنه ځواب ورکړ، په مبایل کې یې هم پیسې خلاصې شوې وې - مجبورشو ډرایور ته یې وویل چې ودرېږي ترڅوله خپل ملګري نه ورته پیسې راواخلي - دډرایور پرې اعتبار رانه غی ورته یې وویل چې یوازې دې نه پرېږدم چې دې لوی بیلډنګ ته ورننوځې بیا به دې یوالله راپېداکوي ، ته راته

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼکې غونډې ښکارې  هغه هم ورسره نېغ پاس دمختار دفتر ته ولاړ-  کله چې دمختار په شعبه ورننوتل دمختار کرسۍ تشه ښکاره شوه - له نورو همکارانو نه یې پوښتنه وکړه، هغو ورته وویل چې دادوه ورځې کیږي چې هغه په رخصتۍ دی ، کورکې به وي ، دفتر ته نه راځي نودی غلی له ټکسي ډرایورسره دپاکستان دورځ پاڼې له دفتر نه راکوز شو-

بیرته په ټیکسي کې کېناست  ځان ته هم غوسه و سلام خان ته هم غوسه و اوکله کله ډرایور ته هم ، مخامخ  دخپل هاسټل په لوري راوخوځیده  - دلته هم ډرایور لکه سیوری چې شېبه په شېبه یې پرې دګڼ ګپ ګمان راته  ورسره ګرځیده -  دخپلې کوټې نه یې خپله دبینک کتابچه راواخیسته اوبینک ته په ټیکسي کې لاړ- یو واري یې شل زره کلدارې راوویستې ، ډرایور ته یې پیسې ورکړې - دخپل مبایل لپاره یې هم کارت راواخیست اوبیرته په هماغه ټیکسي کې دخپل هاسټل په لوري راروان شو -  دلته  دډرایور ورته زړه خپه شو ورځخه یې وپوښتل چې ولې دومر ه پرېشانه دی ؟ نورچې دمیړني زړه په ترکېدو و، ډرایور ته یې ټوله کیسه په لنډوني تېره کړه -  ډرایور چې دپاخه عمر سړی و، ورته یې  وویل غم مه کوه داخوکومه سخته ماملة نه ده -  هغه ورته وویل چې نه دې په مختار پسې ګرځي اونه دې په پلار پسې  ،په خپله دې خپله فیصله وکړي - خپله ټیکسي یې دده په اختیارکې کړه، میړني ته هغه تر ځان هم میړنی ښکاره شو – وروسته تیکسي وان ورته ځان د اورنګ زېب په نامه وپېژنده او تر ېنه یې بخښنه هم و غو ښتله چر سهار مهال یې پرې د ګڼ ګپ ګومان کړی و – اورنګزېب دهغه په ویناپه اصله دمردان و خواوس په ښارکې اوسېده اوپېښورکې یې ټیکسي چلوله  - هغه میړنی مخامخ  دخپل یوه ملګري پراپرټۍ ته بوته  اوهلته یې دیو اپارتمان پوښتنه ترې وکړه چې په ارزانه یې په کرایه ده ته ورکړي  - داورنګ زیب له انډیوال سره داسې کوم تش اپارتمان نه و خوهغه له خپل بل انډیوال نه یوتش ارپارتمان په لس زره ادوانس او دمیاشتې په څلورزره کرایه په ابدره کې ونیوه - میړني داپارتمان کیلي ګانې  واخیستې ، اپارتمان یې خوښ شو دخپل جیب پاتې پیسې یې وشمېرلې هغه ته شپږ زره پاتې وې ، داورنګ زیب ملګري دومره مراعت کړی و، چې خپله سهمیه به په بله میاشت کې له میړني نه وغواړي  - اورنګ زیب ماما  میړنی مخامخ دخپل یو کلیوال باندې برابر کړ چې په کارخانوکې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د كارپېټ خرڅولو دوكان درلورد، دميرڼي داپارتمان دټولو کوټولپاره يې ډول ډول كارپېټونه په څلور زره كلدارو باندې برابركړل-

كارپيټونه يې هم په اپارتمان کې سره کېښودل اوس نو اورنګ زيب له ميرڼي نه خپلې پيسې نه غوښتې دهغه زړه ته لوېدلې وه چې سړی خو ورڅخه نشي تښتېدلی ولې چې لس زره كلداری يې له انډيوال سره په اډوانس کې پرتې دي- ورته يې وويل چې په دې دوه زره كلدارو به دکمرو داورسيو لپاره پردې واخلې، هغه به درزي ته ورکړې چې ترسبا پورې به يې برابرې کړي - دپاتې نور سامان دا خيستو لپاره به سبا ته اورنګ زيب ورپسې راشي اوسودابه سره وکړي - اوس يې سره ښه وګڼله چې اپارتمان ته لاړشي ، داپارتمان چوكيدارته كيلي ورکړي ترڅودوی دغرمې ډوډۍ خوري هغه به ورته اپارتمان پاک کړي - دكمرو لپاره يې پردې واخيستې او په صدر کې يې درزي ته ورکړې - اوس نو ميرڼي سره زر كلدارې پاتې وې ، دغرمې ډوډۍ يې سره وخوړه او داپارتمان په لوري لاړل - چوكيدار هم اپارتمان ورته پاک کړی و، نو ميرڼي له چوکيدار او اورنګ زيب ماما سره په بسم الله ويلو كارپيټونه په كمرو کې وغوړول - دمازيګر پنځه بجې وې چې ميرڼی دخپل هاستل په مخ کې داورنګ زيب ماما له ټيکسۍ نه راكوز شو، په خپل چپرکټ باندې مات مات پروت وو اودرنا په سوچونوکې تللی و ، له مجاهد نه هم خبر نه وو چې هغه چېرته ورک و ترڅوېې ورته شنې چای دمې کړې وای اودده دمه پرې جوړه شوې وای – مجاهد پخوا د شنو چايو سره دنورو پاكستانيانو په څېر زياته علاقه نه درلودله خو له كله نه چې د ميرڼي سره د کوټې انډيوال شوی و نه يوازې يې خو ښولې بلكه پخولې به يې هم - داورنګ زيب ماما دامشوره به وارپه وار ورپه زړه شوه چې که بريالی راغلې او رڼا درسره ميرانه وکړه نوښه ترښه څوک مه خبره وه اوكه خدای مکړه ماته دې وخوړه نو دخپلې مورخبره ومنه او بيا دعسل دمياشت لپاره شبنمې دلته راوله - په همدې پوښتنو اوسوچونوکې راګيروو چې مجاهدراننوت اودده دسوچ لړۍ يې وروشلوله، غږ يې پرې وکړ:

- ماما چرته وې ، په ايمان اډو درک دې نه لګي -

-کورمې ستا مامي ته ونيوه-

www.ketabton.com د پښتو كتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



-مبارک شه ! زنده باد اوس نو میټایانې به رابانديې خورې-

-ولې نه بچو.....

-هو ماما نن دې موبایل هم بند و دلته درپسې یوه بوډۍ ښځه راغلې وه-

-ښه ! ...... څوک وه ؟ څه یې ویل ؟

-زه نه پوهیږم خوستا پوښتنه یې ډېره کوله-

-زما موبایل خوبند نه دی-

خپل موبایل ته یې وکتل وې لیدل چې دمجاهد خبره رښتیا وه دهغه موبایل هم دچارج دکموالي له وجې نه غلی په خوب تللی و -

..............................................................................

دوه دېرشم څپر کی

فرحناز دشپې امرخېل ته ټوله کیسه کړې وه درڼا په اړه یې ورسره ډېر سیاسي کارکړی و، امرخېل دجمال اودکورنۍ له وېرې دې سترې کار دترسره کولو لپاره غاړه نه اېښوده، فرحناز اورڼا ته خو دا خبرې ښې ښکارېدې خو دپښتو په ټولو قوانینو باندې امرخېل خبر و ، هغه په خپلې وړې رڼا باندې وېرېده چې خداې مه کړه سبا ورځ دپښتنو په جرگه کې په بدو کې لاړه شي - داخبره یې فرحناز ته هم کړې وه خو فرحناز ته رڼا ترخپلې لور هم ډېره گرانه وه هغې ویل درڼا دخوشحالۍ لپاره هرې قربانۍ ته تیاره یمه - امرخېل خپل درملتون ته تللی و ، دسهار نهه بجې وې فرحناز اورڼا دواړه دکور په صالون کې ناستې وې رڼا ژړل اوبنگړیواله یې پښو ته تاوېده راتاوېده خوفرحناز ورته ډاډگیرنه ورکوله چې هرڅول کیږي امرخېل به رضاکوي ،که بل څه ونه شول چې میړنی راغی نو ملا به راوغواړي یو کاسه اوبه به کیږدي او دابه ورته په نکاح کړي رڼا ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ستا خبره خو رښتیا ده داسې به وکړې په نکاح کې خو به یو څوکسه سړي وي چې یو یې دنکاح پلارشي او دوه کسه نور شاهدان-

-مه خپه کېږه چې ډېره سخته راغله یو به دبلاک وکیل راوغواړو چې دنکاح پلاردې شي اوبل به دملاسره دوه قاریان او دبلاک چوکیدار...... نورو نو څه وایې دغه څلورکسه بس نه دي چې ستا دارمان دپوره کیدو لپاره یوه هڅه وکړي-

-ولې ؟ څه کونډه خونه یمه چې داسې بې هوسه او بې ارمانه واده به کومه -

-ته په کونډې مونډې پسې مه ګرځه ،خپل کاردې کوه که دهوس اوارمان خبرې دې وکړې نو دمیړني نه به لاس واخلې-

دوی په همدې مرکې کې وو چې په ټیلیفون زنګ راغی ،فرحناز ورغله رڼا په سوچ کې تللې وه ځان سره یې ژړل خوپه ژړاکې به دفرحناز دا جوړ کړی پلان ورپه زړه شو اوخندابه ورغله هغه په خندا اوژړاکې وه چې فرحنا ورته ناري کړې راشه بلا وهلې میړنی دی - رڼا ورمنډه کړه مخکې له دې چې رڼا غوږۍ واخلي فرحناز ورته وویل چې دامرخېل په اړه چې دې واده ته غاړه نه ږدي څه ونه وایي نه چې هلک بیا په شا نشي-

- هلو میړنیه ! څنګه یې ډېر مې یادېږې-

-سلام ګرانې ! درپسې مړ مړشوم ته څنګه یې ښه خویې ؟

-هو ته خپل حال وایه ؟

-زه ښه یم خو لږ څه جنجالونه مې ډېر دي دظالم لورې ماته خو وخت نه پیداکیږي ټیلیفون خوکوه-

-ولې په څه باندې مصروف یې ؟

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



-پوی به شي لا پوی نه ده نادانه ده ....... هسې لېونی ده په ماگرانه ده ،  داټول اوټول ستا جنجالونه دي گرانې کورمې ونیوه-

اودکورلپاره مې يو څه سامان رابرابرکړ-  گوره راسره وخت نشته قلم راواخله اودانمبر نوټ کړه دحوالې نمبردی امرخېل ته ووايه چې دکابل دسرای شهزاده نه دې  دوه لکه افغانۍ واخلي  ما دفروشگاه دهوټل له مالکه سره به ټيليفون  خبرې کړي، زما ديو ملگري شناخته دی ، يوازې پېسې دې وروړي-

-گرانه !  هغه خو.....

-هغه څه  ..... ؟

-هغه خو دې کارته.....

-هلو ميرنيه  ! څنگه يې ؟  رڼا به قلم راواخلي دټيليفون دلاسپيکراواز لوړو ماهم واورېده مبارک دې شه الله دې کورپه تاباندې بختورکړي تشويش  مه کوه هرڅه سم روان دي  -

-فرحناز خورې !  رڼا مې په تاسپارلې ده  خيال يې کوه ډېره نازولې ده-

-ته غم مه کوه داخودڅو ورځو خبرې دي چې په کلوېې هم راباندې وسپارې  رانه خپه به نه شي له بلې خوا يې بنگړيواله هم ورسره شته-

-څه وايې  ؟ هغه توره بلا يې هم دروړې ؟

-هو هغه خوېې وړه خورده کله چې په خير راغلې بيا به کيسه درته وکمه چې له پېښوره ترکابله يې په مونږ کومې ډرامې ونه کړې له خندانه  به دې بډوډې وخوږيږي واخله درڼا سره وغږيږه نورنوزما اوستا خدای په امان-

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا له میرڼي نه نمبرنوټ کړ اونورې یې ورته څه ونه ویل یوازې دفرحناز دکور نمبریې ورکړ میرڼي رڼا ته وویل چې پنځوس زره افغانۍ دې ځانته واخلي اودځان لپاره جامې اونورضرورتونه دي برابرکړي - شپه ورسته رڼا غوړۍ کېښوده-

درڼا اوس مهال زړه ولګېده چې میرڼی ورته وفاداردی خوبیا هم یولک افغانۍ دومره پېسې نه وې چې درڼا زړه پرې پوره ډاډه شي فرحناز په امرخېل پسې ټیلیفون وکړ تر څودغرمې ډوډۍ لپاره راشي ددې ترڅنګ یې ورته وویل چې ضروري کارېې هم ورسره دی - رڼا او فرحناز دواړه پخلنځي ته لاړې ، فرحناز دغرمې لپاره دتورو بانجانو بوراني پخوله ولې چې داخواړه دامرخېل ډېر خوښ و - په دې اړه یې رڼا ته هم وویل چې اوس به هغه کارکووچې امرخېل پرې خوشحاله شي - رڼا بانجان راواخیستل او په پاکولوېې پیل وکړ فرحناز رڼا ته وویل چې ددې موضوع په اړه به داهم امرخېل ته زارۍ کوي او خپله ځولۍ به ورته غوړوي هغه ډېر مهربان دی ګوندې درڼا اوښکې یې په زړه درحم اوبه توې کړي اوراضي شي - رڼا فرحناز ته وویل چې ته ځولۍ وایې زه به ځان په پښو کې ورته وغورځومه ګوندې داسوال مې قبول کړي دواړو پخلی وکړ اوس ساعت دغرمې دولس بجې وې خوامرخېل لانه و راغلی-

رڼا اوفرحناز به کله پخلنځي ته تللې او دپخلنځي له بالکن نه به یې دامرخېل لاره څارله اوکله به دفرحناز دخوب کوټې بالکن ته به راغلې اودې بالکن نه به یې دامرخیل لاره څارله - دبانجانو دبوراني پوخ کړی دیګی رڼا دداش له پاسه کښته کړ دپخلنځي په غولي کې یې کېښوده اوپه کاچوغې باندې یې ددیګي مزه ولیده - دخپلې ژبې ټک یې راوویست فرحناز چې په بالکن کې ولاړه وه اودامرخېل لاره یې څارله ورسره غم وچې که رانشي اونن پېسې دهوټل ملک ته وې نسي نو څنګه به شي له بلې خوایې که امرخېل ومنله نو دمیرڼي دپېسو ترراتګ پورې به نن ماپښین رڼا ته پخپلو پېسو دواده جوړې اونورضروري سامانونه واخلي - په همدې سوچ کې وه چې داپارتمان ددروازې زنګ راغی فرحناز په وارخطایۍ منډه راواخیسته چې ناڅاپه یې پښه دبوراني بانجانوپه پوخ کړي دیګي ولګېده اودیګی په بل مخې چپه شو په همدې کې چې رڼا ددیګي خواته ناسته وه اونرۍ سلاته یې جوړوله ددیګي په ګرموبانجانواوسرو غوړیوېې دواړه پښې وسوځېدې-

(c) ketabton.com: The Digital Library



..............................................................................

درې دېرشم ځپر کی

دبریښنا دراتګ نه پېښورته دریمه ورځ وه اودمیړني دلیدولو سخته لیواله وه ، بي بي دمیړني په نمبر باندې په دې دوه ورځوکې په زنګ وهلوځان ستړی کړی ، خوچاورته ځواب نه ورکاوه - پرون ماپښین هم دبرښینا مشورې سره سم دمیړني هاسټل ته تللې وه اوپه پلمه یې حلوا اوخوږې مټایانې دبریښنا دراتګ په زېری کې هاسټل ته وړې وې -ترڅو په میړني باندې د برېښنا دراتګ زېری وکړي - خوله بده مرغه بخت ورسره یاري نه وه کړې اومیړنی یې نه ولیدلی اوس بریښنا ملغلره ترور اوبي بي دسباناري په سرناستې وې ،ملغلرې ترور بي بي ته ویل چې ماښام یې رښا په خوب لیدلې ده چې شنه کالي یې اغوستي وي - دملغلرې ترور په دې خبرې بریښنا وویل چې واده ونه کړي-

بي بي ورزیاته کړه ، نه بابا په کابل کې به ځوک وکړي - دبي بي لا خبره نه وه خلاصه شوې چې بریښنا وویل له هغې نه شک هم نشته ، که خدای کول دانوم به هم مونږ ته وګټي - بي بي په بریښنا غوسه شوه اودهغې خبره پرې ښه ونه لګېده ورزیاته یې کړه که داسې یې وکړل نوزه به ژوندۍ نه یمه ، دیوې جمعې لپاره مې لیږلې ده چې جمعه تېره شوه ورپسې ټیلیفون کومه چې راشي کنه نو دفرحناز دکورخواته خودې دتروردلیوره کوردی دهغې کره به لاړه شمه اولاس نیولې به یې راوړمه ، بس اوس دې دومره خدای وکړي چې میړني سره ته وګورې ،سبا ته به دې خپله دجان محمدسرحدي دوکان ته بوځمه چې هغه دې په مخ ایتونه ولیکي نو په هرډول چې کیږي میړنی به راپیداکړو- چې یووار یې سترګې درباندې ولګېدې نو سم به درپسې لیونی شي - ماخورښا کله هم دفرحناز سره نه لېږله خودتاغم راسره و هغه مې ولیږ له چې میدان راته تش شي جمال هم خبر نه دی که خبر شو چې جنۍ مې دفرحناز سره لیږلې نو سم به راپسې له استرلیانه راشي، وایي به چې له پردي سړي سره دې جنۍ څنګه لېږله –

دملغلرې ترور خوب لیدل نورهم دبي بي تشویش ورزیات کړ په دې سوچ کې شوه چې کابل ته رښا ته زنګ ووهي اودبریښنا له راتګ نه یې خبره کړي وارخطاله ځایه پاڅېده له الماری نه یې دټیلیفون یوکارت چې له رښا نه پاتې و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



راواخیسته برښیناته یې هغه کاغذپاڼه ورکړه چې رڼا ورته پکې دفرحناز دکورنمبر لیکلی و - بریښناهم په هماغه نمبر کابل ته زنګ ووهه -دڅوزنګزنو تېرولونه وروسته دفرحناز غږ دبریښنا ترغوږه شو ، له سترې مشې وروسته بریښنا درڼا پوښتنه وکړه ، دخپل راتګ زېرې یې په فرحناز وکړ ورسته رڼا هم ورسره وغږېده رڼا ورته وویل چې څلورورځې وروسته درارواني شنبې په ورځ به پېښورته ورځي -دبریښنا زړه بیغمه شو اوغوږۍ یې کېښوده - بې بې ته یې هم وویل چې په راتلونکي کې به داسې لویه غلطي نه کوي - دبي بي له حلق نه هم لاړې تېرې شوې ، دوی درې واړه په دې سوچ کې وې چې میرنی به څرنګه راپیداکوي اودبریښنا ملاقات به ورسره کوي چې په ټیلیفون باندې زنګ راغی بریښنا غوږۍ پورته کړه:

-هلو

-سلام درڼا جانې کوردی ؟

-بلې تاسوڅوک خبرې کوئ ؟

-زه میرنی خبرې کوم ، درڼا جانې له مورسره مې غوښتل چې وغږېږم ، هغوی شته

-ولې نه لږ انتظاروکړئ-

-الو.... زویه ! څنګه یې بلادې واخلم ، ته چېرته یې زړه مې درته وارخطاوه پرون درغلې وم کاسټل ته خوته نه وې -

-هو مورې ! ماته هم زما ملګري راته ماښام وویل ، اوس مې سوچ کاوه چې تاسو به وئ نو دهمدې لپاره مې ټیلیفون وکړ - امر خدمت....

-نه زویه ! خدای دې راته ژوندی لره بریښنا راغلې ده، ماحلوا اومیټایانې دروړې وې خوته نه وې-

-مننه مورې ! اوس میټایانې که خدای کول زه درباندې خورمه بریښنا جانه خوپه مونږ باندې ډېر حق لري-

(c) ketabton.com: The Digital Library



-زویه ! واخله ته په خپله داخبره ورته وکړه، هغه وايي چې میړنی یوواري مې سترې مشې ته هم رانه غی-

-ولې نه ! خامخا به درځمه خونن سبا ډېر مصروف یمه ، حتمي درځمه-

-هلو میړنی صیب څنګه یې ؟

-سلام بریښنا جانې ! په خېر راغلې ؟

-مننه ژوندی اوسې نن که وزګاریاستئ ، سره وبه ګورو ، بي بي راته ستاسو ډېر صفتونه کړي-

-مننه اوس خونشم کولای خوماښام ته که وزګاروم نودربه شم-

-نه ! نه ! پوره وعده وکړه چې بیامونږ بل چېرې لاړنشو-

-ښه ډېرښه ، زه به کوښښ وکړم-

بریښنا دمیړني سره په ټیلیفون خبرې ختمې کړې ، بي بي ورته وویل چې لاړه شي ځان دې ښه ولمبوي چې وخت ناوخت دی دوی باید زرترزره دجان محمدسرحدي دوکان ته ځانونه ورسوي ترڅو هغه دهغې په مخ باندې ایتونه ولیکي ولې چې ترلیکلو وروسته بیا به برښینا نه لمبیږي - بریښنا باندې دمیړني غږ ډېر خوږ لګیدلی و هغه بي بي ته غوسه وه چې ولې یې رېا خبره کړه اوس به هغه راروانه وي اوددې ټول پرګرامونه به ورته خراب کړي - بي بي ځان سره ډېرې پېسې واخیستې چې دماښام دمیلمستیا لپاره سوداهم راوړي خوبریښنا ورته وویل دسوداالپاره حاجت نشته هغه چې کله راغی نو تاسې به په کورکېنئ زه به هغه ته یوازې په کوم هوټل کې دعوت ورکړم اودواړه به لاړشو نن سبا دافیشن دی څوک چاته په کورکې ډوډی نه ورکوي له یوې خوانه به هلک متاثره شي اوله بلې خوانه به ماسره نزدې شي - ملغلرې ترورته دبریښنا دامشوره ډېره زیرکه اوعاقلانه وه ، ورته یې وویل که ته لورې له داسې چالاکۍ نه کارواخلې نو دمیاشتې په پای کې به دې واده وي له خیره سره –

لږه شېبه پس هغوی درې واړه دجان محمدسرحدي په دوکان کې ناستې وې اوبریښنا دې ته منتظره وه چې جان محمد سرحدي څه وخت دخپل دوکان له پس خانې نه دهغې بلې پېغلې له دم کولونه خلاصیږي اوددې وار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسيږي - په دوکان کې ډېرې ښځې اوپېغلې جونې راغلې وې ، هرې يوې دجان محمد سرحدي دکوډو اوجادو گانو تعريفونه کول چې وارپه وار دبريښنا پرې عقيده زياتېدله–

..................................................................

ځلوردېرشم ځپر کی

سلام خان شپه په کورکې تېره کړه له وېرې نه دميړني دوی کره ولاړنه چې بيا به پتاسۍ ببو دخپل ميړني پوښتنه کوي ولې چې سلام خان دپېښور دتگ په وخت کې له پتاسۍ ببو نه ښه په پېسو جيبونه ډک کړي وو او قول يې ورسره کړی وچې بې له ميړني نه به يوازې نه راځي -خپلې مېرمنې ته يې وويل چې تر جمعې شپې پورې به زه په کورکې پټ شمه که پتاسۍ ببو راغله نو ته به ورته ووايې چې زه نه يمه راغلی، ولې سلام خان چې کله ورځخه پېسې اخيستې وې شرط يې ورسره تړلی و که ميړنی يې رانه وست نو داخپله يوه کلنه خوسۍ به په جرم کې ورکوي نو په همدې شرط هم دميړني موروورته ښې ډېرې پېسې ورکړې وې - مېرمن يې ورته وويل که راغله اوته يې دلته ولېدې نوبيا هغه خوټول کلي ته مالومه ده که دخوسۍ ترځنگ يې غوا هم درنه بونه تله نوبيا به زه دتاښځه نه يمه - سلام خان له خپله جېبه شپږ زره کلدارې ورکړې ورته يې وويل چې سمبالې يې کړي ،هغه دپتاسۍ ببو په پېسو باندې دپوره کال دکور خوړه اوتورې اوشنې چای راوړې وې ،ترځنگ يې خپلې ښځې ته پوره ښايسته جوړه جامې دميړني دکوژدنې دپاره راوړې وې - دهغې مېرمن ترهرڅه خپلې جوړې ته خوشحاله وه پېسې يې دخپل دواده په بکس کې کېښودې ، بکس يې کولپ کړ په غاړه يې راځواړنده دبکس دکولپ کيلي يې ببرته ترگرېوانه لاندې پټه کړه - دسلام خان راوړی کميس يې دکوټې په غولي اوار کړی و په کوټه کې په قيچي پسې گرځېده چې خپل کميس ونيسي اوپرې يې کړي ولې چې په راروانې جمعې کې که خدای کول دميړني کوژده به وي - سلام خان په سبا ناري ناست و چې کلا کې دپتاسۍ ببو غږ شو سلام خان څخه دتښتېدو لاره ورکه شوه ،حيران پاتې شو چې څه وکړي ، په مېرمن يې چې ترسلام خان نه هم خپله خوسۍ گرانه وه نو زريې سلام خان دکوټې په کونج کې کېناوه اودماشومانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسترې اودځان درنه بستره يې پرې واچوله هغه په دې پټولو لګيا وه چې پټاسۍ ببو کوټې ته راننوته  اودسلام خان ښځې ته يې وويل:

-ګلالۍ ! څنګه غلې يې تراوسه موسباناری نه دی کړی-

-نه ببو ستړې مشې-

-ښاده شې ...... راغلم چې سلام خان خوبه نه وي راغلی-

-نه نه دی راغلی-

-داډکه پياله دچايو دچانه پاتې ده-

-داخودماشومانوپيالې دي ګورې نه چې نيمه نيمه يې خوړلي اودوی دباندې وتلي-

-هو ماشومان خوهمداسې وي ، الله دې زما په کورهم رڼايې وکړي چې کال دې وخت ته دميړني دزوی غږ واورم
-

-هو ببو شبنمۍ هم خوشحاله خوشحاله معلوميږي ، داڅوورځې په کاريزباندې يې ګورمه چې تورې سترګې اوسره لاسونه ګرځي-

-اوزويه ! مايې ادې ته وويل چې دجنۍ لاسونه اوپښې بيخي چاودې چاودې دي ورته نکريزي يې کړي چې لږې پستې شي ، ميړني خوبه دښار دجنو پاسته پاسته لاسونه اوپښې ليدلې وي ،بيا به راته وايي چې دادې څه راته غوښتې ده—

پټاسې ببو زياته کړه:

-دباندې ماشومانوخودې ويل چې دادامې ماښام تياره راغی-

-نه ببو نه دی راغلی هغه زما دادا راغلی و، هغه ته دوی داداوايي-

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ښه ماویل چې دی راغی خومیړنی ولې رانه غی – وه جنۍ ! دابسترې دې ولې داسې ګډې وډې دي سم یې که-

-ښه ببو سمې به یې کړمه-

-ورکه وه یې، سمې یې کړه زړه مې ورته تنګ شو- که دې له لاسه نه کیږي زه به یې سمې کړمه - پتاسۍ ببو جګه شوه چې بسترې راسمې کړي خودسلام خان ښځې یې لاس ونیوه اوکې یې نوله - دمیړني مور دخپلو نوو بسترو دجوړولو په اړه یې هم ورته وویل چې نوې نوې بسترې یې جوړې کړي په شبنمۍ باندې یې نوي داور نغري هم جوړکړي - شبنمۍ په یوه کلا کې دمیړني دوی سره اوسېده ،هغه دپتاسۍ ببو نه یوازې داچې خورزه وه بلکه دلیوره لوریې هم وه- دهغې مور دمیړني دمور یوروه چې لیوره ته یې ناسته وه - دمیړني مورچې دسلام خان دښځې نوی کمیس ولیده نوشک یې راغی چې ګوندې سلام خان به راغلی وي خودهغه ښځې ورته پلمه وکړه چې داکمیس یې خاوند په هغه تېر وارې یې له پېښوره ورته راوړی دی -پتاسۍ ببو چایوته هم کېنناسته ، دهغې تادي وه چې زرترزره لاړه شي چې دکلي ښځې یې راغوښتي اونوی تنور ږدي - له بلې خوانه به دشبنمۍ پلار نواب ته هم پیېسې ورکړي چې له بازارنه ورته درې منه پتاسې اودری منه پلي راوړي چې کله میړنی راغی نودهغه دشهادت نامې لپاره به په کوروکلي میوې ویشي - دسلام خان ښځې هم ددې لپاره نه چې دمیړه سایې دبسترو لاندې نه وي ختلې دومره یې ایساره نه کړه وسره ووته اوکلادروازه یې ورپسې بنده کړه- په منډه کوټې ته راغله ، سلام خان لاهماسې په بستروکې پټ ناست و، بسترې یې ترې لرې کړې ، هغه خوارکی د بسترو لاندې سا نیولی سانیولی و شکرونه یې په ځای کړل چې بلاوه اوبرکت یې نه و - ښځې په چاینکې کې سوړشوی چای یې مخې ته کېښوده ورته یې وویل چې خپله ګناه یې ده، ددې له لاسه نه دي پوره چې ددوه پیالو چایولپاره نغري کې اوربل کړي - سلام خان سړې چای سړپولې ،مېرمېنې یې خپله خوسۍ له کدانې نه راویستلې وه په اخوریې تړله چې سلام خان ته یې وکتل نو خپله خوسۍ یې په تندي ښکل کړه، خپلې خوسۍ ته یې وویل ښه شوه چې په خېر تېره شوه که نه نو دده سرخوړلي له لاسه به اوس دپتاسۍ ببو سره روانه وې - سلام خان ولیدل چې ښځه ځان سره موسکۍ ده اوځه وایي نو ورته یې وویل

-تاته وایم ! داسې ځان سره ځنګه لګیا یې بیا څه وایې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



-څه نه  ماویل چې داخواره به دتاله لاسه که نه نو اوس به دمیړني له مورسره روانه وه-

-دسرخیر یې غواړه ترجمعې شپې پورې لاورځې شته-

-که داځل راغله نو په سره تناره کې دې کښته کومه چې سم کباب شې  په ځان به دې شرط تړلی وچې زما په خوسۍ دې شرطونه تړل-

-په ما هغه څه کوي په  ماخوبه ته شرطونه تړې-

-زه دې په بلا وهمه-

-څنګه مې په بلا وهې چې کله ګېره اوبریتونه سم کړمه اویا خپل مخ دنسوارو دډبلي په شېشې کې وګورمه نوته زر وارخطا شې راته راغبرګه کړې ، څه په ځان ګوتې وهې دازه دې بس نه یمه-

-سړیه ډېر پساتی یې، هم دې میړنی وخوړ اوهم دې دهغه مور،  دتاسره خو یوالله پوهیږي اوبس-

سلام خان داښه وګڼله چې دجمعې ترورځې پورې ځان په کورکې پټ کړي اودجعې په ورځ به دپېښور په لوري وخوځیږي-

.....................................................................

پنځه دېرشم څپر کی

خوشحاله ماښام و دفرحناز په کورکې په سي ډي ټیپ کې په لوړ اواز دخیال محمد دزوی وصال په اوازداسندره غږیده:

نکریزې ګډېدې  -  سینګار دې جوړېدو - سلګۍ مې اورېدې  - اوربل دې خوځېدو......  دجنکیو شورماشورو دملغلرې ترور یور هم له خپلو لورانوسره راغلې وه خو هغې رڼا په ماشوم توب کې لیدلې وه اوس چې ترې ښکلې پېغله جوړه شوې وه نه یې پېژنده  اوفرحناز هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هغې اودنورو بلا ک والونه يې پټه کړې وه - ټولو ته يې ويلي وو چې دادامرخېل وړه خورده ولې چې دامرخېل دکورنۍ اوخپلوانونه يې يوکس هم په کابل کې اوس مهال ژوند نه کاوه -خودفرحناز موراوخويندې په موضوع باندې خبرې وې هغوی هم دفرحناز په دې راز پرده اچولې وه - په کورکې خوشحالۍ وې،شورماشور و، رڼا دفرحناز له خويندو سره څوشېبې مخکې له ارايشګاه نه راغلې وه - رڼا سندري رنګې جامې چې وربانديې دمريو اومورمورو کار شوی و اغوستې وې - دارنګ جامو رڼا ته نوره هم ښکلا ورپه برخه کړې وه - ميړني رڼا ته ويلي ووچې نن به خامخا دنکريزو پروګرام ته ځان رارسوي خو اوس دماښام اته بجې وې له ميړني نه کوم خبر هم نه و، پېغلو نجنو او ښځو وارپه وار له فرحناز نه پوښتنې کولې چې شاوو، نه دی راغلی ؟ خوهغې ټولو ته په همدې يوه اواز ويل چې رابه شي الله دې خير کړي -لاره اوږده ده- دميړني دکورنۍ په اړه هم په محفل کې راغونډوشو مېلمنو پوښتنې کولې خودفرحناز مور ټولوته ويلي وچې دهلک کورنۍ په امريکې کې ده، درڼا اوس مهال ځانته پام هم نه و، هغې سره دميړني غم و که رانشي دابه څه کوي؟ په زړه کې يې ډول ډول فيصلې کولې - فرحناز هم شېبه په شېبه وارخطا کېده ځان سره يې سوچ کاوه که رانشي دالوی شرم به چېرې وړي ؟ سبا ته يې هم خلک دواده لپاره هوټل ته راغوښتي دي - وارپه وار به دامرخېل خبره ورپه زړه شوه چې ورته ويلي يې وو له تادی نه کارمه اخلئ، پرېږدئ چې هلک راشي - خودې اورڼا ورسره نه وه منلې - رڼا ژړغونې دفرحناز دخوب خونې په بالکن کې ولاړه وه اودميړني لاره يې څارله - لاندې دبلاک لاندې دوريځو او دنورو سالندونو ديګونه باروو، امرخېل هم داشپز خواته ولاړو ،رڼا خپلې ګوتې شمېرلې ځان سره يې ويل که په لسو بجو راروان شوی وي نو په يولس نيموبه تورخم ته رارسيږي اوبيا په يوه بجه ننګرهارته او له ننګرهارنه ترکابله پينځه ساعته مزل يې وبوله، بايد هغه په شپږو بجو رارسېدلی وای اوس خوداده ګړۍ په اتو بجولاړه ده - رڼا په خپلې بيوسۍ ژړل چې په دهليز کې شورماشور شو ،فرحنا ز له پخلنځي نه رامنډه کړه ،په دې سوچ کې نه چې کوم ماشوم خوږ شو، ناڅاپه يې په ميړني سترګې ولګېدې چې په دوړو خړ پړ ، بيک يې په اوږه ولاړو- امرخېل اوفرحناز خويندو پرې ګلان پاشل - فرحناز له خوشحالۍ نه درڼا په لوري منډه کړه، ورته يې وويل:

-رڼا ! سترګې دې روښانه ميړنی راغی-

(c) ketabton.com: The Digital Library



-نه بابا ! درواغ وایې.....

-راشه وې ګوره....

رڼانه هېره وه چې هغه اوس ناوې ده اوپه واده ټول راټول شوي خلک دهغې ننداره کوي، دهلیز په لوري په داسې حال کې چې دګلانودګېډۍ په ځای یې بنګړیواله په غېږه کې نیولې وه منډه کړه- په دهلیز کې میرنی چې دنجنو اوښځو په منځ کې راګېر و ، په رڼا یې چې سترګې ولګېدې نو چپه خوله پاتې شو - سلام کول هم ورځخه پاتې شو، رڼا ورته وځلېده، یوازې دومره یې بې اختیاره وویل:

-ګرانې! ځنګه یې ؟

دمیړنې په پوښتنې دپېغلو نجنو دخنداګاناشورداپارتمان په ټولو کوټوکې راونځېدو، رڼا هم وشرمېده هغه ته یې ځواب ورنه کړ دبنګړیوالې سره بېرته دفرحناز دخوب خونې په لوري یې رامنډه کړه –

دفرحناز دخوب په پالنګ باندې رڼا په لاس او پښو باندې جنو دناویتوب دنکریزو ګلان اوښکلې نقشو نه اچولې وو ، میړنی یې خوا ته ناست و، فرحناز دکوټې دروازه له شانه بنده کړې وه ترڅو دوی دواړه په ارام سره خوب وکړي، ولې چې سباته دواده پروګرام په هوټل کې و اومیړنی نن ماښام ستړی اوستومانه له سفرنه راغلی و- رڼا له میړني نه ګیله منه وه چې ولې یې نن دومره ځند کړی و،اودنکریځو ماښام یې پرې غمجن تېر کړ- میړني ورته ټوله دستومانیو کیسه تېره کړه ورته یې وویل چې ترغرمې پورې یې جامې لاجوړې نه وې اوپه دې دوران کې مې راډیوته هم خپل راپور ورکړ- رڼا ورته خندل چې په داسې ورځ کې هم ده نه راډیو هېره نه ده -خوهغه ورته وویل چې تانه بنګړیواله نه ده پاتې، مانه هم راډیو......

میړنی ډېر ستړی و، دخپلې ستومانتیادلرې کولو لپاره یې درڼا په ځنګل باندې سر کېښود اودواړو اراده وکړه چې نور خوب وکړي - په دې وخت کې دنجنو له خوا شېبه شېبه دروازه ډبېده اودوی دواړه یې کراراوارام ته نه پرېښودل - دفرحناز خویندو هم داویل چې میړنه ! راووځه نن شپه رڼا تاته نه درکوو، هغه زمونږه میلمنه ده ، بیا یې سبا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



درخپلوه- میرنی له رڼا غېږه راچارپېره کړه اوخپل غوږونه یې کانه واچول ،رڼا ته یې هم وویل چې که خوندوره شپه غواړې نو  دایو غوږدې بالښت که او بل برستن—

.................................................................................................

شپږدېرشم څپر کی

سهار دسباناري په وخت کې میرني امرخېل ته سره دمصرفونوحسا ب وکړ، هغه ته یې پوره پیسې ورکړې اوله مصرف نه یې یو څه زیاتې نورې هم ورکړې -  امرخېل دماښام واده لپاره یونیم سل نفره په خپل زړه راغوښتي وو اودیونیم سلو نفرو دډوډۍ پیسې یې هوټل والا ته ورکړې وې -  میرني په دې وخت کې له امرخېل نه موبایل واخیست ، وې غوښتل چې یوازې هدایت هدایت ته بلنه ورکړي هغه ته یې  زنګ وواهه ، هغه لا په کورکې و دخپل دواده زېرې یې پرې وکړ اوورته یې وویل چې خپه کیږي دې نه او بل چاته دې نه وایي او له خپلې مېرمنې سره دې ماښام واده ته راشي  ، پلمه یې ورته وکړه چې دکارت درسولو لپاره وخت ورسره نشته -  هدایت هدایت هم ورته وویل چې ډاډه دې اوسي ،دی ماښام وایي که غواړې همدااوس دده دکارونودسمبالو لپاره هم حاضردی - میرني له چایو وروسته یوه منډه دزرګرددوکان  په لوري هم وکړه ،ولې چې ماښام درڼا لاسونه اوغاړه ورته تش وبرېښېدل ، دواړه لاسونو ته یې بنګړي اودغاړې لپاره یې ښه امیل هم راوړ- ماپښین محال یې خپله دواده دربښي واغوسته امرخېل هم موټر ګل پوشه کړی و تربلاک لاندې ولاړو،  میرنی  له امرخېل اوفرحناز سره په موټر کې سپور شو-

امرخېل اوفرحناز له خپلې مور او ورېنداري سره په هوټل کې دمېلمنو دپذېرایې لپاره وختي راغلل اومیرنی ارایشګاه ته په رڼا پسې لاړ چې هغه دفرحناز له خویندوسره ورته منتظره وه -تېر مازیګر و چې میرنی اورڼا په ګل پوشه سپینه کورلاکې هوټل ته راغلل ، هوټل ته په ننوتو دمیرني سترګې دهوټل په صالون کې په شاعرانو اولیکوالانو اوسندرغاړو ولګېدې ،تره کی او هدایت هدایت هم دګلو له ګېډو سره دامرخېل خواته دمېلمنو دپذیرایي لپاره ولاړ وو- کله چې درڼا په هدایت هدایت سترګې ولګېدې  نو موسکۍ شوه خوله شرم نه یې خپله موسکازرترزره کنترول کړه-

(c) ketabton.com: The Digital Library



امرخېل دواده لپاره یونیم سل نفره راغوښتي وو خو هدایت هدایت اوتره کي دنرزامنو کله چې خبر شول چې درنا اومیرني واده په فروشگاه هوټل کې دی نوتر یوې بجې پورې یې دکابل په ښارکې چې په نوم شاعراولیکوال اوسېده اوپه نوم سندرغاړی و، هغه یې ټول راغوښتي وو -درنا اومیرني سره هسې هم ټولو ادب والو مینه درلوده ، هدایت هدایت ټولو شاعرانو لیکوالانو ته ویلي ووچې دکارت ورکولو لپاره میرني خوارکي وخت نه درلود، ولې تاسوته خومعلومه ده چې هغه خوارکی شپه ورځ په راپورونوپسې ورک وي نودهوټل ددروازې په خوله کې به زه اوتره کی به تاسوته ولاړیو، بس ډاډه رادرومئ - میرني لارنا ترد ناوې صالون پورې نه وه رسولې چې دهوټل دډوډۍ دبرابرولو موظف سړی یې ترځنگ راغی اوهغه یې گوښې ته کړ، په دې وخت کې دهدایت هدایت اوتره کي پوره میرني اوهغه سړي ته پام و، نوهدایت هدایت تره کي ته سترگه ووهله اومیدان ته سره ورگډشول داسې نڅایې کوله ته به وایې چې دپلارپه واده کې سره گډېږي - دهوټل موظف سړي میرني ته وویل چې تاخودیونیم سلو کسانو دډوډۍ پېسې راکړي نواوس خو میلمانه دې تردری سو نه هم زیات دي - داکارهدایت اوتره کي دمیرني دشرمولو لپاره کړی و- میرنی دسړي سره دامرخېل خواته ورغلو-

میرني امرخېل په پېسو پسې ولیږه ترڅوله کوره پیسې راوړي اودهوټل موظف سړي باندې یې په ډېر عذروزاریو ومنله چې دوه سوو نوروميلمنوته هم ډوډۍ راتیاره کړي - دهدایت هدایت مېرمن تل عادت درلود چې هرواده ته به تله نوخامخا به یوځل ارایشگاه ته هم تله که داموقع به ورته برابره نه شوه که دورور واده به یې هم ونه به تله هغه له رنگه سکنه وه ، داجالبه وه چې هغه نن پرته دارایشگاه له سینگاره په معمولي میکپ کې په دې محفل کې لیدل کېده -هدایت هدایت له تره کي سره مېزپه مېز گرځیده اودمیلمنو پالنه یې په خپل سرکاوه خوخدای له میرني سره مل و چې هېڅ پام یې نه وچې درنا دکورنۍ دغړیو پوښتنه وکړي اویا دمیرني دکورنۍ دغړیو، داسې ښکارېده چې ښه زوریې ورکړی و، درنا خواته ورغی هغه دناوې په صالون کې ناسته وه، نجونې اوښځې ترې راچارپېرې وې خوبیا هم هدایت هدایت ونه شرمېده سیده ورننوت ، رنا یې په لیدولو داحترام په خاطر ورته ودرېده اوپه لاس یې ورسره روغبر وکړ- هدایت هدایت ورته په خندا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ځوانیمرګې ! مړه نشې سمه داسمان شهزادګۍ ښکاری زه خبر وم چې دامیړنی خوارکی به په بلا ګرفتار وي-

-که دې ته ته بلا وایې نوتاخولا پخوا ځان په بلا ګرفتاره کړی دی-

-داښځې خوتورې بلاوې وي-

رڼا ورته خندل اوځه یې نه ویل ولې دهدایت هدایت خوله ټولوته معلومه وه چې چندان په واک کې نه وه ، درڼا له خوانه راغی اوتره کي سره ودرېده ، وروسته یې ورته وویل راځه چې دابل د....... زوی خوهم په خوشحالۍ کې راګډ کړو - موبایل یې له جیب نه راوویست اوپلټونکي ته یې زنګ وواهه ، له څو متواترو زنګونو نه وروسته هغه موبایل وچت کړ دهوټل دصالون دشورنه پلټونکی پوه شو چې هدایت هدایت په کوم واده کې دی ، له سترې مشې نه وروسته هدایت هدایت پرې درڼا دواده زېری وکړاو ورزیاته یې کړه:

-بچو همدا اوس په میدان کې ګډیمه، ماویل چې تاهم راسره په دې خوشحالۍ کې راشریک کړمه-

-زه پوهېدمه چې یوه ورځ به هم داسې غړ را باندې کوې ،خوله دې چېرې په ژوندکې په سمو خبرو نه ده خلاصه شوې ،ټل چټیات وایې او دغم زیري راوړې - داواده دې تاته مبارک شي ،ته پکې ګډېږه، زه دومره وزګارنه یمه-

-نه چې په کلمودې سم درددی ،خېرته به تشناب ته لاړشې، دومره مې درته ویل چې نوردې زړه ټول کړه اوستادپلټنې موقعه نوره ختمه شوه خوتره کی مې ترڅنګ ولاړدی هغه وایې چې خپله دنده دې سمه نه ده ترسره کړې-

واده ګرم روان و دشپې په یوولسو بجو مېلمنوته ډوډۍ ورکړل شوه دمیړني خدای پرده وکړه کنه نو تره کي اوهدایت هدایت په شرمونو شرمولی و - دشپې په دولسو بجو میړني رڼا ترلاسه نیولې په ښکلي ګل پوشه کرولا کې ترڅنګ کېنوله ،په دې وخت کې تره کي اوهدایت هدایت په ډېرې مایوسۍ اوحسرت سره دلاس په ښورولو دهغوی موټر بدرګه کاوه-

....................

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوه دېرشم څپر

فرحناز دمېلمنوکوټې ته دسباناري چای اوپه غوریوکې پخې تودې تودې پراټې وېوړې -میلمنې هم په مزه مزه ددسترخوان خواته رانژدې شوې - دفرحناز مور له فرحناز نه درنا پوښتنه وکړه چې چای یې وروړي دي اوکه نه ؟ فرحناز ورته وویل چې لانیمه گیتنه کیږي چې سباناری مې وروړی - فرحناز دمېلمنوله چاي ورکولوڅخه وزگاره شوه ،هغه د رنا او میرني کوټې ته ورغله ، دروازه یې ورو وډبوله که څه هم دروازه یوازې پورې وه، بنده نه وه خوبیاهم میرنی ورته مخې ته راغی اوفرحناز یې دننه وروبلله ،رنا نن سهاربل شان ځلېده، هغه ښکلې وه خونن سهار یې ښکلا یوپه دوه شوی و- درنا په سترگوکې حیا تله راتله ، فرحناز هم پرې پوه شوه میرني له فرحناز نه دامرخېل تپوس وکړ هغې ورته وویل چې له مېلمنو سره ناست دی - میرني په فرحناز باندې امرخېل راوغوښت - امرخېل درنا دنکاح پلارهم جوړ شوی و، میرني ورڅخه منته وکړه ، وروسته یې ورڅخه اجازه وغوښته چې نورورته رخصت ورکړي- امرخېل ورته ټینگ و چې څوشپې دې رنا سره پاتې شي خومیرني خپله وظیفه پلمه کړه- هغه اوس پوهیده که نن ماښام یې دلته تېر کړ نودهدایت هدایت اوتره کي په کومه بله ډرامه کې راگیرېږي ، نوښه به داوي چې ینېې زرترزره له کابله وباسي - فرحناز هم درنا په تلو خپه شوه خواوس خوشحاله په دې وه چې هغه اوس یوازې نه بلکه دخپل دسر له سیوري سره دیو خوشحاله راتلونکي په لوري روانه وه - میرني دلومړي ځل لپاره رنا ته وویل:

-جنۍ ! پاڅه کالي دې راغونډ کړه چې نورله خیره سره کورته ځو-

دمیرني داخبره دومره په رنا ښه ولگېده چې له خوشحالۍ نه یې په سترگوکې اوښکې راغلې - درنا په لیدو فرحنازته هم ژړاورغله، دواړه دکوټې په منځ کې دامرخېل او میرني په مخ کې غاړه غړۍ شوې - رنا دومره ژړېده چې اندازه یې نه وه ،دجلال ابادترهډې پورې ټیکسي امرخېل ورته راوړی و- کله چې رنا په موټر کې کېناسته ،امرخیل دیوه مشر ورور اوپلارپه شان دمیرني په اوږه لاس کېښود اوهغه ته یې وویل چې رنا مې په تا اوالله سپارلې ،پام به ډېر ورباندې کوې - که څه مسئله دجمال اویا دبې بې له خوادرته جوړېده صرف ماته ټیلیفون وکړه زه درسره ولاړیمه - وروسته میرنی هم په موټرکې کېناست ،موټر روان شو، لا پناه شوی نه چې رنا ترشا فرحناز ته کتل ،وې لیدل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



امرخېل ورته ددرېدو اشاره کوي - موټروان موټر بیرته په شا راوست ،وې لیدل چې دفرحناز خور دبلاک له دهلیز نه راووته او بنګړیواله یې په غېږه کې راوړه - دوی ټول په خنداشول ،هغې رڼا ته په خندا وویل:

-اوس دې میړنی ترلاس کړ، دا، وړه خوردې درنه پاتې شوه....

رڼا ژړ بنګړیواله واخیسته اوپه غېږه کې یې ټینګه ونیوله- له هڅې نه ترتورخم پورې میړني یوه نوې کرولا دربس ونیوله -موټر چې له ماهیپر نه کوزېده ،رڼا چې دموټر دشاپه سیټ کې دمیړني په څنګ کې ناسته وه داسندره یې زمزمه کړه:

- اوپه ماهیپر مې اړوینه ......... یارمې ننګراری دی مورې مادرنه وړینه....

میړني هغه نورهم ځانته جوخته کړه او ورته یې وویل که نانی خبرشو نوسم به یې زړه خپه شي - رڼا ورته په ځواب کې وویل:

-غم مه کوه، بنګړیواله دې ژوندۍ وي ، دابه ور واده کړمه، لرې کیږي نه ستا باجه به شي

پای

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**